سلام پوهنتون
د شرعیاتو او قانون پوهنځی
د فقه او قانون د ماستری پروګرام

د افغانستان اسلامي امارت
د لوړو زده‌کړو وزارت
د علمي چارو معینیت

# د افغانستان د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون حکمونه د اسلامي فقهې په رڼا کې

(د ماسترۍ رساله)


محصل: عبدالهادي

لارښود استاد: وزیر محمد سعیدي


کال:

۱۴۰۳ هـ ش

د افغانستان اسلامي امارت
دلوړو زده کړو وزارت
د علمي چارو معینیت

سلام پوهنتون
د شرعیاتو او قانون پوهنځی
د فقه او قانون ماسترۍ برنامه

# د افغانستان د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون حکمونه د اسلامي فقهي په رڼا کې

ماسترۍ دورې رساله


محصل: عبدالهادي
لارښوداستاد: وزیر محمد (سعیدي)


کال: ۱۴۰۳ هـ ش

بسم الله الرحمن الرحيم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

### د فقه اوقانون دیپارټمنټ

### د ماسترۍ بورډ

---

# تــــصدیق نــــامــــه

ښاغلـی عبدالهادي د محبوب الهی زوی د ID: SH-MSF-s1400-886 نمبر لـرونکی، د فقـه اوقانـون د نهمي دورې محـصل د ماسـترۍ مرحلې رسـاله چې عنـوان یـې: د افغانسـتـان د ځمکولې د چارو د تنظیم د قانـون حـکمونه د اسلامـي فقهي په رنـا کـې

د سه شنبه ورځ په ۱۵ / ۱۲ /۱۴۰۲هـ ل نېټه یې په بریالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونې پر اساس د ۸۲ (نمرو په عدد) دوه اتیا (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید، له الله تعالی ځخه ورته د لازیاتي بریا غوښتونکي یو.

د حکم پلاوي اعضاء :

| شماره | داستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | سرمحقق سید حبیب شاکر | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | دکتور محمد ابراهیم صافی | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | استاد وزیر محمد سعیدی | لاربنود او دحکم پلاوي مشر | |

دماسترۍ د بورډ آمر................................ علمي مرستیال ................................

## مننليک

په لومړي سر کې د الله پاک ډېر زيات شکر او ستاينه کوم، چې ماته يې د شرعياتو پوهنځي د فقهې او قانون په برخه کې د ماسترۍ ترکچې د زده کړو د ترسره کولو توان او توفيق را په برخه کړ.

له وزارت تحصيلات عالي څخه مننه کوو، چې ځوان نسل ته يې د زده کړو زمينه برابره کړې.

همداراز د سلام پوهنتون شرعياتو پوهنځي، د فقه او قانون له ټولو محترمو استادانو څخه يوه نړۍ مننه کوم چې مونږ ته يې په دوه کلنه دوره کې په پوره اخلاص او ايمانداري سره درس راکړ او تل يي زمونږ د علمي کچې د لوړتيا لپاره پوره هڅه کړې.

بيا د خپل مهربان لارښود استاد وزير محمد (سعيدي) حفظه الله څخه د زړه له تله مننه کوم چې ماته يې زما د د[ رسالې لارښوونه وکړه او خپل ارزښتناک وخت يې راکړ او زما ليکنه يې وخت په وخت وکتله د لازمو اصلاحاتو او سمون لارښوونه يې راته هر وخت په ورين تندي او په ډيرې مينې سره کړې .

ورپسې د خپلې کورنۍ خصوصا له محترم پلار او عزتمندې مورکۍ څخه ډيره مننه کوم الله دې له دوی څخه راضي شي ، چې ماته يې د زده کړو زمينه برابره کړه، او هميش يي زه په خپلو دعاگانو کې ياد ساتلی يم.

د الله جل جلا له څخه غوښتنه کوم چې دا کوچنی خدمت زما او زما د کورنۍ او استاذانو لپاره يوه صدقه جاريه وگرځوي او د حشر په ورځ يې راته په حسناتو کې حساب کړي .

په درنښت

عبدالهادي

## لنډيز (خلاصه)

لکـه څرنګـه چـې انسـان الله جـل جلالـه يـو اجتماعـي مخلـوق پيـدا کـړی دی او دوی تـه يـې د ښـه ژونـد کولـو لپـاره خپـل پيغمـبران راليـږلي دي، تـر څـو د ښـو اعمالـو پـه تـرسره کولـو او د بـدو اعمالـو نـه د منـع کولـو لارې چـارې ور وښـايې او ځينـې داسـې مسـايل چـې د انسـانانو د ژونـد مختلـف اړخونـه تنظـيم کـوي؛ صـلاحيت او واک يـې بشـر تـه پرېښـودلی دی تـر څـو دوی فکـر وکـړي او د خپـل ژونـد د بهبـود پـه خـاطر داسـې قـوانين رامنځتـه کـړي چـې د اسـلامي فقهـي سره مخـالف نـه وي، نـو د افغانسـتان د ځمکـوالۍ د چـارو د تنظـيم قـانون هـم يـو د هغـو مهمـو قوانينـو څخـه شـمارل کيـږي چـې مـونږ يـې څېړنـې او تفصـيل تـه ضرورت لـرو ترڅـو د ځمکـوالۍ د چـارو د تنظـيم د قـانون پيژندنـه ، د ځمکـوالۍ د چـارو د تنظـيم د قـانون تاريخچـه ، د ځمکـوالۍ د چـارو د تنظـيم د قـانون مقايسـه لـه اسـلامي فقهـي سره او داسـې ډېـر نـور موضـوعات چـې د ځمکـوالۍ د چـارو د تنظـيم د قـانون اړونـد دي، بايـد د اسـلامي فقهـې پـه رڼـا کـې وڅېـړل شـيچې پـه دې ترتيـب ددې څېړنـې پـه وسـيله ددې قـانون ( د افغانسـتان د ځمکـوالۍ د چـارو د تنظـيم پـه قـانون کـې چـې کـوم تعريـف د ملکيـت لپـاره ذکـر شـوی دی ، پـه هغـو کـې عقـار لفـظ ذکـر شـوی دی ، خـو پـه اسـلامي فقه کـې چـې کـوم تعريـف د ملکيـت ذکـر شـوی دی ، پـه هغـو کـې د عقـار لفـظ نـه دی ذکـر شـوی ، د اسـلامی فقهـې پـه تعريـف کـې لـه منفعـت او عـين څخـه ګټـه اخيسـتنه ذکـر شـوي ده ، چـې دا پـه خپله پـه عقـار کـې شـامليږي، بـل دا چـې پـه دغـه جملـه کـې چـې پـه دغـه عقـار کـې يـوازې مالـک تصرف کولای شي ، اسلامي فقه او قانون يو شانته دي.

پـه مـال کـې د غيـاب موجوديـدلو مسـله دافغانسـتان پـه مـدني قـانون کـې نـه ده څرګنـده، دافغانسـتان پـه مـدني قـانون کـې هـم ورتـه مسـله نشـته اوټولوفقهاووکـه سـني وي اوکـه شـيعه، پـه دې اړه ډېـر بحثونـه کـړي دي، خـو د افغانسـتان پـه مـدني قـانون کـې دا موضـوع مطـرح نـه ده د دې مسـلې د حـل لپاره د مدني مسؤليت په قانون کې يوه نيمګړتيا شتون لري چې بايد تصويب شي.



**کليدي اصطلاحات**: ځمکه، اجاره، قانون، فقه، ملکيت، مالک، مشاع ځمکه او غصب.

# فهرست

## لومړی فصل


د افغانستان د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د ........................................................................ ٦

قانون پېژندنه او تاریخچه ........................................................................ ٦

لومړی مبحث: د افغانستان د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون پېژندنه: ........................ ٦

دویم مبحث: د افغانستان د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون موخې........................ ٧

درېیم مبحث: د افغانستان د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون تاریخچه ........................ ٩

لومړی مبحث: ځمکه........................................................................ ١٦

لومړی مطلب: په قانون کې د ځمکې پېژندنه........................................................ ١٦

دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د ځمکې پېژندنه ........................................................ ١٧

دوهم مطلب: د اسلامي فقهې په اساس د ځمکې ویش: ........................................ ٢٢

درېیم مطلب: د کورونو ویش: ........................................................................ ٢٢

درېیم مبحث: د ځمکو ملکیت ........................................................................ ٢٤

لومړی مطلب: په قانون کې د ملکیت پېژندنه........................................................ ٢٥

دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د ملکیت پېژندنه........................................................ ٢٦

لومړی په قرانکریم کې د ځمکې د ملکیت پېژندنه........................................................ ٢٦

دویم: په نبوي احادیثو کې د ځمکې د ملکیت پېژندنه:........................................ ٢٨

درېیم مطلب: د ځمکې د ملکیت اسباب ........................................................................ ٢٩

څلورم مبحث: د ځمکې مالک........................................................................ ٣٠

لومړی مطلب: په قانون کې د ځمکې د مالک پېژندنه........................................................ ٣٠

دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د ځمکې د مالک پېژندنه ........................................ ٣١

پنځم مبحث: ځمکه د عقار ملکیت په توګه........................................................ ٣١

لومړی مطلب: په قانون کې د ځمکې یا عقار پېژندنه ........................................................ ٣١

دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د عقارپېژندنه ........................................................ ٣١

شپږم مبحث: د ځمکې متصرف........................................................................ ٣٢

لومړی مطلب: په قانون کې د ځمکې د مُتَصَرِفْ پېژندنه ........................................ ۳۲
دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د ځمکې د مُتَصَرِفْ پېژندنه ........................................ ۳۳
اووم مبحث: د ځمکې میراث ........................................ ۳۳
لومړی مطلب: په قانون کې د ځمکې د ورثوو پېژندنه ........................................ ۳۶
دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د ورثوو پېژندنه ........................................ ۳۶
اتم مبحث: غیر کرنیزه ځمکه ........................................ ۳۷
لومړی مطلب: په قانون کې د غیر کرنیزي ځمکې پېژندنه ........................................ ۳۸
دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د غیرکرنېزي ځمکې پېژندنه ........................................ ۳۸
نهم مبحث: وَقْفِيْ ځمکه ........................................ ۳۹
لومړی مطلب: په قانون کې د وقفي ځمکې پېژندنه ........................................ ۴۰
دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د وقفي ځمکې پېژندنه ........................................ ۴۲
د وقف مشروعیت او جواز: ........................................ ۴۴
لسم مبحث: مَشَاعْ ځمکه ........................................ ۴۶
لومړی مطلب: په قانون کې د مَشَاعْ ځمکې پېژندنه ........................................ ۴۶
دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د مشاع ځمکې پېژندنه ........................................ ۴۷
یوولسم مبحث: د ځمکې مستَحِقْ ........................................ ۴۸
لومړی مطلب: په قانون کې د ځمکې د مستَحِق پېژندنه ........................................ ۴۸
لومړی درجه مستحق: ........................................ ۵۰
دویمه درجه مستحق: ........................................ ۵۰
دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د ځمکې د مستَحِق پېژندنه ........................................ ۵۱
دوولسم مبحث: بزگر ........................................ ۵۲
لومړی مطلب: په قانون کې د بزگر پېژندنه ........................................ ۵۳
دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې دبزگر پېژندنه ........................................ ۵۳
د بزگری تعریف د فقهاوو له نظره: ........................................ ۵۳
د بزگری حکم د فقهاوو له نظره: ........................................ ۵۴
د بزگری یا مزارعة د جواز حکم: ........................................ ۵۴

دیارلسم مبحث: د ځمکې اجاره ..................................................................... ۵۵
لومړی مطلب: د اجارې پېژندنه، د اجارې د مشروعیت دلایل ........................................ ۵۵
د اجارې د مشروعیت دلائل: ..................................................................... ۵۷
دوهم مطلب: په قانون کې د اِجَاْرِېْ پېژندنه .................................................... ۵۷
دریم مطلب: د ځمکوالی د چارو د تنظیم په قانون کې د ځکمې د اجارې د ټاکلو موده او ندازه ........ ۶۱
د حق الاجارې اخیستل ........................................................................ ۶۲
د حق الاجارې په اندازه کې زیاتوالی .............................................................. ۶۲
د اجارې د قرارداد د فسخ حالتونه ................................................................ ۶۳
د اجاره اخیستونکې مړینه او د اجارې ورکونې منع ................................................ ۶٤
د اجارې په هکله د اختلافاتو حل ................................................................ ۶۵
څورلسم مبحث: د ځمکې غصب .................................................................. ۶۶
لومړ ی مطلب: په قانون کې د غصب پېژندنه ..................................................... ۶۶
دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د غصب پېژندنه ................................................. ۶۹
د غصب حرمت: ............................................................................... ۷۰
د غصب حرمت د رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو: ...................................... ۷۱
پنځه لسم مبحث: د ځمکې قباله ................................................................. ۷۲
لومړی مطلب: په قانون کې د قبالې پېژندنه ...................................................... ۷۲
لومړی مبحث: د اسلامي فقې په رڼا کې د وقفي ځمکو څېړنه ...................................... ۷۵
الف: د ځمکې د غاصب مجازات: ................................................................ ۹٤
پایله ......................................................................................... ۱۰۰
مناقشه ....................................................................................... ۱۰۲
وړاندیزونه ................................................................................... ۱۰٤
د قراني ایتونو فهرست ......................................................................... ۱۰۶
د نبوي احادیثو فهرست ........................................................................ ۱۰۷
مأخذونه ...................................................................................... ۱۰۸

# د څېړنې اړتیا او مخینه

## د څېړنې اهمیت:

په اوسني وخت کې د دې څېړنې ترسره کول ځکه ډېر مهم دی، چې په افغاني ټولنه کې ډېرې خلک داسې دي چې د دولتي املاکو څخه په ناقانونه او غیر مشروع ډول استفاده کوي او غصب کوي یې،او بې بندوباره دولتي املاک د خلکو له لوري د غیرقانوني تصرفاتو ښکار ګرځي او ډېرې افراد داسې شتون لري چې ناقانونه د ملکیتونو څخه استفاده کوي او د ښاړو ځمکو د ابادولو په نوم دولتي املاک رانیسي او ودانۍ په کې جوړوي او د خپل شخصي ملکیت په نوم پکې مالکانه تصرفات ترسره کوي، نو ددې لپاره چې د املاکو ویشنه په وضاحت سره روښانه شي چې دولتي املاک، شخصي املاک کوم دي؟او د هغې لپاره قضائي او شخصي ویش روشونه روښانه شي نو دا لیکنه مهمه اواړینه ده .

## د څېړنې اهداف(موخې)

د اسلامي فقهې په رڼا کې د افغانستان د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون د احکامو څېړنې څخه زما موخې په لاندې ډول دي:

۱: د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون د احکامو څخه د اسلامي فقهې په رڼا کې د دې قانون د احکامو روښانه کول.

۲: په افغانستان کې د قانون ګذارۍ په برخه کې د اسلامي شریعت اهمیت څرګندول.

۳: د هیواد د قانون ګذارۍ څخه د تقنین په برخه کې په کلکه دفاع کول .

۴: د اسلامي فقهې هغه ستر منزلت روښانه کول چې د علومو لپاره ډېر احکام پکې شتون لري.

۵: مقننینو د تقینن په برخه کې د دې جرئت ورکولو ته د قانون جوړونې په هره عرصه کې د اسلامي فقهې رعایت وکړي.

## تېرو لیکنو ته منطقي کتنه

ما د امکان ترحده سعي او جهد وکړو چې داسې کومه لیکنه یا رساله پیدا کړم ، چې په هغې کې د دې قانون داحکامو توضیحات شوي وي مګر کوم مستند سند په لاس رانغلو ، نو بیا مې د دې لپاره کوشش وکړ چې هغه لیکنې چې د دې احکامو په تړاو په انفرادي ډول کومه لیکنه شوي وي هغه پیدا کړم چې د هغې له جملې څخه د لاندې کتابونو یادونه کوم .

۱: شیخ وزیر مُحَمَّد سعیدي ،۱۴۱۴ھ ق ، احیاء الارض الموات واثره في التنمیة الاقتصادیة ، چې په دې کې د ښارو ځمکو د ابادولو اړوند مسایل او د علماوو اختلافات راخیستل شوی دی.

۲: مولوي احمدګل ، (۱۳۸۱ھ) شرح مجلة الاحکام العدلیة ، چې د دې ماخذ څخه ما د موضوع اړوند داحیاء الموات موضوع په تړاو معلومات را أخیستی او په خپله رساله کې یې ځای پر ځای کړی.

۳: د افغانستان د څر ځایونو قانون ،۱۴۳۱ھ ق ، د عدلیې وزارت رسمي جریده ، چې د دې قانون څخه زه د رسالې اړوند د څرځایونو څخه د استفادې اړوند معلومات راغونډ کړی دی.

۴: عبیدات رافع الفندي ،۲۰۰۹ م ،فقه المعاملات علی مذهب ابي حنیفة ، چې د دې څخه زه د معاملاتو اړوند مسایل راخیستی او د هغې څخه یادونه کړی.

۵: سیدسابق ،۱۳۶۵ھ ق ، فقه السنة ، په دې کې د احیاء الموات اړوند مسایلو څخه استفاده شوي ده.

## د څېړنې پوښتنې

دڅېړنې اړوند داسې پوښتنې مطرح کیږي چې هغه پوښتنې باید د رسالې په داخل کې ځواب شي او څېړونکی باید دهغې په ځوابولو باندې دمتن په داخل کې وتوانیږي دهغه پوښتنو یادونه په لاندې ډول کوم .

## اصلي پوښتنې

۱: دځمکوالۍ دچارو دتنظیم قانون کوم احکام په خپل منهج کې لري ؟

۲: دځمکوالۍ دچارو دتنظیم احکام داسلامي فقهې سره مشابه دي اوکنه ؟

## فرعي پوښتنې

۱: داسلامي فقهي د احکامو په رڼا کې د قانون تحلیل کوم طرز العمل لري ؟

۲: د قانون او فقهي احکامو ګټې او نواقص به د فقهي حکم پر بناء څه وي ؟

## د څېړنې کړنلاره

دا چې هره موضوع د یو ځانګړي اسلوب په پام کې نیولو سره ترسره کیږي نو پرهمدې اساس ماهم د فقه او قانون ماسترۍ برنامې له خوا ټاکل شوې کړنلارې سره سم خپله دا لیکنه عیاره کړه چې په لاندي نقاطو ورڅخه یادونه کوم.

۱: د قرانکریم ماخذ لیکنه په حاشیه کې په ترتیب سره لیکلی چې په هغې کې سورة او د هغې ایت په واضحه ډول روښانه شوی دی.

۲:د احادیثو تخریج مو په حاشیه کې د جلد او صفحې یادونې سره ذکر کړی دی او په لومړي ځل مو کتاب پورته معرفي کړی دی ، لومړی د لیکوال نوم ، د چاپ کال ، کتاب نوم ، محقق ، چاپ ځای او په پای کې جلد او صفحه مو لیکلی.

۳: د قانون او فقهي کتابونو مأخذونه په حاشیه کې ذکر کړی.

۴: مشکل اومغلق کلمات په حاشیه کې توضیح کړی.

۵: هر کله چې د کوم راوي نوم یاد شوی که هغه په عجمې نړۍ کې غیر معروف وي د هغې د تعریف لپاره په حاشیه کې ځانګړې تعریف کړی.

۶: هر مؤلف ته د هغه لیکنه منسوب کړی او د ادبي سرقت څخه په کامله معناځان ساتلی دی.

۷: د موضوع په پای کې پایله ، وړاندیزونه او مأخذونه ذکر کړی.

# مقدمه

إِنَّ الْحَمْدَ لِلهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ ، وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهُ ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلاَ هَادِىَ لَهُ ، وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ. قال الله تبارک وتعالی في کتابه الكريم : وَاللَّهُ الَّذِي أَرْسَلَ الرِّيَاحَ فَتُثِيرُ سَحَابًا فَسُقْنَاهُ إِلَى بَلَدٍ مَّيِّتٍ فَأَحْيَيْنَا بِهِ الأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا كَذَلِكَ النُّشُور. سورة فاطر ،اية ۹

وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم من أحياء ارضاً ميتة فهي له. ([١])

ژباړه : رسول الله علیه وسلم فرمایلي دي چا چې شاړه ځمکه اباده کړه چې مخکې دچا ملکیت نه وي نو دا ددي شخص ملکیت دی.أما بعد:

زموږ په ګران هېواد د پردیو یرغلونو او څو کلنیو تپل شویو جګړو له امله هر څه ته زیان اوښتی دی، ډېری وطنوالو د دغو تپل شویو جګړو له امله وطن پرېښود او مهاجرت ته یې غاړه کېښوده، په کلي وطن کې ترې د پلار، نیکې ځمکې او جایدادونه پاتې شول، یاد جایدادونه پر سر پرې د خپلو خپلوانو لانجې او حقوقي موضوعات رامنځته شول، یا همدارنګه د اجارې او خپلو ورونو او خویندو ترمنځ په میراث اړوند موضوعاتو حقوقي شخړې رامنځته شوي، یا همدرنګه د حکومت او ملت ترمنځ په ځېنو ځمکو شخړې رامنځته شوې، یا همدارنګه د څو ملیتونو ترمنځ شخړې رامنځته کېدې، چې د دغو شخړو د حل لپاره په افغانستان کې د بېلابېلو نظامونو له خوا قوانین رامنځته شوي دي، چې یاد موضوعات به پرې حل و فصل کېدل، ما هڅه وکړه چې د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون د اسلامي فقهې په رڼا کې وڅېړم، هره موضوع لومړی په قانون کې پېژندل شوې دي او بیا داسلامي فقهې په رڼا کې څېړل شوې ده. قانون پېژندنه، تاریخچه یې، د قانون موخې، په قانون کې د اصطلاحاتو پېژندنه، په قانون کې د ځمکې پېژندنه، په اسلامي فقه کې د ځمکې پېژندنه، ملیکت په قانون کې ورپسې بیا ملکیت په اسلامي فقه کې څېړل شوی دی، په قانون کې متصرف چاته ویل کېږي همدارنګه په اسلامي شریعت کې متصرف څوک دی. ورثه، وقفي ځمکې، مشاع ځمکه، مستحق، بزګر، اجاره، غصب دا ټول موارد په په لومړي سر کې په قانون کې څېړل شوي دي او بیا ورپسې هره موضوع په اسلامي فقه کې تر څېړنې لاندې نیول شوې ده، دا چې افغانستان یوه اسلامي ټولنه ده، نو په یاده ټولنه کې د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی، چې ځمکوالۍ

---

[١] محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخاري، أبو عبد الله (وفات: ٢٥٦هـ) الجامع الصحيح المسند من حديث رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه (صحيح البخاري) (٨/ ١٤٤)

چارو د تنظیم قانون د اسلامي فقهې په رڼا کې څېړل شوی دی، چې ترڅو زموږ د قانون پوهان او لوستونکي او همدارنګه د اسلامي شریعت فارغان او لوستونکي دواړه ترې ګټه پورته کړي. همدارنګه څېړنیزه پوښتنه، چې آیا د څمکوالۍ چارو د تنظیم قانون د اسلامي فقهې سره مشابه دي او که نه؟ د څېړنې په پوره کېدو سره بشپړه ځواب شوه، چې د یاد قانون ټول موارد د اسلامي فقهې سره مشابه دي.

د دې څېړنې موخه دا ده چې د اسلامي فقهې په رڼا کې د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون احکام روښانه او وڅېړم، چې ان شاء الله د څېړنې په پای کې وڅېړل شول، همدارنګه بله موخه چې د اسلامي فقهې منزلت دی، هغه هم د دې څېړنې په پای کې ترلاسه شوی دی، زما دا څېړنه یوه کتابتونې څېړنه ده، د بېلابېلو حقوقي، قانوني او اسلامي فقهې کتابونه څخه مې استفاده کړې ده، پوره هڅه مې کړې ده، چې په څېړنه کې د بې طرفۍ ته پاملرنه وکړم، د هرپاراګراف په پای کې مې ماخذ ذکر کړی دی، همدارنګه د څېړنې مشکل او مغلق لغتونه مې په حاشیه کې ذکر کړي دي، یادونې وړ ده چې دا په خپل ذات کې نوې څېړنه ده، چې تر ټولو غټه ستونزه په کې د قانوني کتابونو نه شتون و، چې پیدا کولو یې سرګردانه کړم.

# لومړی فصل

# د افغانستان د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون پېژندنه او تاریخچه

## لومړی مبحث: د ځمکوالی چارو د قانون پېژندنه:

### لومړی مطلب: د افغانستان د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون پېژندنه:

افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون یوه مهمه او بنسټیزه ساحه ده چې د هیواد د اقتصادي، ټولنیزې او چاپیریالي پرمختګونو کې رول لري.

دغه قانون د ځمکو د تنظیم، پراختیا او مناسبې ګټې اخیستنې لپاره د جوړېدو مختلف پړاوونه تیر کړي چې په لاندې ډول یې واضح کوو:

د افغانستان د ۱۳۸۲هـ ش کال د اساسي قانون د (۷۹) مادې د حکم له مخې، د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په (۱۳۹۲)هـ ش کال د وري میاشتنې په (۲۲) مه نېټه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، عدلیې وزارت رسمي جریدې فوق العاده پرلپسې (۱۲۵۴) ګڼه کې خپور شوی دی، چې (۱۳) دیارلس فصلونه او (۱۱۹) مادې لري، چې په لومړي فصل کې عمومي حکمونه ځای پرځای شوي دي، په دویم څپرکي کې یې د ځمکې د چارو تنظیم ته ځای ورکړل شوی دی، په درېیم څپرکي کې یې د ځمکو او ملکیتونو د اعتبار وړ سندونه ځای پرځای شوي دي او په څلورم څپرکي کې یې د کدستر سروې او د مالکیت د حق تثبیت موضوع ته ځای ورکړل شوی دی، په پنځم څپرکي کې یې د ځمکې تصفیې اړوند موضوع ځای پرځای شوي دي، په شپږم څپرکي کې یې د ځمکې استرداد ځای پرځای شوې ده، په اووم څپرکي کې یې د ځمکې مستحقین موضوع ته ځای ورکړل شوی دی، اتم څپرکی یې د ځمکې وېش ته ځانګړی شوی دی، نهم څپرکی یې د ځمکې او ملکیتونو انتقالات او تحولاتو ته ځانګړی شوی دی، لسم څپرکی یې د ځمکو او ملکیتونو اجارې ته ځانګړی شوی

دی، یوولسم څپرکی د ځمکې غصب ته ځانګړی شوی دی، دوولسم څپرکی یې جزایي حکمونه دي او په دیارلسم څپرکي کې یې متفرقه حکمونه ځای پرځای شوي دي. ([1])

**دویم مطلب: د افغانستان د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون موخې**

د ځمکوالۍ چارو د تنظیمولو قانون د هېواد د ځمکوالۍ نظام د غوره او ګټور مدیریت په موخه یو موخې ټاکلي دي، چې په لاندې ډول دي:

۱. په هېواد کې د ځمکوالۍ چارو تنظیمول.

۲. د ځمکوالۍ د اړوندو پالیسیو له پلي کولو د راپورته شوې ستونزې هوارول.

۳. د غصب شویو ځمکو بېرته راګرځول.

۴. د هغو ځمکو بېرته راګرځول چې د شریعت او قانون پرخلا وېشل شوې وي.

۵. د کرنیزو، سوداګریزو، عامو خدماتو او صنعتي فعالیتونو په موخه دولتي ځمکو ته د قانوني لاسرسي زمینه برابرول او د بهرنیو او کورنیو پانګوالو راجلبول.

د ځمکوالۍ چارو د تنظیمولو قانون چې کومې موخې ټاکلي او وړاندوینه کړې دي، د نورو پخوانیو د ځمکوالۍ چارو د قوانینو په پرتله کمې او هر اړخیزې دي. که له یادو موخو څخه یې لومړۍ موخه وڅېړل شي نو ټول هغه موضوعات حلوي چې د ځمکې د مالکیت پورې اړه لري. لکه شخصي، دولتي، عامه او وقفي ځمکه، خو دا چې د دغه قانون تر انفاذ څخه وروسته یاده موخه څومره ترلاسه شوې ده، دا به قانون څارونکیو او د دې قانون تطبیقوونکي ته ښه روښانه وي، خو د دې پورته موخې اساسي او عمده ستونزې یادولای شو، لکه د ځمکې د ثبت، سروې، او تصفیې نه شتون، د عامه، دولتي، وقفي او حتی شخصي ځمکو نارسمي او بې پلانه پراختیا او غصب.

د یاد قانون دویمه ټاکل شوې موخه د ځمکې د ملي پالیسۍ په تصویب سره د هېواد د ځمکوالۍ د نظام لپاره چې د ځمکوالۍ د نظام ټول ګټور اړخونه یې څېړلي

---

۱. عدلیې وزارت، رسمي جریده (۱۳۹٦). پرلپسې (۱۲۵٤) ګڼه، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون.

دي، د یوه هر اړخیز او برخلیک ټاکونکي سند په توګه په تیوري کې او یو څه په عملي ساحه کې هم ترلاسه شوې ده.

د ځمکې د ملي پالیسۍ غوره پلي کول د هېواد د ځمکوالۍ نظام مخې ته پرتې ستونزې هوارې او زموږ هېواد د ګټور، غوره، روڼ او مثمر نظام لرونکی تضمینوي.

دریمه ټاکل شوې موخه چې د غصب شوو ځمکو بېرته راګرځول دي، لا هم یوه اساسي او لویه ستونزه ګڼل کېږي، چې اوس د اسلامي امارت د بیا واکمنېدو وروسته د امیر المؤمنین له خوا د ځمکو د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد مقرره د ۱۴۰۱هـ ق کال د لړم د میاشتې په (۱۴) مه نېټه خپره شوې ده، بېلابېلې دولتي ځمکې د غاصبینو څخه بېرته راګرځول شوي دي.

څلورمه ټاکل شوې موخه هم یو څه د قانون په لي کولو پورې تړاو لري چې لا هم د وخت د دقت ته اړتیا لیدل کېږي.

پنځمه ټاکل شوې موخه چې ځمکو ته قانوني لاسرسی ښودل شوی پرمختللې ده خو له اداري فساد سره د مبارزې او د پړاوونو د طی کولو لنډوالي او ساده والي ته په دې برخه کې جدي پاملرنې ته اړتیا شته. (۱)

۱. عدلیي وزارت. (۲۰۱٦م). د ملکیت حق. عدالت پروژه. ۵۷-۵۸مخ

**دریم مطلب: د افغانستان د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون تاریخچه**

د ځمکې او عقاري ملکیتونو په چوکاټ کې د غازي امان الله خان دورې ته ورګرځي، د افغانستان په حقوقي چوکاټ کې د ځمکې د نظام لومړی تقنیني سند د دولتي ځمکو د پلورلو له نظامنامې څخه پیلېږي چې په (۱۳۰۲/۲/۱۷هـ ش) خپور شوی دی، چې یاده نظامنامه دوه (۲) څپرکي لري او (۲۱) یوویشت مادې لري[1] چې بیا د کال په جریان کې ورسره درې (۳) نورې ضمیمې ور اضافه شوي دي. همدارنګه یو بل قانون چې د ځمکې د احصائیې او سروې قانون چې د افغانستان د پادشاهي دولت رسمي خپرونې (رسمي جریدې) په پرلپسې (۲۸) ګڼه چې په د جوزا په (۳۱) یوودیرشمه نېټه، په ۱۳۴۴هـ ش لمریز کال کې خپره شوې ده، چې (۸) اته څپرکي او اویا (۷۰) مادې لري، چې په لومړي څپرکي یې هدفونه عنوان ته ځانګړی شوی دی، دویم څپرکي یې اظهارپاڼې عنوان ته ځانګړی شوی دی، دریم څپرکي یې د ځمکو سروې ته ځانګړی شوی دی، څلورم څپرکي یې د املاکو تصفیې ته ځانګړی شوی دی، پنځم څپرکي یې د اضافه استحقاق ته ځانګړی شوی دی، شپږم څپرکي یې د دولت املاکو ته ځانګړی شوی دی، اووم څپرکي یې ورشوګانو ته ځانګړی شوی دی او په اتم څپرکي کې یې عمومي احکام ځای پرځای شوي دي. [2]

همدارنګه په (۳۱/وری/۱۳۵۵هـ.ش) کال کې د افغانستان د جمهوري دولت رسمي خپرونه (رسمي جریده) په دولسمه ګڼه کې د ځمکو د سروې، تصفیې او ثبت قانون خپور شوی دی، چې اووه (۷) څپرکي او (۱۰۲) یو سلو شپږ مادې لري، چې په لومړي څپرکي کې یې عمومي احکام ځای پرځای شوي دي، په دویم څپرکي کې یې اظهارنامه تر عنوان لاندې مواد ځای پرځای شوي دي، په دریم څپرکي کې یې د ځمکو د سروې چې دا بیا په دوو برخو وېشل شوې ده، لومړۍ برخه یې د کاداستر سروې او دویمه برخه یې نورې سروې ګانې تر عنوان لاندې ځای پرځای شوې ده،

---

۱. د ملکیت حق. (ب ت). ترتیب: چکي دفتر، حقوقو څانګه، عدالت پروژه، ٤٢مخ

۲. عدلیې وزارت، د افغانستان شاهدي دولت، د رسمي جریده پرلپسې. (۲۸). ګڼه خپرېدو نیټه ۳۱/جوزا/۱۳٤٤عدلیې وزارت ویب پاڼه.

څلورم څپرکی د ځمکو تصفیې ته ځانګړی شوی دی چې دا هم بیا په خپل وار سره په اووه (۷) برخو تفسیم شوې ده، لومړۍ برخه یې مقدماتي حکمونه دي، دویمه برخه یې د سندونو کره کوونه ده او درېیمه برخه یې د ځمکو مساحت دی، څلورمه برخه یې د ځمکې درجه ده، پنځمه برخه یې اضافه جریبې دي، شپږمه برخه یې مالیې ته ځانګړې شوې ده، اوومه برخه یې د دولت املاکو ته ځانګړې شوې ده، پنځم څپرکي کې یې د ځمکو ثبت موضوع ځای پرځای شوې ده، شپږم څپرکی یې جزاګانو ته ځانګړی شوی دی او په اووم څپرکي کیې متفرقه حکمونه ځای پرځای شوي دي (۱)، د یادونې وړ ده چې بیا په د **۱۳۵۵**هـ ش کال د سلواغې د میاشتې په (۲) مه نېټه، د رسمي جریدې په (۲۰) شلمه ګڼه پرلپسې (**۳۵۴**) مه ګڼه کې د ځمکو د اصلاحاتو د قانون لومړۍ ګڼه ضمیمه چاپ شوې ده، چې په یاده ضمیمه کې د (**۳**، **۷**، **۱۰**، **۱۲**، **۱۳**، **۲۲**، **۲۳** او **۳۲**) مادو کې تعدیلات ذکر شوي دي.

بیا په **۱۳۵۸** هـ ش کال د عقرب د میاشتې په (**۱۵**) مه نېټه د افغانستان دموکراتیک جمهوریت عدلیې وزارت په رسمي جریدې په پرلپسې (**۴۳۸**) مه ګڼه کې د ځمکو والۍ چارو د تنظیم قانون خپور کړ، چې یاد قانون اته (**۸**) څپرکي او (**۵۱**) مادې یې درلودې، چې د نوموړي قانون په لومړي څپرکي کې عمومي حکمونه عنوان ته ځای ورکړل شوی دی، دویم څپرکي کې یې د ځمکې رسمي سند عنوان ځای پرځای شوی دی، درېیم څپرکی یې د ځمکې د رسمي سند لیکل، ثبتول او وېشل موضوع ته ځانګړی شوی دی، څلورم څپرکی یې انتقالات او تحولات موضوع ته ځانګړی شوی دی، پنځم څپرکي کې یې د التزامات موضوع ته ځانګړې شوې ده او شپږم څپرکي کې یې د ځمکې اجاره موضوع ځای پرځای شوې ده، په اووم څپرکي کې جزایي حکمونو ته ځای ورکړل شوی دی او اتم څپرکي کې یې متفرقه حکمونه ځای پرځای شوي دي. (۲)

---

۱. عدلیې وزارت، د افغانستان د جمهوري دولت، رسمي جریده، پرلپسې (۳٤٦) ګڼه، د خپرېدو نېټه: ۳۱/وری/۱۳۵۵ هـ ش کال، عدلیې وزارت رسمي ویبپاڼه.

۲.عدلیې وزارت، رسمي جریده، پرلپسې ګڼه (٤۳۸)، ۱۳۵۸عقرب ۱۵

په ۱۳۶۲ د دلوې په ۲۲ مه نېټه د افغانستان جمهوریت، عدلیې وزارت، رسمي جریده مسلسل نمبر یې (۶۵۹) د ځمکې د اجارې مقرره د وزیرانو شورا له خوا تصویب شوه، چې څلور (۴) څپرکي او (۴۱) یو څلوېښت مادې لري، چې په لومړي څپرکي کې عمومي حکمونه ځای پرځای شوي دي، په دویم څپرکي کې یې د دولتي ځکې اجازې عنوان ځای پرځای شوی دی او په درېیم څپرکي کې یې د خصوصي ملکیت د ځمکې اجاره، په څلورم څپرکي کې یې وروستي حکمونه ځای پرځای شوي دي.[1]

همدارنګه په ۱۴۲۱هـ ق کال د شوال المکرم د میاشتې په دولسمه نېټه، د افغانستان اسلامي امارت عدلیې وزارت په لومړۍ دومره کې د ځمکو په اړه یو قانون د رسمي جریدې په (۷۹۵) ګڼه کې خپور شو، چې د افغانستان اسلامي امارت د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په نامه یادېږي، نوموړی قانون دولس (۱۲) څپرکي او (۱۱۳) یو سلو دیارلس مادې درلودې، نوموړی قانون د وخت د امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد په (۳۵) پنځه دیرشمه ګڼه فرمان توشیح شوی دی.

لومړی څپرکي کې یې عمومي احکام ځای پرځای شوي دي، دویم څپرکی یې ځمکې د ملکیت مدار حکم سندونو ته ځانګړی شوی دی، په درېیم څپرکي کې یې د ځمکې تصفیې موضوع ځای پرځای شوې ده، څلورم څپرکي کې یې ځمکوالو ته د اخیستل شوو ځمکو استرداد موضوع ته ځانګړی شوی دی، په پنځم څپرکي کې یې مستحق موضوع ځای پرځای شوې ده، شپږم څپرکی یې د ځمکې توزیع ته ځانګړی شوی دی، اووم څپرکی یې د ځمکې انتقالات او تحولاتو موضوع ته ځانګړی شوی دی، اتم څپرکی یې د ځمکې اجارې ته ځانګړی شوی دی، په نهم څپرکي کې یې د مرعې او وقفي ځمکو ساحه ته ځانګړی شوی دی، لسم څپرکی یې د بکر او بایر

۱.عدلیې وزارت. (۲۲/دلوه/۱۳۶۶) .د افغانستان جمهوریت، رسمي جریده پرلپسې ګڼه (۶۵۹) خپرونکی: کابل: عدلیې وزارت د نشراتو څانګه.

(موات) ځمکو وېش ته ځانګړې شوې دي، په لسم څپرکي کې يې جزايي احکام دي او دولسم څپرکي کې يې نهايي احکام ځای پرځای شوي دي. [1]

په ۱۳۸۷هـ ش کال د زمري د مياشتې (۱۰) مه نېټه د افغانستان اسلامي جمهوريت، عدليې وزارت په رسمي جريده فوق العاده ګڼه پرلپسې (۹۵۸) ګڼه کې د ځمکوالۍ چارو د تنظيم قانون د وخت د ولسمشر حامد کرزي له لوري د (۲۲) ۱۳۸۷/۴/۳۱ګڼه فرمان له مخې توشيح شو، چې نوموړي قانون يوولس (۱۱) څپرکي او پنځه نوي (۹۵) مادې درلودې، چې په لومړي څپرکي کې يې عمومي احکام ځای پرځای شوي دي، په دويم څپرکي کې يې د ځمکې د ملکيت مدار حکم سندونه عنوان ځای پرځای شوی دی، درېيم څپرکی يې د ځمکې تصفيې ته ځانګړی شوی دی، څلورم څپرکی يې ځمکوالو ته د اخيستل شوو ځمکو استرداد موضوع ته ځانګړی شوی دی، په پنځم څپرکي کې يې د مستحقينو موضوع ځای پرځای شوې ده، شپږم څپرکی يې د ځمکې وېش ته ځانګړی شوی دی، اووم څپرکی يې د ځمکې لېږد بدلونې او تحولاتو موضوع ته ځانګړی شوی دی، په اتم څپرکي کې يې د ځمکې اجارې عنوان ځای پرځای شوی دی، په نهم څپرکي کې يې د مرعي او وقفي ځمکو ساحه تر عنوان لاندې موضوع ځای پرځای شوې ده، په لسم څپرکي کې يې جزايي حکمونه ځای پرځای شوي دي او يوولسم څپرکی يې نهايي حکمونو ته ځانګړی شوی دی. [2]

د ۱۳۹۷ هـ ش کال د ليندۍ د مياشتې په (۱۷) مه نېټه د افغانستان اسلامي جمهوريت، د عدليې وزارت، رسمي جريدې فوق العاده پرلپسې (۱۳۲۵) ګڼه کې د ځمکې د پرمختيا د شرکت قانون خپور شوی دی، چې نوموړی قانون شپږ (۶) څپرکي او شپږ څلوېښت مادې (۴۶) لري، چې په لومړي څپرکي کې عمومي حکمونه ځای پرځای شوي دي، په دويم څپرکي کې يې د شرکت ملکيت، د هغه فعاليت، موخې

1. د افغانستان اسلامي امارت، عدليې وزارت. (۱٤۲۱هـ ق) پرلپسې ګڼه (۷۹۵). د افغانستان اسلامي امارت د ځمکوالۍ چارو د تنظيم قانون.

2. د افغانستان اسلامي جمهوريت، عدليې وزارت. (۱۳۸۷هـ ش) پرلپسې ګڼه فوق العاده ګڼه(۹۵۸). د ځمکوالۍ د چارو د تنظيم قانون.

دندي او واکونه موضوع ته ځانګړې شوې دي، په دریيم څپرکي کې يې د مشارکت توافق ليک او د هغه شرايط او محتوی عنوان ځای پرځای شوی دی، څلورم څپرکی يې د ځمکې د پرمختيا د شرکت د مالکيت لېږد او د هغه د تابعه (فرعي) شرکتونو د تاسيس ډول موضوع ته ځانګړې شوې دي، په پنځم څپرکي کې يې د ځمکې د پرمختيا شرکت مديريت، تشکيل او مالي چارې موضوع ځای پرځای شوې ده، شپږم څپرکی يې وروستي حکمونو ته ځانګړې شوې دي، نوموړی قانون د لاندې موخو لپاره توشيح او نافذ شوی دی:

۱. په ټول هېواد کې د اقتصادي ودې او پراختيا د بهير پياوړتيا او چټکتيا.

۲. د هېواد د اتباعو د ګټې د تامين په غرض له دولتي ځمکو څخه اغېزمنه ګټه اخيستنه.

۳. د ځکمې د پرمختيا د شرکت په واسطه د ټولنيز مسکن د پراختيا لپاره د ميکانزيم رامنځته کول.

۴. د دولتي ځمکو د ارزښت د لوړولو په برخه کې د فعاليت او د ځمکې د پراختيا له لارې د دولت د ټوليزې پاليسۍ د موخو د تحقق په منظور د دولتي شرکت په توګه د ځمکې د پرمختيا د شرکت تاسيس.

۵. د ځمکې د پرمختيا د شرکت او د هغه د تابعه (فرعي) شرکتونو په واسطه د دولتي ځمکو د تملک د پروسې تنظيم.

۶. د تابعه (فرعي) شرکتونو د تاسيس، د دولتي او خصوصي ګډو پانګونو او د جنسونو او خدمتونو د تدارک له لارې د ځمکې د پرمختيا د شرکت د ملکيت د پراختيا د پروسې تنظيم.

۷. د ځمکې د پرمختيا د شرکت د ملکيت په اداري او ګټې اخيستنې پورې د اړوند چارو تنظيم.[1]

---

۱. د افغانستان اسلامي جمهوريت، د عدليې وزارت. (۱۳۹۷هـ ش). رسمي جريده فوق العاده ګڼه پرلپسې (۱۳۲۵) ګڼه.

په (۱۳۹۲)هـ ش کال د وري میاشتنې په (۲۲) مه نېټه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت، عدلیې وزارت رسمي جریدې فوق العاده پرلپسې (۱۲۵۴) ګڼه کې د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون خپور شوی دی، چې (۱۳) دیارلس فصلونه او (۱۱۹) مادې لري، چې په لومړي فصل کې عمومي حکمونه ځای پرځای شوي دي، په دویم څپرکي کې یې د ځمکې د چارو تنظیم ته ځای ورکړل شوی دی، په درېیم څپرکي کې یې د ځمکو او ملکیتونو د اعتبار وړ سندونه ځای پرځای شوي دي او په څلورم څپرکي کې یې د کدستر سروې او د مالکیت د حق تثبیت موضوع ته ځای ورکړل شوی دی، په پنځم څپرکي کې یې د ځمکې تصفیې اړوند موضوع ځای پرځای شوي دي، په شپږم څپرکي کې یې د ځمکې استرداد ځای پرځای شوې ده، په اووم څپرکي کې یې د ځمکې مستحقین موضوع ته ځای ورکړل شوی دی، اتم څپرکی یې د ځمکې وېش ته ځانګړی شوی دی، نهم څپرکی یې د ځمکې او ملکیتونو انتقالات او تحولاتو ته ځانګړی شوی دی، لسم څپرکی یې د ځمکو او ملکیتونو اجارې ته ځانګړی شوی دی، یوولسم څپرکی د ځمکې غصب ته ځانګړی شوی دی، دوولسم څپرکی یې جزایي حکمونه دي او په دیارلسم څپرکي کې یې متفرقه حکمونه ځای پرځای شوي دي.(۱)

د اسلامي امارت د بیا ځل واکمنۍ پرمهال، د افغانستان اسلامي امارت ،عدلیې وزارت د ۱۴۴۴هـ ق کال د ربیع الاول د میاشتې په (۱۰) مه نېټه چې د ۱۴۰۱هـ ش کال د لړم د میاشتې (۱۴) مې نېټې سره سمون خوري په خپله رسمي جریده پرلپسې (۱۴۲۴) ګڼه کې د ځمکې د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد مقرره خپره کړې ده. نوموړې مقرره څلور (۴) فصلونه او (۲۱) یوویشت مادې لري، چې چې په لومړي څپرکي کې یې عمومي حکمونه، په دویم څپرکي کې یې د غصب شویو ځمکو

---

۱. عدلیې وزارت، رسمي جریده (۱۳۹۶). پرلپسې (۱۲۵٤) ګڼه، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون.

ته رسیده ګي، دریېیم څپرکي کې یې د غصب شویو ځمکو ته د رسیده ګۍ په اړه اجراات او څلورم څپرکي کې یې وروستي حکمونه ځای پرځای شوي دي. (1)

له (۱۳۰۲هـ ش) کال څخه تر (۱۴۰۲هـ ش) کال پورې په لسګونو تقیننی اسناد رامنځته شوي دي، چې یاد اسناد د وخت نظامونو د عالي مقام پالیسۍ، قانون، فرمانونه او حکمونه، مقررې، کړنلارې، د سترې محکمې او وزیرانو شورا او جمهوري اسلامي افغانستان د کابینې مصوبې او هغه اړوند تعدیلات رانغاړي. د یادولو وړ ده چې له یادو تقنیني اسنادو ځینې د وخت له مفکورو اغېزمن شوي وو او ویې نه شو کولای چې د هېواد د ځمکوالۍ د نظام اداره کولو لپاره ګټور، هر اړخیز او اغېزناک حقوقي چوکاټ رامنځته کړي، دغه حقیقت ته په کتو سره چې په افغانستان کې ځمکې د بېلابېلو تقنیني اسنادو په واسطه اداره کېږي، چې ځینې له ځمکې سره مستقیم او ځینې یې غیر مستقیم تړاو لري.

---

۱. د افغانستان اسلامي امارت، عدلیې وزارت. (۱٤٤٤هـ ق، ربیع الثاني ۱۰/د ۱٤۰۱هـ ش/لړم/۱٤). پرلپسې نمبر (۱٤۲٤). د ځمکو د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد مقرره.

## دویم فصل

## د افغانستان د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون د اصطلاحاتو څېړنه د اسلامي فقهې په رڼا کې

### لومړی مبحث: ځمکه

موسوعة الفقهیة کې وایي: (هِيَ الّتِي عَلَيْهَا النّاسُ) ځمکه هغې سطحې ته وایي، چې خلک پرې هستوګنه کوي. (1)

### لومړی مطلب: په قانون کې د ځمکې پېژندنه

د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون، په لومړي فصل چې عنوان یې عمومي حکمونه ورکړل شوی دی، په دریمه ماده کې د دې قانون اړوند اصطلاحات راپېژندلي دي، چې ځمکې ته یې په لاندې ډول تعریف کړی دی:

ځمکه: د ځمکې ټول هغه ډولونه په کې شامل دي چې په دې قانون کې یې وړاندوینه شوې ده، خو په همدې قانون کې ځمکه په لاندې ډولونو وېشل شوې ده، چې عبارت ده له: کرنیزه ځمکه، صالح الزراعه ځمکه، نیمه کرنیزه ځمکه، غیر کرنیزه، بکره ځمکه، بایره ځمکه، وقفي ځمکه، مشاع ځمکه، دولتي ځمکه، شخصي ځمکه، عامه ځمکه، مرعی ځمکه، عامه مرعی ځمکه او خاصه مرعی ځمکه. (2)

---

۱. وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الكويت،طبع كال: ( ١٤٠٤ - ١٤٢٧ هـ)، الموسوعة الفقهية الكويتية (١١٦/٣)

۲. عدلیې وزارت، رسمي جریده (۱۳۹۶). پرلپسې (۱۲۵۴) ګڼه، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون، دریمه ماده.

**دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د ځمکې پېژندنه**

په دې مطلب کې به د اسلامي فقه په رڼا کې د ځمکې پېژندنه تر څېړنې لاندې ونیسم، چې د ځمکې ملکیت څه ته وايي، د اجارې ځمکه، ځمکه د کښت لپاره په اجاره ورکول، عشري او خراجي ځمکه او همدارنګه به وارثه ځمکه به وڅېړم. د ښه پوهېدو لپاره ضروري ده چې لومړی د ځمکې ملکیت لوستونکو ته وروپېژنم.

**۱. د ځمکې ملکیت:** د ځمکې ملکیت په اړه ډیر اسباب او عوامل دي چې یو بل سره مشترک دی، لکه: د ملکیت نقلیدونکي عقود یا بیعې او په میراث سره د ځمکې ملکیت ترلاسه کول، یو بل ډول یې چې ځمکې ملکیت حاصلیږي هغه احیاء الموات یا شاړه ځمکه ابادول دي. (۱)

**۲. د اجارې ځمکه:** هغه ځمکه کې چاته د یو معلوم وخت لپاره د معلومو پیسو په مقابل کې په اجاره یا کرایه ورکړ شي.

**۳. ځمکه د کرکښت لپاره ورکول:** ځمکه د کرکښت یا بزګری لپاره ورکولو په اړه اکثره شوافع او احناف فقهاء کرامو د جواز قائل دي، چې په دوی کې صاحبین (امام ابویوسف، امام محمد ) امام مالک، امام احمد ، امام داؤد ظاهري او نور فقهاء په دې دلیل جواز ورکړی دی چې نبی صلی الله علیه وسلم د خیبر ځمکه یهودو ته په بزګری یا دهقانۍ ورکړې وه ، چې نیمه برخه کجورې به یې ستاسې وي او نیمه برخه به یې زموږ وي. (۲)

ځکه چې دا په مال او عمل کې د شراکت یو ترون دی، نو د مضاربت په څېر دا هم جائز دی، بله دا چې نن سبا د خلکو اړتیا ډېره زیاته ده، یو کس به کرکښت او بزګري په ښه توګه ونه شي کولی او دهقان پرې ښه پوهیږي، نو دواړه یو بل ته اړتیا لري.

---

۱ کمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي معروف بابن الهمام (وفات: ۸۶۱هـ)، فتح القدير، ناشر: دار الفكر، ۵/ ۷۴

۲. محمد بن علي بن محمد بن عبد الله الشوكاني اليمني، نيل الأوطار للشوكاني، ناشر: دار نيل الأوطار، ۲۷۲/ ۵.

**۴. عشـــري او خراجــي ځمکــه:** فقهـاء کرامـو پـه دې اتفـاق دی چې عشـري هغې ځمکې تـه وايـي، چـې د اسـمان پـه اوبـو خړوبيـږي او لـه تکليـف او لګښـت پرتـه فصـل ورکـوي، لکـه: د باران، ګلی، واورې او کاريزونو په اوبو. [1]

دليــل پــرې د نبـی صـلی الله عليــه وسـلم يـو حـديث دی چـې فرمـايي: «فيمـا سـقت السماء والعيون، أو كان عَشرياً العشر، وما سقي بالنضح نصف العشر» [2]

هغـه ځمکـه چـې د اسـمان او چينـو پـر اوبـو خړوبيـږي پـه هغـه کـې عشـر دی او کـومې ځمکې چې په اوبو راويستلو سره خړوبيږي، نو نيم عشر پرې زکات دی.

بـل هغـه ځمکـه چـې خلـک يـې پـه اطاعـت سـره اسـلام منلـی وي، نـو دا هـم عشـري ځمکـه ده، بـل د مسـلمانانو هسـتوګنځای او سـيمې هـم عشـري دي، چـې کلـه د اسـمان پـر اوبو خړوبيږي. [3]

## خراجي ځمکه:

دا هغـه ځمکـه ده چـې پـه هغـه کـې خـراج واجـب وي، چـې پـه اصـل کـې د کفـارو ځمکـه وي، يـا هغـه ځمکـې چـې پـه زوره او جګـړې سـره نيـول شـوې وي او د وخـت حـاکم او امـام پـر هغـوی رحـم وکـړي او دا ځمکـې د هغـوی پـه واک کـې پرېـږدي او پـر هغـوی يـې جزيـه ټـاکلی وي او پر ځمکې يې خراج ټاکلی وي. [4]

---

۱. علاء الدين ابي بكر بن مسعود الكاساني ، البدائع الصنائع في ترتيب الشرائع. ناشر : دار الكتب العلمية.: ٦٢/ ٢ - ٦٣

۲. محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، صحيح البخاري، محقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، بيروت، دار طوق النجاة، لومړی چاپ. دار الكتب العلمية. (٥/ ٣٣٥)

۳. أ.د. وَهْبَة الزُّحَيْلِيّ، أستاذ ورئيس قسم الفقه الإسلاميّ وأصوله، بجامعة دمشق، الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ الشَّامل للأدلّة الشَّرعيَّة والآراء المذهبيَّة وأهمّ النَّظريَّات الفقهيَّة وتحقيق الأحاديث النَّبويَّة وتخريجها، ناشر : دار الفكر - سوريَّة – دمشق، طبع: دار الفكر، چاپ ځای: دمشق، (٣/ ١٩٠٢)

٤. أحمد بن محمد بن أحمد بن القاسم الضبي، أبو الحسن ابن المحاملي الشافعيّ (وفات: ٤١٥هـ)، چاپ كال: ١٤١٦هـ الكتاب مع اللباب، محقق: عبد الكريم بن صنيتان العمري، ناشر: دار البخارى، المدينة المنورة، المملكة العربية السعودية طبع: لومړی، ١٣٧/ ٤

## دوهم مبحث: د افغانستان د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون او اسلامي فقهې په رڼا کې د ځمکې ویش:

په دې مبحث کې به لومړی په افغانستان کې د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون له مخې د ځمکې د وېش څرنګوالی تشریح شي او ورپسې به بیا د اسلامي فقهې په رڼا کې د ځمکې وېش موضوع تشریح کړم.

### لومړی مطلب: د افغانستان دځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون له مخې د ځمکې ویش

د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په خپل لومړي څپرکي دریمه ماده کې د ځمکو وېش ذکر ی دی، چې په نوموړي قانون ځمکې په څوارلس (۱۴) ډولونو وېشل شوي چې عبارت دي له: کرنیزه ځمکه، صالح الزراعه ځمکه، نیمه کرنیزه ځمکه، غیر کرنیزه، بکره ځمکه، بایره ځمکه، وقفي ځمکه، مشاع ځمکه، دولتي ځمکه، شخصي ځمکه، عامه ځمکه، مرعي ځمکه، عامه مرعي ځمکه او خاصه مرعي ځمکه، دلته لازمه ګڼم چې د ځمکې پورته ذکر شوی هر ډول په تفصیل سره تشریح کړم:

لومړی: کرنیزه ځمکه: هغه صالح الزراعه او نیمه کرنیزه ځمکه ده چې تر کرنیزې ګټې اخیستنې لاندې وي.(۱)

دویمه: صالح الزراعه ځمکه: له لومړۍ درجې څخه تر دریمې درجې پورې ځمکې دي. (۲)

دریمه: نیمه کرنیزه ځمکه: له څلورمې درجې څخه تر اوومې درجې پورې ځکمې دي.(۳)

---

۱. عدلیې وزارت، رسمي جریده (۱۳۹۶). پرلپسې (۱۲۵۴) ګڼه، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون، دریمه ماده.

۲. پورته ذکر شوی ماخذ.

۳. پورته ذکر شوی ماخذ

ځلورمه: غیر کرنیزه ځمکه: بکره (موات) او بایره ځمکه ده چې تر کرنیزې ګټې اخیستنې لاندې نه وي.(۱)

پنځمه: بکره ځمکه: هغه ځمکه ده چې تر کرنې لاندې نیول شوې نه وي.

شپږمه: بایره ځمکه: هغه ځمکه ده چې په عادي شرایطو کې تر پنځو پرله پسې کلونو پورې تر کرنې لاندې نیول شوې نه وي او د اوبو لګولو د نوي سیستم له اصلاح یا احداث وروسته تر کرنې لاندې ونیولای شي.

اوومه: وقفي ځمکه: هغه ځمکه ده چې په عامو یا خاصو خیریه چارو کې د ګټې اخیستنې لپاره وقف شوې وي.

اتمه: مشاع ځمکه: هغه ځمکه ده چې د دوو یا له هغو څخه د زیاتو اشخاصو ترمنځ مشاع وي او له هغو څخه هر یو د خپلې برخې په اندازه د مالکانه تصرف حق ولري. (۲)

نهمه: دولتي ځمکه: باغي (بڼیزې) او آبي ځمکې چې د دولتي ځمکو د ثبت په اساس دفتر کې ثبت وي او یا د سروې او تصفیې د عملیې په پایله کې د دولتي ځمکې په توګه تثبیت شي، عبارت له دولتي ځمکې څخه دي. یا همدارنګه للمې، بکره او بایره ځمکه، دښتي، غرونه، تپې (غونډۍ)، د غرو لمنې، جبه زار، ځنګل زار، نی زار، چمني، بلنډ آبه او نورې هغه ځمکې دي چې په دولتي دفترونو کې ثبت وي او یا د سروې او تصفیې په عملیه کې د دولتي ځمکې په توګه تثبیت شي، عبارت له دولتي ځمکې څخه دي.

همدارنګه یاد قانون بیا د همدې مادې په بله برخه کې دولتي ځمکې داسې راپېژني: هغه ځمکه او ملکیتونه چې د تصفیې په پایله کې د اشخاصو، عامه، خاصه مرعي او وقفي ملکیت شرعاً او قانوناً په کې ثابت نه شي، عبارت له دولتي ځمکو څخه دي.

---

۱. د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون دریمه ماده.

۲ .د ځمکوالۍ چارو د تنظئم قانون، دریمه ماده.

په بل ځای کې بیا ددولتي ځمکې داسې راپېژني: هغه دولتي ځمکه او ملکیتونه چې د دولت په سندونو او دفترونو کې د دولتي ځمکې او ملکیت په توګه ثبت شوي وي. عبارت له دولتي ځمکې څخه دي یا همدارنګه هغه ځمکه او ملکیت چې د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون له انفاذ څخه د مخه له څلوېښتو څخه زیات کلونه د دولت په تصرف کې وي. عبارت له دولتي ځمکې څخه دي.

لسمه: شخصي ځمکه: د ځمکې قطعه یا قطعې دي چې له اعتبار وړ سندونو سره سم د حقیقي او حکمي اشخاصو په ملکیت کې وي.

یوولسمه: عامه ځمکه: هغه ځمکه ده چې د دولت او اشخاصو ملکیت نه وي د قانون له حکمونو سره سم ورڅخه په ټولیزه ول ګټه اخیستل کېږي او تر انفرادي ګټې اخیستنې لاندې نه وي د دولت له خوا څارل او تنظیم کېږي.

دولسمه: مرعي ځمکه: هغه ځمکې دي چې عامه ملکیت دی او د علوفه یي نباتاتو، نی او طبیعي بوټو د پوښښ لرونکې وي او د قانون له حکمونو سره سم د مواشي د څر لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کېږي.

دیارلسمه: عامه مرعي ځمکه: هغه عامه ځمکې دي چې د قانون له حکمونو سره سم د هېواد ټول وګړي په کې د مواشي د څرولو حق لري.

څوارلسمه: خاصه مرعي ځمکه: هغه ځمکې دي چې په یوه ټاکلي حدودو کې د یوې قریې یا ګاونډیو قریو د اوسېدونکو له اړتیا سره سمه قرار ولري او یوازې د همغې قریې یا قریو اوسېدونکي کولای شي د قانون له حکمونو سره سم د څارویو د څرولو او جمعي ګټې اخیستنې (درمند ځای، تفریحي پارک، قبرستان(هدیرې)، عیدګاه، محلي بازارونو او ورزشي میدانونو) او د همغې قریې د پرمختیا لپاره ورڅخه ګټه واخلي.(۱)

۱. عدلیې وزارت، رسمي جریده (۱۳۹۶). پرلپسې (۱۲۵۴) ګڼه، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون، درېیمه ماده.

## څلورم مطلب: د اسلامي فقهې په اساس د ځمکې ویش:

د ځمکې ویش یا تقسیم د ځمکو د ویش ځمکو او ابادیو، باغونو، کورنو، دکانونو، او چت منزلونه چې پورتنۍ او لاندیني منزلونو او د لارو ویش په اعتبار سره مختلف احکام لري.

کله چې مال مشترک ځمکه وي او ودانۍ هم پکې اباد شوې وي، نو ویش په اړه يې د احنافو درې اقواله دي. (1)

۱: امام ابوحنیفه رحمه الله وايي: ځمکه به د مساحت په اعتبار سره ویشل کیږي، چې اندازه کیدونکو شیانو کې مساحت معتبر دی، بیا که چیرې د یو کس په برخه کې ابادي ورسیده، یا ښه ځمکه ورته ورسیده، نو پر هغه به د ضرورت په اندازه پیسې اچوي، همدا رایه د شوافعو هم دی.

۲: امام ابویوسف رحمه الله وايي: ځمکه او ابادي دواړه به جدا د قیمت په اعتبار سره ویشل کیږي.

۳: امام محمد رحمه الله وايي: یو شریک به بل ته د ودانۍ په اعتبار سره اضافه ځمکه ورکوي او که بیا هم اضافه ورته ورغی نو پیسې دې ورکړي. (2)

## پنځم مطلب: د کورونو ویش:

دا چې کور د ځمکې پورې اړوند موضوع ده، ځکه چې ځمکه به یا اباده یا غیر اباده فصلي وي، نو د ځمکې په ویش کې اباد او غیر اباد دواړه داخلیږي، نو ځکه دلته مو د ابادې ځمکې یا د کورونو د ویش موضوع روښانه کړه.

د کورو ویش یا تقسیم د ځمکو د ویش په څیر دی، په دې اړه فقهاء کرام په لاندې ډول نظریات وړاندې کړي.

---

۱ الدر المختار، لابن عابدين حاشية رد المحتار علي الدر المختار، لابن عابدين،محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي. الدر المختار، بيروت: دار الفكر، ٥/١٧٩

۲ الفقه الإسلامي وأدلته للزحيلي (٦/ ٤٧٥٤)

احناف فقهاء [1] وايي: کله چې يو کور د دوو هيوادونو د پولو ترمنځ ګډ وي، نو د هر هيواد کور جلا ويشل کيږي، همدارنګه که چيري په يو ښار کې وي، مګر څو کورونه مشترکه وي، نو د اجناسو د مختلف کېدو له امله جدا جدا به تقسيميږي، که چېرې د ډيرو مشترکو کسانو ترمنځ دوه کسان په دې متفق شول چې خپلې برخې به يو ځای کوي، نو دوی ته به په يو ځای کې برخه ورکول کيږي.

امام ابويوسف او امام محمد رحمهما الله وايي: د کورونو ويش قاضي ته سپارل شوی، قاضي چې څه وړ وګڼل هماغسې دې وويشي، که چېرې قاضي دا ښه ګڼله چې په هر کور کې د هر مشترک کس برخه وګرځوي، نو همداسې دې وکړي ځکه چې د جسم او صورت په اعتبار سره کورونو ټول يو اعتبار لري او که نه قاضي کورونه جلا جلا تقسيمول هم صحيح دي، تر څو عدل او انصاف په ښه توګه قائم شي او که چېرې کوټې وي نو هر کس ته دې جلا جلا برخه د کوټو ورکړي.

شوافع وايي: چې کور کې که مختلفې کوټې او ودانۍ وي بايد جلا وويشل شي او د قيمت په اعتبار سره تقسيم شي ځکه چې اغراض يې د محل او دانۍ په اعتبار سره مختلف دي. [2]

مالکيان وايي: د کورونو تقسيم د يو بل رضايت پورې اړوند دی، چې برخې په قيمت کې سره يو برابر وي، مګر مشترک حمام، کوهی، ژرنده او ديوال نه ويشل کيږي، تر څو يو بل ته زيان ونه رسيږي [3]

---

١ فخر الدين عثمان بن علي الزيلعي الحنفي. تبيين الحقائق، ناشر دار الكتب الإسلامي.، چاپ کال: ١٣١٣هـ، چاپ ځای: القاهرةمصر، ٥/٢٧٠، البدائع: ٧/٢٢.

٢ سليمان بن محمد بن عمر البُجَيْرَمِيّ المصري الشافعي (وفات: ١٢٢١هـ)، تاريخ نشر: ١٤١٥هـ - ١٩٩٥م، تحفة الحبيب على شرح الخطيب = حاشية البجيرمي على الخطيب ناشر: دار الفكر.: ٤/٣٤٤.

٣ أبو الوليد محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد بن رشد القرطبي الشهير بابن رشد الحفيد (وفات: ٥٩٥هـ)، بداية المجتهد ونهاية المقتصد تاريخ نشر: ١٤٢٥هـ - ٢٠٠٤ م، ناشر: دار الحديث - القاهرة، ٢/٢٦٢.

ماته د مالکیانو نظر غوره ښکاري ځکه چې کورونه مشترکو کسانو ترمنځ هغه وخت ویشل کیږي چې خپلو کې سره رضایت وي، مګر که چیرې خپلو کې رضایت او جوړجاړی نه کیده بیا د احنافو نظر غوره دی، قاضي ته دې وسپاري.

**دوهم مبحث: د ځمکې ملکیت**

په پورته مبحثونو کې د ځمکې وېش د اسلامي شریعت او د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون له مخې لوستونکو ته وړاندې شو، په دې مبحث کې لومړی باید ملکیت لوستونکو ته وروپېژندل شي، بیا به د افغانستان په قوانینو کې ملکیت څه حکم لري همدارنګه د لوستونکو د ښه پوهېدو لپاره به بیا د اسلامي شریعت له نظره د ملکیت پېژندنه لوستونکو ته وړاندې کړم.

ملکیت د ملک څخه اخستل شوېدی چې جمع یې املاک دی او په لغت کې ملکیت دارایي ته ویل کېږي([1])، یا هر هغه شی چې انسان یې خاوند ګرځېدلی وي او یا دا چې ملکیت په یو مال باندې د انسان تصرف او قبضې ته ویل کېږي.([2])

د ملکیت اصطلاحي معنا: ملکیت عبارت د هغه څخه دی چې یوائې د ملکیت خاوند کولی شي د مانع د نه موجودیت په صورت کې تصرف په کې وکړي او نور خلک د تصرف کولو څخه منع کړي. ([3]) همدارنګه د مجلة الاحکام العدلیه د(**۱۲۵**) مادې له مخې ملکیت دا سې تعریف شوي دي: ((الملک ما ملکه الانسان سواءٌ کان اعیاناً او منافعاً))([4]).

ملکیت عبارت د هغه شي څخه دی چې انسان یې مالک او څښتن وي، برابره ده که اعیان وي یا ګټې.

---

۱. استاد حسن عمید. فرهنگ فارسی عمید. انتشارات راه رشد. چاپ اول ۱۳۸۹ ه ش. ص ۹۷۴

۲. نظام الدین عبدالله، حقوق عینی. انتشارات سعید. چاپ سوم ۱۳۹۰ ه ش. ص ۱۵

۳. الدکتور وهبة الزحیلی . الفقه الاسلامی وادلته . ترجمه. مولانا محمد یوسف تنولی و مفتی ابرار حسین .طباعت ۲۰۱۲.
دارالاشاعت اردو بازار کراچې .ج ٦. ص ٦٤٨

٤. د عدلي وزارت رسمي جریده. د مجلة الاحکام العدلیه د فقهي مسایلو د قواعدو مجموعه.لومړی ټوک ۱۳۸۱ ه ش. ص ٥٠

پورتني تعريف ته په پاملرنې ملکيت کېدا ی شي چې عين وي يا منفعت (ګټه) نو له دې کبله مونږ لاندې دوه اصطلاح ګانې توضيح کوو:

عين: هر هغه شی چی د تصرف او ګټې اخيستنې قابليت ولري عبارت د عين څخه دی يا په بل عبارت عين هغه مال ته ويل کېږي، چې خارجي شتون يې محسوس شي، په سترګو وليدل شي او په لاس لمس کړای شي مثلاً کتاب، قلم، مېز او نور([1]).

منفعت (ګټه): د منفعت څخه مراد هغه ثمره(ګټه) ده چې د عين څخه په لاس راځي، برابره خبره ده چې دغه ثمره د ونو د مېوو په څېروي، د موټر د سواری په څېروي او يا هم په کور کې د اوسېدو په څېروي او داسې نور ([2]).

## لومړی مطلب: په قانون کې د ملکيت پېژندنه

د ځمکوالی چارو د تنظيم قانون په خپله دريېمه (۳) ماده کې د ملکيت په اړه داسې تعريف کړی دی: ((ملکيت، هغه حق دی چې پر بنسټ يې عقار د مالک تر ارادې او تسلط لاندې او يوازې مالک کولای شي د قانون د حکمونو او مقرراتو په حدودو کې په هغو کې مالکانه تصرف وکړي.)) ([3])

همدارنګه د افغانستان د مدني قانون له نظره ملکيت: د افغانستان د مدني قانون ۱۹۰۰ ماده ملکيت په داسې شکل راپېژني: ((ملکيت داسې حق دی چې د هغې په مقتضا شي د شخص د ارادې او تسلط لاندې واقع کېږي يواځې مالک کولی شي چې د قانون د حکمونو په حدودو کې د هغې استعمال، ګټه اخستل او هر نوعه مالکانه تصرف ته اقدام وکړي)). ([4])

---

۱ . دکتر سيد احمد على هاشمى و دکتر ابراهيم تقى زاده .حقوق اموال ومالکيت. .ص ۵۱

۲ .دکتور ناصر کاتوزيان. اموال ومالکيت. ص ۳۷

۳. د ځمکوالی چارو د تنظيم قانون.

٤. د عدلې وزارت رسمي جريده. د افغانستان مدني قانون. کابل: دولتي مطبعه. فوق العاده ګڼه. څلورم ټوک. ۱۳۵۵ ه ش کال. ص

۱.همدارنګه د حقوقي اصطلاحاتو قاموس. کابل پوهنتون. چاپ کال ۱۳۸۷ ه ش. ص ۲۷۶

## دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د ملکیت پېژندنه

د ملکیت حق په اړه د قران کریم د مختلفو ایتونو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارکو احادیثو او اسلامي فقه کې کومې څرګندونې راغلي دي. همدارنګه د کومو شرایطو او اصولو له مخې د ملکیت لاسته راوړل مشروع او سم ګڼل کېږي. انسان په فطري او طبیعي ډول د خپلو دنیاوي اړتیاوو لکه خوراک، لباس، مسکن او نورو شرعي اړتیاوو د پوره کولو غوښتونکی دی. د یادو اړتیاوو د پوره کولو لپاره انسان هڅه او هاند کوي، ترڅو پیسې لاسته راوړي او د اړتیاوو د پوره کولو په لاره کې مصرف کړي، نو په همدې اساس د اسلامي شریعت لارښوونو سره سم باید انسان اموال او شتمني لاسته راوړي.(١)

نو دا چې د ملکیت حق په حقیقت پوه شو، نو موږ موضوع په قرانکریم، نبوي احادیثو او اسلامي فقه کې تر مطالعې لاندې نیسم:

## لومړی په قرانکریم کې د ځمکې د ملکیت پېژندنه

دا چې په قرانکریم کې د ملکیت حق په حقیقت باندې پوه شو، په اړه یې د قرانکریم ځیني آیاتونه په لاندې ډول تر مطالعې لاندې نیسم:

{وَ لَا تُؤْتُوا السُّفَهَآءَ اَمْوَالَكُمُ الَّتِیْ جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ قِیٰمًا وَّ ارْزُقُوْهُمْ فِیْهَا وَ اكْسُوْهُمْ وَ قُوْلُوْا لَهُمْ قَوْلًا مَّعْرُوْفًا}

ژباړه: او مه ورکوئ (مه سپارئ) تاسې! بې عقلانو ته مالونه خپل هغه چې ګرځولي دي الله جل جلاله ستاسې لپاره سبب د ګزران او روزي ورکوئ دوی ته په دې مالونو کې او کالي ورکوئ دوی ته او ووایئ دوی ته خبره معروفه (نیکه، خوږه، پسته، معقوله).٢

{كُلُوْا مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَ اشْكُرُوْا لَهٗ ؕ بَلْدَةٌ طَیِّبَةٌ وَّ رَبٌّ غَفُوْرٌ۱۵}

---

١. شیخ القران ډاکټر محمد طاهر القادری. اسلام کا تصور ملکیت. ص ٧٠. منهاج القران پرنټرزلاهور. د چاپ کال ٢٠٠٨ م

٢ . کابلی تفسیر. ج ا. ص ۴۲۹. سورة النساء ایات ۵

ژباړه: (وویلی شو دوی ته) خورئ تاسې له رزق روزۍ د رب خپل او شکر وباسئ دغه (الله) ته، (دا) ښار دی ډېر پاکیزه او (دغه رب ستاسې) رب دی ډېر بخښونکی (د شکر کوونکیو) ([1]).

{وَلَنَبۡلُوَنَّكُم بِشَيۡءٖ مِّنَ ٱلۡخَوۡفِ وَٱلۡجُوعِ وَنَقۡصٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَنفُسِ وَٱلثَّمَرَٰتِۗ وَبَشِّرِ ٱلصَّٰبِرِينَ ۝١٥٥}

ژباړه: او خامخا موږ آزمایو تاسې په یوه شي چې هغه عبارت دی (د دښمن) له ویرې، له لوږې (قحطۍ)، له کموالي د مالونو (په راز راز) آفتونو سره او د نفسونو (په قتل، موت، مرض او نورو) او د میوو (په آسماني او ځمکنی آفتونو سره).([2])

{وَٱلَّذِينَ فِيٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ حَقّٞ مَّعۡلُومٞ ۝٢٤ لِّلسَّآئِلِ وَٱلۡمَحۡرُومِ ۝٢٥}

ژباړه: او هغه کسان (هم هلوع نه دي) چې په د هغوی په مالونو کې برخه معلومه وي (له زکات او صدقات) لپاره د غوښتونکو (فقیرانو) او محروم (فقیرانو چې سوال کوي) ([3]).

{وَءَاتُوهُم مِّن مَّالِ ٱللَّهِ ٱلَّذِيٓ ءَاتَىٰكُمۡۚ}

ژباړه: او ورکوئ دوی ته له ځینو مالونو د الله هغه چې درکړي یې دي تاسې ته ([4]).

{يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَأۡكُلُوٓاْ أَمۡوَٰلَكُم بَيۡنَكُم بِٱلۡبَٰطِلِ إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٖ مِّنكُمۡۚ وَلَا تَقۡتُلُوٓاْ أَنفُسَكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمۡ رَحِيمٗا ۝٢٩}

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی (ای مومنانو)! مه خورئ تاسې! مالونه یو د بل په خپلو مینځونو کې په ناروا سره! مګر خورئ یې که وی دا مالونه که

---

١. پورتنی ماخذ. ج ٢ ص ٧٢٦. سورة السبا ایات ١٥

٢. پورتنی ماخذ. ج ١. ص ١٠٦. سورة البقره ایات ١٥٥

٣. پورتنی ماخذ. ج ٢. ص ١٥٢٨. سورة المعارج ایات ٢٤-٢٥

٤. پورتنی ماخذ. ج ٢. ص ٣١٤. سورة النور ایات ٣٣

وی امـوال د تجـارت پـه خوښـې سره، او تاسـې خپـل ځانونـه مـه وژنـئ، يقينـا الله تعـالی پـر تاسې رحم کوونکی دی.(۱).

نـو څرنګـه چې د ملکيـت مختلـف ډولونـه دي، يـو يـې هـم د ځمکـې ملکيـت دی، چـې پـه لـومړي ايـت کـې اشـاره شـوې چـې کـم عقلـو او نـاپوهو تـه د هغـوی مالونـه مـه سـپارئ، چې پـه دې کـې ځمکـه هـم ده، ځکـه چې ناپوهـه انسـان، ليـونی يـا ماشـوم پـه خپـل ځـان نـه وي، کيـدای شي پـر چـا يـې پـه بې ارزښـته روپـو وپلـوري، يـا يـې وران کـړي يـا بـل زيـان ور ورسوي، چې دلته بايد د ځمکې واک له پالونکي يا ولي سره وي.

وروسـتيو ايـاتونو کـې هـم د مـال يادونـه شـوې، چـې دا عـام دی، منقـولي او غيـر منقـولي ټـول پکـې داخليـږي، غيـر منقـولي څخـه مـراد ځمکـې دي او منقـولي عـام مالونـه چې هر ځای ته يې خلک انتقالولی شي.

## دويم: په نبوي احاديثو کې د ځمکې د ملکيت پېژندنه:

دا چې د قرانکـريم پـه څيـر پـه نبـوي احـاديثو کـې هـم د ملکيـت حق پـه حقيقت پـوه شو، پـه اړه يې ځينې نبوي احاديث تر مطالعې لاندې نيسم:

۱) (من احيا ارضاً ميتةً فهی له).(۲)

ژباړه: څوک چې يوه مړه (شاړه) ځمکه ژوندۍ (آباده) کړي، د همغه ملکيت شو.

۲) (من اعمر ارضاً ليست لاحدٍ فهو احقُ).(۳)

ژبـاړه: چـا چـې داسـې يـوه ځمکـه آبـاده کـړه چـې د بـل چـا ملکيـت نـه وي، نـو همدغـه آبادونکی يې مستحق دی.

۳) (من سبق الی ما لم يسبقه اليه فهو مسلمُ فهو له).(٤)

---

۱. پورتنی ماخذ. ج ۱. ص ۴۶۰. سورة النساء ايات ۲۹

۲. الصحيح البخاری. کتاب الحرث والزارعه. باب من احيا ارضاً مواتاً. ج ۳.ص۴۸۶. د حديث شميره: ۲۳۳۴

۳. پورتنی ماخذ. ج ۳.ص۴۸۶. د حديث شميره: ۲۳۳۵

٤. السنن الکبری للبيهقي وفي ذيله الجوهر النقي (٦/ ١٤٢) البدر المنير (٧/ ٦١) کې وايي: دا حَدِيث غَرِيب دی.

ژباړه: څوک چې دا سې يو شي ته مخکې والی وکړي چې بل چا ورته مخکې والی نه وي کړي، نو د همدغه (لومړي) کس ملکيت ګڼل کيږي.

پورته احاديثو څخه څرګنديږي چې چا يوه شاړه او غير اباده ځمکه اباده کړه، د فصل او کښت لپاره يې چمتو کړ، په دې شرط چې دغه ځمکه د بل چا په ملکيت کې نه وي، بلکې له کلونو همداسې شاړه پاتې وي، نو دا کس د دې ځمکې مستحق او مالک دی.

**دريیم مطلب: د ځمکې د ملکيت اسباب**

دا چې ملکيت عام دی، له همدې امله ځمکه هم په دې کې داخل دی، نو موږ وايو د ځمکې د ملکيت درې اسبابه دي.

۱. يوه ځمکه د له يو مالک نه بل مالک ته د تصرف او ملکيت په توګه انتقال، لکه: خرڅول يا هبه کول.

۲. يوه ځمکه د ملک خليفه يا ځايناستی په توګه چاته ترلاسه شوی وي لکه: په ميراث کې يې ترلاسه کول.

۳. يا په يو څيز لاس کيښودو سره يې ترلاسه کړي، لکه: شاړه ځمکه ابادول، دې ته حقيقي ملکيت يا تصرف وايي، دې سره يو بل ملکيت هم شته چې حکمي تصرف يا ملکيت ورته وايي، لکه: د مرغيو او ښکار لپاره جال کېښودل.

بيا ملک په دوه ډوله دی، ملک تام او ملک ناقص، چې همدا د مالک اقسام هم دی، يعنې مالک تام او مالک ناقص.

ملک تام: هغه مالک يا ملک ته وايي، چې د هغه څيز ټول مشروع حقوق ورته ثابت وي. د دې ملک خصوصيت دا دی چې تلپاتې ملکيت يې ثابت وي، زمانې او حدودو پورې مقيد نه وي او اسقاط يا ساقطيدل هم نه قبلوي او مکمل صلاحيت يې ورسره وي.

ملک ناقص: هغه مالک دی چې یوائې د هغه څیز مالک وي او نفعې مالک یې نه وي یا یوائې د منفعت مالک یې وي او دا یوائې په ځمکو کې ثابتیدای شي.

ملک ناقص په درې ډوله دی: ۱: یوائې د عین څیز مالک، لکه: غلام د بل چا وي او کار ده ته کوي، یا یو کس خپل کور کې د اوو سولو لپاره اجازه ورکړي، تر څو چې زه ژوندی یم زما په کور کې او سیږه، کله چې سړی مړ شو، نو دغه کور او ملکیت یې بیرته وارثانو ته انتقالیږي.

۲: حق الانتفاع، ملک منفعت: چې یوائې د نفعې اخیستو مالک یې وي، لکه: په ګانه، عاریت او اجارې سره یو څیز اخیستل، یا په وقف، وصیت او اباحت سره یو څیز ترلاسه کول.

۳: د عیب څیز د منفعت ملک: هغه تاکل شوی حق چې د ځمکې حاصل څخه ترلاسه کیږي، لکه: ځمکه د یو کس او حاصل یې د ده وي. ([1])

**دریم مبحث: د ځمکې مالک**

د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون له مخې او د اسلامي فقهې له مخې به دلته د ځمکې د مالک پېژندنه ذکر کوم، چې په لومړي سر کې د قانون له مخکې د ځمکې مالک چاته ویل کیږي.

**لومړی مطلب: په قانون کې د ځمکې د مالک پېژندنه**

د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په لومړي فصل دریمه ماده کې د ځمکې مالک داسې راپېژني: ((هغه شخص دی چې د مدار اعتبار وړ سند پر اساس، د ځمکې د ملکیت ساحه د هغه تر تسلط لاندې وي.))([2])

---

۱ الفقه الإسلامي وأدلته للزحیلي (٤/ ٢٨٢٧)

۲ . د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون

## دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د ځمکې د مالک پېژندنه

د ځمکې خاوند هغه څوک دی چې د ځمکې حقیقي خاوند، د ځمکې د کرلو، پلورلو، بل ته په اجاره ورکولو او هر ډول تصرف صلاحیت ولري د ځمکې اسنادو ته په کتو یې پر ځمکې بشپړ تسلط ولري.(١)

## څلورم مبحث: ځمکه د عقاري ملکیت په توګه

په دې مبحث کې به لومړی د ځمکې د عقار د ملکیت په توګه د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون له مخې تر څېړنې لاندې ونیسم او ورپسې به بیا په اسلامي فقه کې د عقار تر څېړنې لاندې ونیسم.

## لومړی مطلب: په قانون کې د ځمکې یا عقار پېژندنه

د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون د دریېمې مادې له مخې عقار له: ((له ځمکې، ودانۍ، ساختمانونو او د هغوی محلقات او مرافقات څخه عبارت دي.)) (٢)

## دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د عقارپېژندنه

عقار عامې ځمکه ته وايي، شرح المجلة یې داسې تعریفوي:

**(هو الثابت الذي لا يمكن نقله وتحويله أصلاً من مكان إلى آخر كالدور والأراضي)**

عقار هغه ثابت څیز ته وايي، چې نقلول او بدلول یې له یو ځای څخه بل ځای ته ناشوني وي، لکه: کورونه او ځمکې. (٣)

---

١. انټرنیټ څخه اخیستل شوی، https://academia-arabia.com/en/reader/٢/١٣٦٣٤٣ تاریخ: ٢٠٢٤/٠٩/١٦، وخت: ٢:٣٨ م

٢. د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون

٣ مجلة الأحكام العدلية م ١٢٩.

دا هم د کورونو په څېر دی، له قبض وړاندې يې خرڅول جائز دی او په دې کې دوکه نه وي ځکه چې په ځمکه کې د هلاکت توهم نه کيږي او له قبض مخکې او وروسته پکې کوم بدلون نه راځي.

له همدې امله د امام ابوحنيفه رحمه الله په نظر دوکه په هغه شيز کې راځي چې په هغه هلاکت راتلای شي او پر ځمکه خرابی و هلاکت نه راځي نو ځکه له قبض وړاندې يې خرڅول جائز دی، همدا نظر د شوافعو هم دی. ([1])

مالکيان وايي: چې له قبض وړاندې د مطعوماتو خرڅول جائز نه دی، په ځانګړې توګه هغه شيز چې وزن کيږي يا شميرل کيږي او غير طعام له قبض وړاندې خرڅول جائز دی لکه د ځمکې. ([2])

## پنځم مبحث: د ځمکې متصرف

په دې مبحث کې به د ځمکې د متصرف پېژندنه د قانون له مخې او د اسلامي فقهې له نظره وڅېړل شي.

## لومړی مطلب: په قانون کې د ځمکې د مُتَصَرِفْ پېژندنه

د ځمکوالۍ چارو د تنظيم قانون له مخې د ځمکې متصرف: (هغه شخص دی، چې د اعتبار وړ سند ونه لري او د دې قانون (د ځمکوالۍ چارو د تنظيم) قانون د نوولسمې مادې د (۱) فقرې او په (۳،۲،۱ او ۴) اجزاوو کې د درج شوو شرطونو لرونکی وي.) ([3])

---

۱ کمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي المعروف بابن الهمام (وفات: ۸۶۱هـ) فتح القدير، چاپ: دار الفکر: ۱۹۳/ ٤، البدائع: ۵/۱۳۹.

۲ المنتقى على الموطأ: ۲۷۹/ ٤، بداية المجتهد: ۱٤۲/ ۲.

۳ الدر المختار ورد المحتار: ۳٤۲/ ۵، ۳۷۲.

## دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د ځمکې د مُتَصَرِفْ پېژندنه

مُتَصَرِّف د اسم فاعل کلمه ده، د تصرف کوونکي په معنی راځي، چې تړون، عقد، بيع او ارادې ته شامليږي، نو کله چې يو شخص ته مال د يو مشروع او جائز لارې ترلاسه شي، نو دا همده پورې خاص ګرځي، چې په مال کې يې انتفاع او تصرف دوارہ ثابتيږي، تر هغه وخته چې شرعي مانع ورته موجود نشي، چې له دې نه يې مانع ونه ګرځي لکه: ليونتوب، کم عقلي، سفاهت، د عمر کموالی او نور...

د ولي، وصي او وکيل تصرف په پيل کې ثابت نه وي، بلکې د نيابت او نمايندګی په توګه ثابت شوی وي، ځکه د غه تصرفونه ناقص او نيمګړی وي، ځکه اصل متصرف مالک او مستحق کس وي. ([1])

د تصرف تعريف: هر هغه څيز چې له يو شخص نه په خپله اراده کوم قول او فعل صادر شي، چې د شريعت يو حکم او اثر مرتب شي، برابره خبره ده چې دا يې په ګټه يا په زيان وي. نو په صادر شويو اقوالو کې يې بيعه، هبه، وقف، اقرار د حق او نور داخل دي. ([2])

او صادر شوي فعلونه يې چې په ګټه وي يا په زيان لکه: ښکار، بيعه، وقف، غلا او قتل. نو معلومه شوه چې تصرف په دوه ډوله دی. ۱: قولي ۲: فعلي.

## شپږم مبحث: د ځمکې ميراث

دا چې زموږ د دې فصل د بحث موضوع د افغانستان د ځمکو والی چارو د تنظيم د قانون د اصطلاحاتو څېړنه د اسلامي فقهې په رڼا کې ده، نو ورته هم په نوموړي قانون کې يوه ذکر شوې اصطلاح ده، چې دلته يې څېړل لازمي او ضروري ده، لومړی به ورثه تعريف کړو، ورپسې به د ورثې ډولونه او د ځمکې د ميراث ذکر کړو، همدارنګه بيا

---

۱ الفقه الإسلامي وأدلته للزحيلي (٤/ ٢٨٩٣)

۲ مخکينی مرجع.

په اسلامي شريعت او د ځمکې والو چارو په تنظيم قانون کې د ورثې احکام تر څېړنې لاندې ونيسم.

ورثة د وارث جمع ده، مراد ترې هغه څوک دی چې د مړي په ترکه يا مال کې حق ولري، ورثه په درې ډوله دي: ۱- اصحاب الفروض ۲- عصبات ۳- ذوی الارحام، چې د ورثو پېژندنې په برخه کې به يې ذکر کړو. (۱)

په قران کريم کې الله تعالی دولس اصحاب فروض يعنې د ميراث مستحقين ذکر کړي، فرمايي:

{ يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ فَإِنْ كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ وَلِأَبَوَيْهِ لِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ مِمَّا تَرَكَ إِنْ كَانَ لَهُ وَلَدٌ فَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ وَلَدٌ وَوَرِثَهُ أَبَوَاهُ فَلِأُمِّهِ الثُّلُثُ فَإِنْ كَانَ لَهُ إِخْوَةٌ فَلِأُمِّهِ السُّدُسُ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِي بِهَا أَوْ دَيْنٍ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَاؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًا فَرِيضَةً مِنَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا { وَلَكُمْ نِصْفُ مَا تَرَكَ أَزْوَاجُكُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُنَّ وَلَدٌ فَإِنْ كَانَ لَهُنَّ وَلَدٌ فَلَكُمُ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْنَ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصِينَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ وَلَهُنَّ الرُّبُعُ مِمَّا تَرَكْتُمْ إِنْ لَمْ يَكُنْ لَكُمْ وَلَدٌ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ وَلَدٌ فَلَهُنَّ الثُّمُنُ مِمَّا تَرَكْتُمْ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ تُوصُونَ بِهَا أَوْ دَيْنٍ وَإِنْ كَانَ رَجُلٌ يُورَثُ كَلَالَةً أَوِ امْرَأَةٌ وَلَهُ أَخٌ أَوْ أُخْتٌ فَلِكُلِّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا السُّدُسُ فَإِنْ كَانُوا أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ فَهُمْ شُرَكَاءُ فِي الثُّلُثِ مِنْ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُوصَى بِهَا أَوْ دَيْنٍ غَيْرَ مُضَارٍّ وَصِيَّةً مِنَ اللَّهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَلِيمٌ } [النساء: ۱۱ ۱۲]

ستاسې د اولادونو په اړه الله تاسې ته لارښوونه کوي چې د نارينه برخه د دوو ښځو په اندازه ده، که (د مړي وارثان) له دوونه زياتې لوڼې وي نو هغو ته دې د ترکې له دريو نه دوه برخې ورکړای شي او که صرف يوه لور وارثه وي نو نيمايي ترکه د هغې ده. که د مړي اولادونه وي نو د هغه مور او پلار هر يوه ته دې د ترکې شپږمه برخه ورکړه شي او که يې اولاد نه وي او وارثان همدا مور او پلار وي نو مور ته دې دريیمه برخه ورکړه شي. او که د مړي وروڼه او خويندې هم وي نو مور به د شپږمې برخې حقداره وي (دا ټولې برخې به) هغه وخت بېلېږي چې که مړي وصيت کړی وي هغه پوره کړای شي

---

۱ الفقه الإسلامي وأدلته للزحيلي (٤/ ٢٩٨١)

او کـه پـور وربانـدې وي چې هغـه ادا کړای شي تاسـې نـه پـوهېږئ چې ستاسـې د مـور پـلار او ستاسـې لـه اولادنـه کـوم يـو دګټـې لـه پلـوه درتـه ډېـر نـژدې دی دا برخـې الله تـاکلي دي، او پـه يقينـي توګـه الله عـالم او د حکمـت څښـتن دی. او ستاسـې ښـځو چـې څـه پريښـي وي د هغـه نيمـايي برخـه تاسـې تـه رسـېږي کـه اولاد يـې نـه وي، او کـه اولاد يـې وي بيـا د ترکـې ثلورمـه برخـه ستاسـې ده البتـه کـه وصـيت يـې کـړی وي دوصـيت لـه پـوره کيـدو وروسـته او کـه پـوروړې وي د پـور لـه ادا کيـدو وروسـته او ښـځې بـه ستاسـې لـه ترکـې نـه د څلـورمې برخـې حقـدارې وي کـه تاسـې بـې اولاده وئ، او کـه ستاسـې اولادؤ نـو بيـا ستاسـې لـه ترکـې نـه د هغـو اتمـه برخـه ده، وروسـته د وصـيت لـه پـوره کولـو نـه کـه تاسـې وصـيت کـړی وي او وروسـته د پـور لـه اداء کولـو نـه کـه پـور وړي وئ. او کـه هغـه نارينـه يـا ښـځه (چـې د هغـه ميـراث بايـد وويشـل شـي) بـې اولاده هـم وي او مـور پـلار يـې هـم ژونـدي نـه وي، خـو يـو ورور يـا يـوه خـور يـې موجـوده وي نـو ورور او خـور هـر يـوه تـه بـه شـپږمه برخـه ورسـېږي، او کـه ورونـه او خوينـدې لـه يـوه نـه زيـات وي نـو د ټـولې ترکـې پـه دريمـه برخـه کښـې بـه هغـوی ټـول برخـه وال وي، کلـه چـې هغـه وصـيت پـوره کـړای شـي چـې کـړی يـې وي او هغـه پـور اداء شـي چـې وربانـدې وي، پـه دې شـان چـې زيـان رسـوونکی نـه وي د اد الله لـه لـوري حکم دی او الله پوه باخبره او نرم خويه دی.

بـل ايـت کـې فرمـايي: {يَسْـتَفْتُونَكَ قُـلِ اللّـهُ يُفْتِـيكُمْ فِـي الْكَلاَلَـةِ إِنِ امْـرُؤٌ هَلَـكَ لَـيْسَ لَـهُ وَلَـدٌ وَلَـهُ أُخْـتٌ فَلَهَـا نِصْـفُ مَـا تَـرَكَ وَهُـوَ يَرِثُهَـا إِنْ لَـمْ يَكُـنْ لَهَـا وَلَـدٌ فَـإِنْ كَانَتَـا اثْنَتَـيْنِ فَلَهُمَـا الثُّلُثَـانِ مِمَّـا تَـرَكَ وَإِنْ كَـانُوا إِخْـوَةً رِجَالًـا وَنِسَـاءً فَلِلـذَّكَرِ مِثْـلُ حَـظِّ الْـأُنْثَيَيْنِ يُبَـيِّنُ اللّـهُ لَكُـمْ أَنْ تَضِلُّوا وَاللّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ} [النساء: ۱۷۶]

خلـک لـه تاڅخـه (د کـلا لـه پـه بـاب) فتـوی غـواړي. وو ايـه الله تاسـې تـه د کلالـه پـه هکلـه فتـوی درکـوي. کـه څـوک بـې اولاده ومـري (او پـلار يـې هـم نـه وي) او د هغـه يـوه خـور وي؛ نـو هغـه بـه د هغـه مـړي نيمـايي ترکـه واخلـي، او کـه خـور بـې اولاده ومـري؛ نـو ورور بـه د هغـې وارث وي. کـه د مـړي وارثـان دوه خوينـدې وي نـو هغـوی بـه د ترکـې لـه دريـو نـه دوو برخـو حقـدارې وي، او کـه ډېـر ورونـه خوينـدې وي نـو د هـر نارينـه بـه د هـرې ښـځې پـه

تناسب دوه چنده برخه وي. الله تاسې ته حکمونه تشریح کوي، چې تاسې لار ورکې نشئ او الله پر هر شي پوه دی.

څرنګه چې په میراث کې اکثره ځمکې هم پاتې وي، نو د هغه په ویش کې هم یو نارینه ته د دوو ښځو په اندازه ځمکه ورکول کیږي، نو پورته ایتونو همدې پورې اړوند دي.

## لومړی مطلب: په قانون کې د ځمکې د ورثوو پېژندنه

د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون ورثې ته داسې تعریف کړې ده: ((هغه اشخاص دي چې د قانون او اسلامي شریعت له حکمونو سره سم د متوفی په مترو کې د میراث مستحق وي.)) ([1])

نو له متوفی څخه په متروکه مال کې ځمکه هم پاتې وي، نو ځکه مو دلته د دې یادونه وکړه.

## دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د ورثوو پېژندنه

وړاندې مو یادونه وکړه چې ورثه په درې ډوله دي. ۱- اصحاب الفروض ۲- عصبات ۳- ذوی الارحام

۱: اصحاب الفروض: د تعین شویو برخو خاوندان: دوی ته هغه ثابت شرعي مقدار مال چې الله تعالی په قران کریم کې ورته ټاکلی دی، دوی ټول دولس کسان دي، څلور نارینه او اته ښځې دي.

نارینه: پلار، صحیح نیکه (چې د ده او مړي ترمنځ ښځه منځ ته رانشي) د مور له طرفه ورور او خاوند.

او ښځې: ښځه، لور، د زوی لور (اګر که له دې ښکته هم وي) سکه خور، د پلار له طرفه خور، د مور له طرفه خور، مور او صحیح نیا (چې د ده او د مړي ترمنځ جد فاسد نه وي)

---

۱. عدلیې وزارت، رسمي جریده (۱۳۹۶). پرلپسې (۱۲۵٤) ګڼه، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون.

۲- عصبات: دا هغه غیر ثابت مقدار مال اخلي چې د ذوی الفروضو څخه پاتې وي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: (أَلحِقُوا الْفَرَائِضَ بِأَهْلِهَا فَمَا بَقِيَ فَهُوَ لِأَوْلَى رَجُلٍ ذَكَرٍ) ([1])

هغه کسانو ته چې الله تعالی برخې ټاکلي دي هغوی ته خپلې برخې ورکړئ څه چې پاتې شو، هغه مړي ته نږدې کسانو ته ورکړئ. چې دې نږدې کسانو څخه مراد عصبات دي.

۳- ذوی الارحام: د مړي هغه خپلوان چې د مړي د ترکې څخه برخه اخلي، نه د ذوی الفروضو او نه د عصبيت په ډول ميراث اخلي، نو دوی ته ذوی الارحام وايي، چې عبارت ده له: لور اولاد، د زوی د لور اولاده، ماما او خاله. ([2])

پورته موضوعات ټول د ځمکې اړوند وو، ځکه چې ځینې وخت ځمکه یو چاته په میراث کې پاتې وي، یا دا چې ځمکه د نورو خلکو ترمنځ غیر ویشل شوی وي، د هغه ویش د ځمکې په موضوعاتو کې داخل حسابیږي، نو ځکه مو دا موضوع دلته یادول اړین وګڼل.

اوس راځي هغو ځمکو ته چې د کرنې او کښت وړ نه وي یا شاړه ځمکه وي.

## اتم مبحث: غیر کرنیزه ځمکه

د دې مبحث په لومړي مطلب کې به لومړی د قانون له مخې غیر کرنیزه ځمکه تر څېړنې لاندې ونیسم او په دویم مطلب کې به بیا ورپسې په اسلامي فقه کې غیر کرنیزه ځمکه تر څېړنې لاندې ونیسم، لومړی راځو په قانون کې غیر کرنیزه ځمکه.

## اووم مبحث: غیر کرنیزه ځمکه

---

[1] صحيح البخاري (۲۰/ ٤٥٤)

[2] دکتور فخر الدين قانت، ګهيځ خپرندويه ټولنه، د ميراث علم صفحه ۱۴.

## لومړی مطلب: په قانون کې د غیر کرنیزي ځمکې پېژندنه

د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون غیر کرنیزه ځمکه داسې راپېژندلې ده: ((بکره (موات) او بایره ځمکه ده چې تر کرنیزې ګټې اخیستنې لاندې نه وي)).

په پورته تعریف کې دوه اصطلاحات ذکر شوي دي چې یوه یې بکره ځکمه او بله یې بایره ځمکه ده، دا لا ښه وضاحت لپاره ضروري بريښي چې پورته اصطلاحات هم وپېژنو:

بکره ځمکه: عبارت له هغې ځمکې څخه ده چې تر کرنې لاندې نیول شوې نه وي.

بایره ځمکه: عبارت له هغې ځمکې څخه ده چې په عادي شرایطو کې تر پنځو پرله پسې کلونو پورې تر کرنې لاندې نیول شوې نه وي او د اوبو لګولو د نوي سیستم له اصلاح یا احداث وروسته تر کرنې لاندې ونیولای شي. (۱)

## دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د غیرکرنېزي ځمکې پېژندنه

غیر کرنیزه ځمکه چې په اسلامي فقه کې ورته (اِحیاء الموات) یا د شاړې او غیرکرنیزې ځمکې ابادول وایي.

علامه زحیلي وایي: (ما لیس مملوکاً من الأرضین: ولا ینتفع بها بأي وجه انتفاع، وتکون خارجة عن البلد ) (۲)

دا هغه ځمکه ده چې د چا په ملکیت کې نه وي او څوک ترې له هیڅ اړخه ګټه نه اخلي او بل دا چې له ښار نه باید بهر وي.

نو کومه شاړه ځمکه که د چا په ملکیت کې داخل وي یا په ښار کې دننه وي، یا بهر وي مګر د چا لخوا ترې چاپیره د لرګیو، ډبرو یا خړځای احاطه کړی وي، نو دا شاړه ځمکه نه وي.

---

۱. عدلیې وزارت، رسمي جریده (۱۳۹۶). پرلپسې (۱۲۵۴) ګڼه، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون.

۲ الفقه الإسلامي وأدلته للزحیلي (۴/ ۲۹۰۷)

نبی صلی الله علیه وسلم د شاړې یا غیر کرنیزې ځمکې په اړه فرمایي: «من أحیا أرضاً میتة فهي له»([1])

چا چې یوه شاړه ځمکه اباده کړه، نو دا د هغه ملکیت دی.

جمهور فقهاء وایي: که دغه شاړه ځمکه ابادول د حاکم په اجازه وي یا نه وي، هم ملکیت یې ورته حاصلیږي.

امام ابوحنیفه او امام مالک رحمهما الله وایي: په دې کې د حاکم اجازه شرط ده. ([2])

شاړه یا غیر کرنیزه ځمکه هغه وخت د یو کس ملکیت ګرځي چې پکې ودانۍ او ابادي جوړه کړي، یا پکې بوټي نیال کړي، یا فصل او کښت پکې وکري یا کوهی پکې کنستل، چې دغه چاره باید درې کاله وخت نیولی وي، که چیرې له دې نه زیات وخت دغې ځمکې ته پاملرنه ونه کړي نو د ځمکې حق ترې بیرته اخیستل کیږي. ([3])

## اتم مبحث: وَقْفِيْ ځمکه

هغه ځمکه ده چې په عامو او خاصو ښېګڼو کې د استفادې لپاره وقف شوې وي، وقفي ځمکې او ملکیتونه د یوه هېواد په اقتصادي وده کې مهم او اساسي رول لوبوي.

د دې مبحث په لومړي مطلب کې په قانون کې د وقفي ځمکې پېژندنه تر څېړنې لاندې نیسم، په دویم مطلب کې به یې په اسلامي فقه کې وقفي ځمکه تر څېړنې لاندې ونیسم.

---

١ صحیح البخاري (٨/ ١٤٤)

٢ الفقه الإسلامي وأدلته للزحیلي (٤/ ٢٩٠٨)

٣ البدائع: ٦/١٩٣.

**لومړی مطلب: په قانون کې د وقفي ځمکې پېژندنه**

د ځمکو الی چارو د تنظیم قانون په لومړي څپرکي کې وقفي ځمکه داسې تعریف کړې ده: ((له هغې ځمکې څخه عبارت ده چې په عامو یا خاصو خیریه چارو کې د ګټې اخیستنې لپاره وقف شوې وي.))

همدارنګه د ځمکو الی چارو د تنظیم قانون په خپله اووه لسمه (۱۷) ماده کې د وقفي ځمکې ډولونو، تعریف او ډل بندی په اړه ذکر شوی دی، چې په لاندې ډول ورڅخه یادونه کوو:

د وقفي ځمکې په اړه د (۱۷) مادې په لومړۍ فقره کې وایي: ((هغه ځمکه چې وقف کېږي، د مالک یا واقف له ملکیت او تصرف څخه وځي او د موقوف علیه په ملکیت کې نه داخلېږي.))

همدارنګه په دوه فقره کې بیا ذکر کوي: ((وقف شوې ځمکه که په هر مقصد وقف شوې وي، ګټه یې په هماغه مقصد په مصرف رسېږي)).

له دې فقرې څخه یې موخه داده چې وقف شوې ځمکه چې د کومې موخې لپاره وقف شوه بیا په هماغه هدف لپاره ترې استفاده وشي، نه د بل کوم هدف لپاره.

همدارنګه د دې مادې په (۳) فقره کې بیا د وقف شوې ځمکې په اړه نور شرایط ذکر کوي: ((د وقفي ځمکې پلورل، هبه، ترکه، تبادله، وصیت او د تملیک نور موارد جواز نه لري.))

(۴) فقره: ((په مرکز او ولایاتو کې د اوقافو اداره مکلفه ده وقفي ځمکې په اړوندو دفترونو کې ثبت او له هغو څخه څارنه وکړي.))

په دې فقره کې د وقفي ځمکې د ثبت او څارنې مسؤلیت د اوقافو ادارې ته سپارلی دی، چې تر څو نور غیره خلک په یاده ځمکه کې تصرف ونه کړي.

(۵) فقره: ((په وقفي ځمکو پورې نورې اړوندې چارې په اړوند تقنیني سند کې تنظیمېږي))

لکه څرنګه چې پورته د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په اووه لسمه ماده کې د وقفي ځمکو په اړه د ګوتو په شمېر حکمونو وړاندوینه کړې او په دې برخه کې یې یوازې تعریف، ډولونه او د لنډو احکامو وړاندوینه او صراحت کړیو جزئیات او اړین حکمونه یې اړوند تقنیني سند ته لیږلي دي، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون اوولسمه ماده، پنځم بند کې د وقفي ځمکې په اړه داسې حکم کړی دی: ((په وقفي ځمکو پورې نورې اړوندې چارې په اړوند تقنیني سند کې تنظیمېږي.)) په داسې حال کې چې داسې کوم تقنیني سند په دې برخه کې نه شته چې هم قانون، مقرره یا فرمان ولري ترڅو وقفي ځمکه په سمه توګه تنظیم او تضمین کړي، په همدې وجه په دې برخه کې د یوه هر اړخیز تقنیني سند شتون لازم او حتمي دی ترڅو وقفي ځمکې په سمه توګه تنظیم او اداره کړي او له غو څخه ګټوره او دوامداره استفاده تضمین کړي، زموږ په هېواد کې چې کوم وقفي ملکیتونه دي په خواشینۍ سره چې په اړه یې ګټور او ځواب ویونکی حقوقي چوکاټ نه شته له همدې وجې یې د وقفي ملکیتونو ګټور مدیریت له بېلابېلو ستونزو سره مخ کړی.

همدارنګه د وقفي ځمکو د تنظیمولو او له هغې څخه د ګټورې استفادې ته په کتو سره چې د کومو احکامو یادونه شوې ده، بسنه نه کوي او د وقفي ځمکې غوره او ګټور مدیریت اهمیت ته په پام سره اړتیا ده، چې څو مره ژر کېدای شي په دې برخه کې تقنیني سند وړاندوینه وشي او یا د سند وضع او تصویب شي، پر دې سربېره په دې اړوند ارګان د وړتیا لوړلو او وقفي ځمکو ثبتولو په برخه کې اړین اقدامات وشي ترڅو له وقفي ځمکې څخه ګټوره او دوامداره استفاده تضمین شي، چې په دې سره د وقفي ځمکو ګټوره استفاده او مدیریت په لویه عایداتي سرچینه بدلېدای شي.(۱)

---

۱. د ملکیت حق. (ب ت). ترتیب: چکي دفتر، حقوقو څانګه، عدالت پروژه.

## دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د وقفي ځمکې پېژندنه

وقف تعریف: امام ابوحنیفه رحمه الله وايي: (وهو حبس العين على حكم ملك الواقف، والتصدُّق بالمنفعة على جهة الخير. وبناء عليه لا يلزم زوال الموقوف عن ملك الواقف ويصح له الرجوع عنه) (١)

د يو عين مال بندولو يا ايسارولو ته وايي، چې د وقف کوونکي په ملکيت کې شامل وي او د يو خير کار لپاره يې منفعت او ګټه صدقه کولو ته وايي، نو په همدې اساس د وقف شوي څيز ملکيت له مالک څخه نه زايله کيږي او بيرته رجوع هم کولی شي.

دوهم تعريف: جمهورو علماوو، صاحبين (امام ابويوسف او محمد) دي، چې د احنافو، شوافع او حنابلو فتوی هم پر همدې قول دی وايي:

(وهو حبس مال يمكن الانتفاع به، مع بقاء عينه، بقطع التصرف في رقبته من الواقف وغيره، على مصرف مباح موجود، على جهة بر وخير -تقرباً إلى الله تعالى. وعليه يخرج المال عن ملك الواقف، ويصير حبيساً على حكم ملك الله تعالى (٢)، ويمتنع على الواقف تصرفه فيه، ويلزم التبرع بريعه على جهة الوقف.) (٢)

يعنې د داسې مال بندول يا وقف کول چې د ګټې او نفعې امکان پکې وي او عين هغه څيز هم باقي پاتې شي او د وقف کوونکي تصرف پکې قطع شي، د يو مباح تصرف په موجوديت کې د خير او ښېګڼې په اساس د الله تعالی د رضا لپاره وقف کول

---

١ فتح القدير: ٣٧/ ٥ - ٤٠، ٦٢، عبد الغني بن طالب بن حمادة بن إبراهيم الغنيمي الدمشقي الميداني الحنفي (وفات: ١٢٩٨هـ) اللباب شرح مختصر الكتاب، تحقيق وحواشي: محمد محيي الدين عبد الحميد، ناشر: المكتبة العلمية، بيروت –لبنان. ١٨٠/ ٢، الدر المختار، لابن عابدين ٣٩١/ ٣.

٢ شمس الدين، محمد بن أحمد الخطيب الشربيني الشافعي (وفات: ٩٧٧هـ)، چاپ کال: ١٤١٥هـ - ١٩٩٤م، مغني المحتاج، ناشر: دار الكتب العلمية، طبع: لومړی، ٣٧٦/ ٢، منصور بن يونس بن إدريس البهوتي، وفات (١٠٥١هـ) طبع کال: ١٤٠٢هـ، كشاف القناع، تحقيق: هلال مصيلحي | مصطفى هلال، ناشر: دار الفكر –بيروت، ٢٦٧/ ٤. مصطفى بن سعد بن عبده السيوطي شهرة، الرحيبانى مولدا ثم الدمشقي الحنبلي (وفات: ١٢٤٣هـ) چاپ کال: ١٤١٥هـ - ١٩٩٤م، غاية المنتهى، ناشر: المكتب الإسلامي، طبع: دوهم، ٢٩٩/ ٢.

دي، چې لـه دې سـره د وقـف کـوونکي لـه ملکيـت څخـه مـال وځـي او د الله تعـالی ملکيـت ته ورګرځي او د واقف تصرف لپاره مانع ګرځي او د دې ګټې صدقه ګرځي.

د پورتـه علمـاوو اسـتدلال لـه دې حـديث څخـه دی چـې «أن عمـر أصـاب أرضـاً مـن أرض خيبر، فقـال: يـا رسـول الله، أصبتُ أرضـاً بخيبر، لـم أُصب مـالاً قـط أنفسَ عنـدي منـه، فمـا تـأمرني؟ فقـال: إن شـئت حبّسـت أصـلها وتصـدقت بهـا، فتصـدّق بهـا عمـر، علـى ألا تبـاع ولا توهـب ولا تـورث، فـي الفقـراء وذوي القربـى والرّقـاب والضـيف وابـن السـبيل، لا جنـاح علـى مـن وليهـا أن يأكـل منهـا بـالمعروف، ويُطعِـم غيـر متمـوِّلٍ» قـال ابـن حجـر فـي الفتح: «وحديث عمر هذا أصل في مشروعية الوقف». (١)

عمـر رضـی الله عنـه تـه د خيبـر لـه ځمکـو څخـه يـوه ځمکـه پـه برخـه رسـېدلې وه ده وويـل: ای د الله رسـوله! ماتـه پـه خيبـر کـې ځمکـه رسـېدلې ده، ماتـه لـه دې ځمکـې نـه تـر ډېرلـو خـوښ او قيمتـي مـال بـل نشـته، نـو پـه دې اړه څـه امـر راتـه کـوې؟ وفرمايـل: کـه سـتا خوښـه وي نـو اصـل ځمکـه يـې ځـان سـره وسـاته او (حاصـلات يـې) صـدقه کـړه، نـو عمـر رضـی الله عنـه دا ځمکـه صـدقه کـړه، داسې چې نـه بـه پلـورل کيـږي، نـه بـه هبـه کېـږي او نـه بـه ميـراث کـې وړل کيـږي، نـو غريبـانو، خپلوانـو، غلامـانو، ميلمنـو او مسـافرو تـه يـې حاصـلات ورکـول شـي، پـر هغـه چـا ګنـاه نشـته چې د دې واک يـې اخيسـتی وي او پـه نيکـې طريقې سره يې وخوري او له اصراف پرته يې بل چا باندې وخوري.

ابـن حجـر رحمـه الله پـه فـتح البـاري کـې وايـي: چـې د عمـر رضـی الله عنـه حـديث د وقف په مشروعيت کې اصل او اساس دی.

---

١ نيل الأوطار: ٢٠/٦).

## د وقف مشروعیت او جواز:

الله تعالی فرمایي: {لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ} ([1])

تاسې نیکۍ ته هېڅکله نشئ رسېدای تر څو خپل هغه شیان (د خدای په لار کښې) ونه لګوئ چې تاسې ته ګران وي.

بل ایت کې الله تعالی فرمایي: {يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَنْفِقُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّآ اَخْرَجْنَا لَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ} [البقرة:۲۶۷]

ای مؤمنانو! له هغو پاکو مالونو څخه مصرف وکړئ چې تاسې ګټلي دي او کوم شیان چې مونږ ستاسې له پاره له ځمکې نه راویستلي دي.

پورته ایتونه د خیر په کارونو کې خپل مال لګول او وقف کولو باندې دلالت کوي.

ځکه نبی صلی الله علیه وسلم عمر رضی الله عنه ته فرمایي:

«إن شئت حبّست أصلها، وتصدقت بها» ([2])

که ستا خوښه وي نو اصل یې ځان سره وساته او (حاصل) یې صدقه کړه.

بل حدیث کې علیه الصلاة والسلام فرمایي: «إذا مات ابن آدم، انقطع عمله إلا من ثلاث: صدقة جارية، أو علم ينتفع به من بعده، أو ولد صالح يدعو له» ([3])

کله چې بني آدم وفات شي نو عمل یې قطع شي، پرته له دریو کارونو څخه، یو صدقه جاریه، هغه علم چې له ده وروسته ترې خلک ګټه اخلي او یا نیک عمله اولاد چې ورته دعا کوي.

ائمه ثلاثه وایي: وقف مستحب دی، احناف وایي: وقف مباح دی. ([4])

**محل وقف:** یعني کوم څیزونه موږ وقف کولی شو؟

---

۱ [آل عمران:۹۲]

۲ صحیح البخاري (۹/ ۲۶۳) باب الشروط فی الوقف. حدیث نمبر: (۲۵۳۲)

۳ صحیح مسلم (۸/ ۴۰۵). باب مایلحق الانسان من الثواب بعد وفاته.

۴ البدائع الصنائع :۱۴۷/ ۱

عقار: يعني ځمکه، کور، کتابونه، جامې، اسلحې، وقف کول لکه د خالد بن وليد رضی الله عنه په اړه نبی صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«وأما خالد، فإنكم تظلمون خالداً، فإنه احتبس أدرعه وأعتده في سبيل الله» (١)

او خالد رضی الله عنه په اړه داخبره ده چې تاسې پر خالد ظلم کوئ، هغه خپله زغره وقف کړې وه او د الله تعالى په لاره کې ورکړې وه.

همدارنګه د جوماتونو لپاره قناديل يعنې ډيوې، فانوس يعنې ګروپونه او رڼاوې وقف کول هم جائز دی.

خپله ګاڼه هم وقف کولی شي.

عن نافع رحمه الله قال: ابتاعت حفصة حلياً بعشرين ألفاً، فحبسته على نساء آل الخطاب، فكانت لا تخرج زكاته. (٢)

له نافع رحمه الله نه نقل دی، وايي: حفصه رضی الله عنها خپله ګاڼه په شل زرو خرڅه کړه او د خطاب کورنۍ ښځو ته يې وقف کړه، نو د دې زکات به يې نه ورکوله.

وقف العقار: يصح وقف العقار، من أرض ودور وحوانيت وبساتين ونحوها بالاتفاق؛ لأن جماعة من الصحابة رضوان الله عليهم وقفوه، مثلما تقدم من وقف عمر رضي الله عنه أرضه في خيبر، ولأن العقار متأبد يبقى على الدوام. (٣)

د ځمکې وقف کول:

د ځمکې وقف کول صحيح دي، چې په دې کې د عامې ځمکې، کورونو، دوکانونو، باغونو او نورو شيانو وقف کول په اتفاق سره جائز دی، ځکه يو ډير شمېر صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعين وقفونه کړي، څرنګه چې وړاندې مو د عمر رضی الله عنه د خيبر د ځمکې وقف ذکر شو، ځکه چې ځمکه دوامداره او ابدي وي.

---

١ صحيح البخاري (٥/ ٣١٦). باب قول الله تعالى وفى الرقاب والغارمين وفى سبيل الله.

٢ ناصر الدين محمد الألباني، تحقيق: زهير الشاويش طبع: دوهم، چاپ كال: ١٤٠٥ هـ - ١٩٨٥ م إرواء الغليل، چاپ: المكتب الاسلامي بيروت (٦/ ٣٦)

٣ الدر المختار: ٤٠٨/ ٣، ٤٣٩، فتح القدير: ٤٨/ ٥

## نهم مبحث: مَشَاعْ ځمکه

مشـاع ځمکـه هغـه مشـترکې ځمکې تـه وایـي، چې ویشـل شـوی نـه وي، د مشـاع ځمکـې مختلـف احکـام او مسـائل دي، چې د مشـاع یـا ګـډې ځمکـې هبـه، اجـاره او خرڅـول دي، د مشاع ځمکې وقف جائز دی.

## لومړی مطلب: په قانون کې د مَشَاعْ ځمکې پېژندنه

د افغانسـتان اسـلامي جمهوریـت د ځمکـوالۍ چـارو د تنظـیم قـانون پـه لـومړي څپرکـي، (دربیمـه مـاده) مـاده، (۱۲) جـز کـې مشـاع ځمکـه داسـې تعریـف کـړې ده: ((هغـه ځمکـه ده چې د دوو یـا لـه هغـو څخـه د زیـاتو اشخاصـو تـرمنځ مشـاع وي او لـه هغـو څخـه هـر یـو د خپلې برخې په اندازه د مالکانه تصرف حق ولري.))([1])

پـه اکثـره ځـایونو کـې د ځمکـې ټـوټې، یـا ټوټـه د شـریکانو یـا وارثـانو تـرمنځ د مشـاع پـه توګـه شـریکې وي چې پـه هـره برخـه کـې هـر شـریک یـا وارثـان شـریک دي، نوپـه دې حالـت کـې د ځمکـوالۍ چـارو د تنظـیم قـانون پـه خپـل () فصـل او (۴۹) نهـه څلوېښـتمه مـاده کـې د مشاع زمینداری د ساحې تصفیې عنوان ذکر کړی دی، چې په کې راغلي دي:

کـه چېـرې د ځمکـې مالکـان لـه یـوه تـن څخـه زیـات وي او د هغـوی د ملکیـت حـدود یـو شـان وي او د زمینـداری سـاحه یـې د مشـاع پـه شـکل وي، تصـفیه یـې پـه لانـدې ډول صورت مومي:

۱. د هـر شـخص د ملکیـت اصـلي لـومړۍ درجـې سـره د معـادل سـاحې انـدازه، د ملکیت د سند په کتلو سره ټاکل کېږي.

۲. پـه هغـه صـورت کـې چـې د ملکیـت سـند، د مـالیې ورکـونې سـند وي، د هغـه د شـرایطو پـه پـام کـې نیولـو سـره سـم تـر ۱۳۵۴هــ ش کالـه پـورې د کلنـۍ مـالیې انـدازه د هـر مالـک پـه تفریـق سـره د ثبـت د اسـاس لـه دفتـر یـا د هـر شـخص د زمیـداری د سـاحې لـه

---

۱. د ملکیت حق. (ب ت). ترتیب: چکي دفتر، حقوقو څانګه، عدالت پروژه، ۴۲مخ

لاسته راوړل شوي مالیې ځخه د هغه د کلنۍ مالیې ورکونې د اندازې په تناسب تاکل کېږي.

۳. د مشاع ځمکې حدود او د هغې اصلي مساحت او د لومړۍ درجې معادل یې د کل په ډول د کدستر تیم له خوا تشخیصېږي.

۴- د هر شخص ونډه د ملکیت په سند کې له درج شوي مساحت سره معادل یا د هغه د مالیه ورکونې د سند په تناسب تفکیک او د شریکانو او وارثانو د نه موافقې په صورت کې موضوع د عدلیې وزارت د حقوقو ادارې ته سپارل کېږي.

۵- د اشخاصو د مشاع ملکیت په سند کې له درج شوي مساحت ځخه زیاته (اضافه) متصرفه ځمکه، اضافه جریبي محسوبېږي او په دې برخه کې د دې قانون له حکمونو سره سم اجراات صورت مومي.[1]

## دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د مشاع ځمکې پېژندنه

مشاع یا شریکه ځمکه چې د نورو خلکو برخه پکې وي، د اسلامي شریعت فقهاء د مشاع ځمکې خرڅولو، هبې او اجارې په اړه مختلف نظریات لري.

امام ابوحنیفه، زفر او حنابله وایي: چې د مشاع ځمکې اجاره جائز نه ده، چې کله شریک موجود نه وي، لکه د خپل کور یوه برخه په اجاره ورکول، یا مشترکه ځمکه له شریک پرته په اجاره ورکول، برابره ده که دا برخه یې څلورمه وي یا مطلق نامعلومه وي، ځکه د مشاع ځمکې نه ګټه اخیستل نامعلومه وي او مشاع ځمکه تسلیمول ناممکنه وي، ځکه دا یوه شائع سهم وي او هغه مشاع ځمکه په اجاره ورکول جائز دي چې شریک یې هم موجود وي او د هغه خوښه وي، ځکه په دې حالت کې دغه برخه ورسپارل ممکن وي[2]

---

۱. د ځمکوآلی چارو د تنظیم قانون.

۲ الفقه الإسلامي وأدلته للزحيلي (٥/ ٣٨١٤)

مګر جمهور فقهاء، ائمه ثلاثه، امام ابویوسف او امام محمد رحمهم الله وايي: چې مطلق د مشاع ځمکې په اجاره ورکول جائز دی، که شریک وي یا نه وي، ځکه په مشاع کې ګټه وي او امکان د تخلیې او اماده کولو پکې وي. (1)

د پورته اصولو په اساس احناف وايي: که څوک یوه لاره دې لپاره په اجاره ونیسي چې د یو معلوم وخته پورې پرې تیریږي، نو امام ابوحنیفه رحمه الله وايي: دا جائز نه دی، مګر د صاحبینو او جمهورو په نظر جائز دی، ځکه د مشاع ځمکې اجاره د امام صیب په نظر ناجائز او د صاحبینو په نظر جائز دی. (2)

## لسم مبحث: د ځمکې مستَحِقْ

د دې مبحث په لومړي مطلب کې به په قانون کې د ځمکې د مستحق پېژندنه تر څېړنې لاندې ونیسم او په دویم مبحث کې به په اسلامي فقه کې د ځمکې د مستحق پېژندنه تر څېړنې لاندې ونیسم.

## لومړی مطلب: په قانون کې د ځمکې د مستَحِق پېژندنه

مستحق هغه شخص دی چې د دې قانون (د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم قانون) له حکمونو سره سم مستحقینو ته د ځمکې د وېش د شرطونو لرونکی پېژندل شوی وی.

د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون (۷) څپرکي (**۵۴**) ماده کې د ځمکې د وېش شرایط ذکر شوي دي، چې په لاندې ډول ورڅخه یادونه کوو:

ځمکه هغه شخص ته وېشل کېږي چې د لاندې شرایطو لرونکی وي:

۱. د افغانستان تابیعت ولري.

۲. د اتلس کلنۍ سن یې بشپړ کړی وي.

---

۱ بدایة المجتهد: ۲ ص ۲۲۵، المیزان: ۲ ص ۹۶، المهذب في فقه الإمام الشافعي، إبراهیم بن علي بن یوسف الشیرازي أبو إسحاق،چاپ: بیروت، ۱ ص ۳۹۵.

۲ حاشیة ابن عابدین: ۵۳۳/ ٤)

۳. بې ځمکې ([1]) یا کم ځمکی([2])وي.

۴. بزګر،([3]) کرنیز کارګر([4]) یا کرنیز اجر[5] وي.

۵. ژمنه وکړي، چې د ځمکې له تسلیمېدو وروسته، په وېشل شوې ځمکه کې په خپله یا د هغه د کورنۍ غړي کښت او کار کوي او له هغې څخه په مواظبت کوي.

همدارنګه د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په خپله (۵۵) ماده کې بیا د ځمکې د وېش د غوښتونکي مکلفیتونه هم ذکر کړي دي، چې په لاندې ډول ورڅخه یادونه کوو:

(۱) هغه شخص چې د ځمکې د وېش مستحق وپېژندل شي د لاندې مکلفیتونو لرونکی دی:

۱. د ځکمې د استحقاق فورمه د تسلیمېدو له نېټې څخه وروسته د (۷) کاري ورځو په ترڅ کې ډکه او د اراضۍ اداري ته یې وسپاري.

۲. په ټاکلي وخت کې د ځمکې د تسیلمېدو وروسته د هغې په کښت او کار او آبادۍ پیل وکړي.

۳. د ځمکې د قیمت قسطونه او مالیه په خپل وخت کې ورکړي.

(۲) مستحق د ځمکې د قیمت د ټولو قسطونو له ورکړې څخه دمخه دریمو (ثالثو) اشخاصو ته د ځمکې د دایم او مؤقت لېږد حق نه لري.

همدارنګه د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په مستحقینو په درجو وېشلي دي چې تثبیت یې په لاندې ډول کېږي:

---

۱. هغه شخص دی چې د ځمکې مالک نه وي او یا د کرنیز فعالیت غوښتونکی وي.

۲. لږه ځمکه لرونکی شخص: هغه شخص دی چې له پنځو جریبو څخه لږه ځمکه ولري.

۳. بزګر: هغه شخص دی چې د ځمکې مالک نه وي یا لږه ځمکه ولري او د هغه شغل کرنه وي.

٤. کرنیز کارګر: هغه شخص دی چې د ځمکې مالک نه وي او د مشخص کرنیز فعالیت په سرته رسولو سره ټاکلې اجوره لاسته راوړي.

٥ . کرنیز اجیر: هغه شخص دی چې د ځمکې مالک نه وي او مالک ته د کرنیز مشخص فعالیت د ترسره کولو په بدل کې له محصول څخه ټاکلې برخه لاسته راوړي. تبیین الحقائق: ٥ ص ١١٠، ١٣٤،

**لومړۍ درجه مستحق:**

(۱. هغه شخص دی چې کرنیزه ځمکه یې د عامه ګټو د تامین په منظور استملاک شوې وي.

۲.هغه بې ځمکې او بې کاره شخص چې د خانوار متکفل یا له (۲) تنو څخه د زیاتو متکفل وي او د همغه ولایت، ولسوالۍ او کلي اصلي استوګن وي. )

**دویمه درجه مستحق:**

۱. د هغه کلي یا محل بې ځمکې بزګر او کرنیز اجیر چې د وېشلو وړ ځمکه په کې شتون ولري.

۲. هغه کم ځمکه بزګر چې د زمینداري ساحه یې د لومړۍ درجې ځمکې له دوو جریبو څخه کمه یا د هغې معادل وي.

همدارنګه وایي، متاهل یا د کورنۍ خاوند د اعاشې او اباتې متکفل شخص نسبت هغه مستحق مجرد ته چې په عین درجه کې وي، دځمکې په وېش کې د لومړیتوب حق لري.

همدارنګه که چېرې مستحق مړ شي د متوفقي مستحق وارثان د هغه د قایم مقام پېژندل کېږي او کولای شي د وېشل شوې ځمکې د قسطونو په ورکړې سره، ځمکه وکري. وارثان د ځمکې د بیې د ټولو قسطونو له ورکړې وروسته د ترکې او د ځمکې د لېږد حق لري، که چېرې وارثان صغیران یا ښځې وي او یا مستحق د ورغتیایي معاذیرو پر اساس ونه شي کړای ځمکه وکري، په دې صورت کې کولای شي هغه په دهقانۍ یا اجاره ورکړي. که چېرې مستحق یا د هغه وارثان د وېشل شوې ځمکې د ټولو قسذونو له ورکړې څخه دمخه، ونه غواړي کښت او کار ته ادامه ورکړي کولای شي ځمکه دلته ته مسترده کړي، په دې صورت کې ورکړل شوې قسطونه د دولت له بودجې څخه د استرداد وړ دي. ([1])

---

۱. عدلیې وزارت، رسمي جریده (۱۳۹۶). پرلپسې (۱۲۵۴) ګڼه، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون.

## دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د ځمکې د مستَحِق پېژندنه

مستحق د استحقاق اسم مفعول لفظ دی، چې اصل کلمه يې حق دی، اسلام ټولو انسانانو ته خپل حقوق ورکړي، چې هيڅ يو حق له دليل پرته موجود نه دی، نو اسلام ټولو افرادو ته ځينې اصول او مقررات ټاکلي چې د هغې په نظر کې نيولو سره له خپلو حقوقو څخه سالمه ګټه واخلي او نورو ته ضرر ونه رسوي او د ټولنې مصلحت هم په پام کې ونيسي، نو اسلام دوه اصوله ټاکلي چې د نورو خلکو د حقوقو احترام وکړي او د هغوی پر حقوق تعرض ونه کړي.

د حق دوه رکنونه دي، ۱: خپله د مستحق يا د حق خاوند دی ۲: محل حق دی.

مستحق: هغه شخص دی چې حقوق ورپورې تعلق لري يا هغه ته مسترد کيږي.

محل حق: هغه معين څيز دی چې حق ورپورې تعلق ولري، لکه عيني يا ديني حق. ([1])

صاحب حق يا د حق خاوند: خپله الله تعالی د حق خاوند دی چې په ځمکه کې يې انسان مستحق دی.

د استحقاق يا مستحق ډولونه: لکه: د تمليک يا ملکيت جواز، د نورو خلکو حقوق، وصيت، وقف، اجاره او نورو. که چېرې موارد و کې يې لږ خيانت او نيمګړتيا وکړه، نو يا ناسم تصرف يې پکې وکړ، نو ضمان او تاوان پرې لازم دی.

مستحق يا صاحب حق په درې ډوله دی، حق الله، حق الانسان او حق مشترک. ([2])

۱: حق الله: دا هغه امور دي چې قصد او اراده پکې تقرب الی الله وي او د هغه ديني شعائرو د ژوندي کول او تعظيم پکې موجود وي، يا دا چې ټول انسانيت ته له تخصيص پرته ګټه رسول وي او د دې نسبت الله تعالی ته کيږي. او دا په دوه ډوله دی:

---

۱ الفقه الإسلامي وأدلته للزحيلي (٤/ ٢٨٤٠)

۲ محمد بن محمد ابن أمير الحاج الحنبلي، چاپ کال: ١٤١٩هـ/١٩٩٩م، التقرير والتحبير، وتحقيق: عبد الله محمود محمد عمر، ناشر: دار الکتب العلمية –بيروت، طبع: لومړی ١٠٤/ ٢ - ١١١، علاء الدين عبد العزيز بن أحمد البخاري، وفات: ٧٣٠هـ. کشف الأسرار تحقيق عبد الله محمود محمد عمر. ناشر دار الکتب العلمية، چاپ کال: ١٤١٨هـ - ١٩٩٧م، ١٣٦/ ٢

اوامـر او نـواهي، اوامـر لكـه: مختلـف عبـادات، لمـونځ، روژه، زكـات، حـج، جهـاد ، امـر بالمعروف او نهی عن المنكر، نذر، قسم او نور..

نـواهي لكـه: لـه جرائمـو ځـان سـاتل، د حـدودو او عقوبـاتو تطبيـق، لكـه: حـد زنـا ، حـد سرقه، حد شراب او پر جرائمو تعزيرات، همدارنګه عامه المنفعه كارونه كول.

۲: حـق الانسـان: دا هغـه حقـوق دي چـې د شخصـي مصـلحت اراده پكـې وي، كـه دا عـام حـق وي لكـه: د اولادونـو د صـحت او خپـل مـال سـاتنه، تـولنيز امنيـت، جرائمـو لمنځـه وړل او نـور... يـا د بـائع او مشـتري حقـوق پـه ثمـن او مبيعـه كـې، يـا د يـو شـخص پـه تلـف شـوي مـال كـې د حـق بدلـه، د غصـب شـوي مـال بيرتـه ورسـپارل، د ښـځې حـق او نفقـه پـر خاونـد ، د مـور حـق د خپـل ماشـوم پـه سـاتنه او پـالنـه كـې، د پـلار حـق د اولادونـو پـه ولايـت او حمايت كې، د انسان حق په كار او كسب كې.

۳: مشـترک حـق: دا هغـه حـق دی چـې دوه حقـوق پكـې يـو ځـای كيـږي يـو حـق الله او بـل حـق الشـخص، مګـر كلـه پـه دې كـې د الله تعـالی او كلـه د شـخص حـق غالبـه كيـږي. مثـال يـې لكـه: د مطلقـې ښـځې عـدت، پـه دې كـې د الله تعـالی حـق د نسـبونو د ګـډوډۍ سـاتنه ده او د شـخص حـق پكـې دا دی چـې د خپـل اولاد د نسـب سـاتنه ده، مګـر د الله تعـالی حـق پكـې غالب دی، ځكه دې كې عامه ګټه ده. ([1])

## يوولسم مبحث: بزګر

پـه دې مبحـث كـې بـه لـومړی مطلـب كـې لـومړی پـه قـانون كـې پـه بزګـر پـېژندنـه بحـث وكـړم او دويم مطلب كې به په اسلامي فقه كې د بزګر په پېژندنه بحث او څېړنه وكړم.

---

١ البدائع: ٥٥/ ٧ ، ٨٦، السرخسي شمس الدين أبو بكر محمد بن أبي سهل، المبسوط، تحقيق: خليل محي الدين الميس، ناشر: دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت، لبنان. ١٨٥/ ٩.

## لومړی مطلب: په قانون کې د بزگر پېژندنه

بزگر چې په عربي ژبه کې ورته مزارع وايي او په مروجه دري ژبه کې ورته دهقان ویل کېږي، چې په پښتو کې ورته بزگر ، کروندگر ویلی شو ، چې د پښتو ژبې د گرامر له لحاظه اسم واحد مذکر دی، همدارنگه د افغانستان د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم قانون(۱) لومړي څپرکي، دریمه (۳) ماده: دې اصطلاحاتو تر عنوان لاندې بزگر داسې راپېژندلی دی. بزگر هغه شخص دی چې ځمکې مالک نه وي یا لږه ځمکه ولري او د هغه شغل کرنه وي. ([1])

## دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې دبزگر پېژندنه

بزگر ته په عربي ژبه کې (فلّاحٌ يا مُزارع) وايي، هغه شخص ترې مراد دی چې ځمکه کې کرکښت کوي.

د بزگر د کار اړوند اسلامي شریعت او فقه مختلف احکام او مسائل بیان کړي دي، چې دلته یې د څو یادونه کوو:

(المزارعة أو المخابرة) : کرکښت یا بزگري کول، (والمساقاة) (والمغارسَة)

## د بزگری تعریف د فقهاوو له نظره:

(المزارعة أو المخابرة) مزارعة له زرع څخه اخیستل شوی دی چې د بوټې کرلو په معنی ده او د شریعت په اصطلاح کې د ځمکې پر حاصل عقد یا بیعه کول، مزارعة او مخابرة په یوه معنی ده. ([2])

مالکیان وایي: مزارعة یعنې په کرکښت او فصل کې شراکت ته وايي. ([3])

---

۱. عدلیې وزارت، رسمي جریده (۱۳۹۶). پرلپسې (۱۲۵٤) گڼه، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون. ۱۳مخ

۲ البدائع: ٦/۱۷٥، تبيين الحقائق: ۲۷۸/ ٥، الدر المختار: ۱۹۳/ ٥، تكملة الفتح: ۳۲/ ۸.

۳ عبد الرحمن بن محمد بن أحمد بن قدامة المقدسي الجماعيلي الحنبلي، أبو الفرج، شمس الدين (وفات: ٦۸۲هـ)، الشرح الكبير، ناشر: دار الكتاب العربي للنشر والتوزيع، تحقيق: محمد رشيد رضا صاحب المنار، ۳۷۲/ ۳، أبو القاسم، محمد بن أحمد بن محمد بن عبد الله، ابن جزي الكلبي الغرناطي (وفات: ۷٤۱هـ) القوانين الفقهية: ص ۲۸۰.

حنابله وايي: ځمکه داسې يو چاته ورکول چې کرکښت پکې کوي يا کار پکې کوي او فصل د دواړه ترمنځ په نيمايي وي. ([1])

لنډه دا چې د ځمکې خاوند لخوا داسې يو چاته د حاصل په نيمايي برخه ورکول چې هغه پکې کار کوي، خواري او زحمت وباسي. چې دې ته دهقاني يا بزګري هم وايي.

**د بزګری حکم د فقهاوو له نظره:**

د امام ابوحنيفه او امام زفر رحمهما الله په نظر مزارعة يا بزګر ته ځمکه په نيمايي يا په دريمه او ځلورمه برخه ورکول جائز نه دی، دوی وايي: دا فاسده بيعه ده، ([2]) همدارنګه د شوافعو په نظر هم جائز نه دی، د دوی ټول دليل د نبی صلی الله عليه وسلم يو حديث دی چې له مخابرة يعنې ځمکه په بزګری ورکولو نه يې منع فرمايلی دی. ([3])

دوی وايي: دا منع ده چې د بزګر اجرت او مزدوري د ځمکې له حاصل مخکې وټاکل شي، ځکه چې د بزګری د تړون يا عقد پر وخت فصل نامعلومه او غير موجوده وي، يا دا چې مقدار يې نامعلومه وي او تر اوسه دا معلومه نه وي چې ځمکه به څومره حاصل ورکړي او هره بيعه او تړون چې په اندازه، مقدار او موده کې يې جهالت وي، نو هغه مفسد دی.

**د بزګری يا مزارعة د جواز حکم:**

د بزګری د پورته ممانعتونو سربيره بيا هم اکثره شوافع او احناف فقهاء کرام د مزارعة يا بزګری د جواز قائل دي، چې په دوی کې صاحبين (امام ابويوسف، امام محمد ) امام مالک، امام احمد ، امام داؤد ظاهري او نور فقهاء په دې دليل جواز

---

١ المغني: ٣٨٢/ ٥، كشاف القناع: ٥٢٣/ ٣.

٢ تكملة الفتح: ٣٢/ ٨

٣ صحيح مسلم (٨/ ١٢٤) باب النهى عن المحاقلة والمزابنة. نمبر: (٢٨٥٦)

ورکړی دی چې نبی صلی الله علیه وسلم د خیبر ځمکه یهودو ته په بزګری یا دهقانۍ ورکړې و، چې نیمه برخه کجورې به یې ستاسې وي او نیمه برخه به یې زموږ وي. (١)

ځکه چې دا په مال او عمل کې د شراکت یو تړون دی، نو د مضاربت په څېر دا هم جائز دی، بلـه دا چې نن سبا د خلکو اړتیا ډېره زیاته ده، یو کس به کرکښت او بزګري په ښه توګه ونه شي کولی او دهقان پرې ښه پوهیږي، نو دواړه یو بل ته اړتیا لري.

نو د احنافو وروستۍ فتوی هم د صاحبینو په نظر دی او راجحه خبره همدا ده. (٢)

## دولسم مبحث: د ځمکې اجاره

د نوموړي مبحث په لومړی مطلب کې به د اجارې پېژندنه، په دویم مطلب کې به د اجارې د مشروعیت دلایل، په درېیم مطلب کې به د اجارې ارکان، په څلورم مطلب کې به د اجارې شرایط، په پینځم مطلب کې به د اجارې آثار او نتایج او په شپږم مطلب کې به د اجارې پای ته رسیدل تر بحث لاندې ونیول شي:

### لومړی مطلب: د اجارې پېژندنه، د اجارې د مشروعیت دلایل

د اجارې تعریف: [الْإِجَارَةُ: عَقْدٌ عَلَى الْمَنَافِعِ بِعِوَضٍ؛ لِأَنَّ الْإِجَارَةَ فِي اللُّغَةِ بَيْعُ الْمَنَافِعِ] (٣)

ژباړه: اجاره داسې تړون دی، چې په منافعو باندې په عوض واقع کېږي؛ ځکه چې اجاره په لغت کې د منافعو خرڅولو ته وایي.

اجاره په لغت کې د کرایې، مزدورۍ (١)، اجورې او د یو عمل د بدلې په معنی استعمالیږي (٢) او په اصطلاح کې د اجارې لپاره ډېر زیات تعریفونه شوي دي. چې په لاندې ډول به تر بحث لاندې ونیسم:

---

١ (نیل الأوطار: ٢٧٢/ ٥)

٢ الفقه الإسلامي وأدلته للزحيلي (٦/ ٤٦٨٥)

٣ علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني المرغيناني، أبو الحسن برهان الدين (وفات: ٥٩٣هـ) محقق: طلال يوسف ناشر: دار احياء التراث العربي - بيروت – لبنان الهداية في شرح بداية المبتدي (٣/ ٢٣٠)

۱- د مجلـة الاحكـام العدليـه پـه (۴۰۵ ) مـاده کـې اجـاره داسـې تعريـف شـويده: ((اجـاره پـه اصـطلاح کـې د معلـوم عـوض پـه مقابـل کـې د معلـومې ګټـې بيعـې تـه ويـل کيږي)).

۲- د افغانســتان د مــدني قــانون د (۱۳۲۲) مــادې لــه مخــې اجــاره داســې تعريــف شـويده: ((د اجـارې عقـد عبـارت دی د هغـه عـين د ګټـې د تمليکولـو څخـه چـې پـه اجـاره ورکــول کيــږي ، د عــين د ګټــو تمليکــول د اجــارې ورکــوونکي پــه وســيله، اجــارې اخيستونکي ته په داسې عوض صورت مومي چې د بدل قابليت ولري)).

۳- حنفـي علمـاوو اجـاره داسـې تعريـف کړيـده: د معلـومې اجـورې پـه مقابـل کـې معلومې ګټې اخستلو ته اجاره ويل کيږي. (۳)

۴- د مـالکي علمـاوو لـه آنـده اجـاره عبـارت ده لـه: پـه يـوې ټـاکلې مـوده کـې د عـوض په مقابل کې د مباح شي تمليک ته اجاره ويل کيږی.(۴)

۵- شـافعي علمـاوو اجـاره داسـې تعريـف کړيـده: د معلـوم عـوض پـه مقابـل کـې د معلومې او مباحې ګټې لاسته راوړلو ته اجاره ويل کيږي. (۵)

۶- د حنابله علماوو له نظره اجاره عبارت ده له:د ګټو بيع ته اجاره ويل کيږی. (۶)

د پورتنيـو ټولـو تعريفونـو څخـه د احنـافو علمـاوو نظـر د اجـارې پـه اړه درسـت او منطقـي دي، ځکـه چـې کلـه يوڅـوک بـل کـس تـه يـو څـه پـه اجـاره ورکـوي نـو بايـد چـې د اجـارې مـوده او ګټـه دواړه معلـوم او مشـخص وي. نـو کـه چېرتـه د اجـارې پـه عقـد کـې د کـومې مـودې لپـاره چـې عـين پـه اجـاره ورکـول کيـږي معلـوم نـه وي ،همدارنګـه د اجـارې ګټـه هـم معلومـه نـه وي نـو پـه دې صـورت کـې ا جـارې عقـد د حقـوقي اثـارو د منځتـه راتـګ سبب نه ګرځي.

---

۱. استاد حسن عميد. فرهنگ فارسی عميد .ص ۷۲

۲. استاد راشد حسين ندوی. فقه مسير .مترجمان استاد عبدالروف مخلص او سيد جمال الدين هروی .ص ۱۸۸

۳ المبسوط: ۱۶/۲.

٤ التقنين المالكي (م۲٥٥)

٥ الشرح الكبير للدردير: ٣٤٤/٣

٦ مغني المحتاج: ١٣٧/ ٢

د احناف څخه بغیر د نورو علماوو نظر ځکه د بر زیات منطقي نه بریښي چې ځینو یې ویلي دي چې د مباح شي تملیک ته اجاره ویل کېږي. مګر د اسې نه ده ځکه چې کوم شي چې په اجاره ورکول کېږي باید چې یو معلوم او مشخص شخص په ملکیت کې وي ، او نه شي کولی چې هغه شي یو چا ته په اجاره ورکړي چې د ټولنې د ټولو خلکو تر مینځ مشترک وي.

## د اجارې پېژندنه د قانون له مخې:

په پای کې به د افغانستان د ځمکوالۍ د چارو د قانون له مخې اجاره تعریف کړو ، خو په نوموړي قانون کې حکومتي اجاره تعریف شوې ده، چې یو لوری یې حکومت دی او بل لوری یې شخص وي، نوموړي قانون په خپل لومړي څپرکي، دریمه ماده کې ځینې اصطلاحات په شمارواره توګه تعریف کړي دي، چې په (۳۵) شمېره کې یې اجاره په دې ډول تعریف کړې ده: ((له دولتي ځمکې څخه د نظر لاندې مؤقتي ګټې تملیک دی، چې د حق الاجارې په بدل کې او د ټاکلې مودې لپاره د اجاره ورکوونکي([1]) او اجاره اخیستونکي ([2]) ترمنځ عقد کېږي.)) ([3])

## دوهم مطلب: په قانون کې د اِجَاْرِېْ پېژندنه

د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په خپل لسم (۱۰) څپرکي د ځمکې او ملکیتونو اجارې تر عنوان لاندې اجارې لاندې موضوعات ذکر کړي دي:

د دولتي ځمکو اجارې په اړه په خپله (۷۰) اویایمه ماده کې ذکر کوي: (۱) دولتي ځمکې د قرارداد د عقد پر بنسټ، د اراضۍ د ادارې په موافقه د مالیې وزارت په

---

۱ اجاره ورکوونکی: د مالیې وزارت دی، چې په دې قانون کې درج شوي دولتي ځمکه او ملکیتونه د ټاکلې مودې لپاره په اجاره ورکوي.

۲ اجاره اخیستونکی: کورنی یا بهرنی حقیقي یا حکمي شخص دی.

۳. عدلیې وزارت، رسمي جریده (۱۳۹۶). پرلپسې (۱۲۵۴) ګڼه، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون.

واسطه کورنیو او بهرنیو اشخاصو ته د دې قانون له حکمونو سره سم په اجاره ورکول کېدای شي.

(۲) مستاجر د حقوقي اهلیت او قانوني صلاحیت لرونکی وي.

(۳) د اجارې قرارداد د دواړو لورو د توافق په صورت کې د دې قانون له حکمونو سره سم، تمدید ېدای شي.

همدارنګه په ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په خپله یو او یا یمه ماده کې د اجارې قرارداد څرنګوالی باندې بحث کوي، لیکي: د اجارې قرارداد لیکلي وي، د لاندې مطالبو لرونکی وي:

۱. د قرارداد د دواړو لورو شهرت.

۲. د فعالیت ډول.

۳. تر اجارې لاندې ځمکې او ملکیت د مشخصاتو ذکر.

۴. د عقد د دواړو لورو د مکلفیتونو توضیح.

۵. د اجارې موده.

۶. د حق الاجارې اندازه، وخت او د هغې د ادا کولو ډول.

۷. د فسخ حالات.

د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون د اجاره اخیستونکي مکلفیتونه په خپله دوه او یا یمه ماده کې ذکر کړي دي، چې لیکلي دي: (۱) اجاره اخیستونکی د لاندې مکلفیتونو لرونکی دی:

۱. د ژوند د چاپیریالیز مقرراتو، د کرنیزې ځمکې د خاورې د ساتلو او له پلوان شریکانو سره د ښه چلند په رعایتولو سره له ځمکې څخه ګټه اخیستل.

۲. په ځمکې پورې اړوند د اوبو لګولو د شبکې، کانالېزاسیون، تجهیزاتو او تاسیساتو ساتنه او پاکه کاري.

۳. له ځمکې څخه د اجارې د قرارداد د شرایطو پرخلاف ګټه نه اخیستل.

۴. له قرارداد سره سم د حق الاجارې ورکول.

۵. ځمکې یا تاسیساتو ته د وارد شوي زیان جبران.

۶. تر اجارې لاندې ځمکې ته د مزاحمو اشخاصو له هر ډول مداخلې څخه د ماليې وزارت ته خبر ورکول.

۷. تر اجارې لاندې ځمکې له حقابې څخه د نورو مقصدونو لپاره ګټه نه اخيستل.

۸. د تر اجارې لاندې ځمکې نه لېږدول، په فرعي اجاره او په تضمين نه ورکول.

۹. د کانونو، لرغونو آثارو او نورو هغو شتمنيو د موندې په صورت کې چې د دولت او عامه ملکيت ګڼل کېږي، د اراضۍ اداري ته خبر ورکول.

۱۰. د قرارداد له شرايطو سره سم د اجارې د مودې تر پای ته رسېدو وروسته تر اجارې لاندې ځمکې، تاسيساتو، تجهيزاتو او د هغو د محلقاتو سپارل.

۱۱. د ماليې وزارت ته د حق الاجارې د پيسو له تحويلۍ څخه د بانکي آويز د کاپي وړاندې کول.

۱۲- په دې قانون (د ځمکوالۍ چارو د تنظيم قانون) کې د درج شوي نور مکلفيتونه.

(۲) که چېرې اجاره اخيستونکی يا د هغه وارثان وغواړي د اجارې د مودې تر پای ته رسېدو د مخه، د اجارې قرارداد فسخ کړي، مکلف دي له موضوع څخه لږ تر لږه درې مياشتې د مخه د ماليې وزارت ته خبر ورکړي.

څرنګه چې د اجارې په بحث کې په لومړيو کې اشاره وشوه، چې د ځمکوالۍ چارو د تنظيم په قانون کې چې د اجارې په اړه کوم بحث کېږي دا ټول بحث د دولتي ځمکې د اجارې په اړه دی، چې يو لوری به يې د اجارې حکمي يا حقيقي شخص وي او بل لوری به يې حکومت وي، په پورته بحث کې د يوه لوري مکلفيتونه ذکر شول، اوس به د دويمې لوري چې حکومت دی نماينده ګی يې د ماليې وزارت کوي د هغه مکلفيتونه به د قانون له مخې ذکر کړو:

ماليې وزارت د لاندې مکلفيتونه لرونکی دی:

۱. د قرارداد له شرايطو سره سم تر اجارې لاندې ځمکې تسليمول.

۲. د حق الاجارې د تحويلۍ په غرض اجاره اخيستونکي ته د بانکي تعرفې ورکول.

۳. د قرارداد له پای ته رسېدو یا فسخ څخه وروسته له اجاره اخیستونکي څخه له تاسیساتو او محلقاتو سره تر اجارې لاندې ځمکې تسلیمېدل.

۴. د اجارې د مودې تر پای ته رسېدو درې میاشتې دمخه اجاره اخیستونکي ته خبر ورکول.

۵. په دې قانون کې (د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون) د درج شوو نورو مکلفیتونو ترسره کول.

همدارنګه د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په خپله څلوراویایمه ماده کې د پانګه اچونې د جلب په غرض د ځمکې د اجارې موده ذکر کړې ده: (۱) د مالیې وزارت کولای شي د کرنیزو، مالداری، باغدارۍ او داسې نورو فارمونو د جوړولو لپاره د خصوصي پانګې اچونې د جلب او هڅونې په منظور صالح الزراعه ځمکې تر (۵۰) کلونو او بکرې او بایرې ځمکې تر (۹۰) کلونو مودې پورې اشخاصو، کورنیو او یا بهرنیو مؤسسو، خصوصي او مختلطو کرنیزو او مالدارۍ شرکتونو د دې قانون (د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون) له حکمونو سره سم په اجاره ورکړي.

(۲) د مالیې وزارت کولای شي بکرې او بایر ځمکې د دې قانون (د ځمکوالۍ چارو د تنظیم) له حکمونو سره سم د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو مقصدونو پرته د ځمکې د نوعیت، پروژې او د سرمایې د اندازې په تناسب د پانګې اچونې لپار هخصوصي متشبث ته د دې قانون (د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون) له حکمونو سره سم د اراضۍ ادارې په موافقه او تشخیص په اجاره ورکړي.

(۳) د اجارې ورکوونکی نه شي کولای تر اجارې لاندې ځمکه د اجارې د مودې تر پای ته رسېدو یا د هغې تر فسخ پورې بل شخص ته په اجاره ورکړي.

(۴) وزارتونه او دولتي اداري کولای شي سرای، اپارتمان، دوکان او نورې اړوندې ودانۍ د قانون د حکمونو مطابق د مالیې وزارت له لارې په کرایه یا اجاره ورکړي.

(۵) د اجارې د قرارداد تمدید او د دې مادې په (۱او۲) فقرو کې د ځمکو د حق الاجارې د فیصدۍ زیاتوالی د عقد د دواړو لورو په توافق سره صورت مومي. [1]

## دریم مطلب: د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم په قانون کې د ځکمې د اجارې د ټاکلو موده او اندازه

نوموړی قانون په خپله (۷۵) پنځه اویایمه ماده کې د ځمکې د اجارې د ټاکلو مودې په اړه داسې وضاحت ورکړی دی: ((د ځکې د اجارې موده، د دې قانون د څلور اویایمې مادې د حکم په پام کې نیولو سره د ځمکې د نوعیت او موقعیت او د پام وړ پروژې د کمیت او کیفیت په تناسب د مالیې وزارت له لوري ټال کېږي.))

همدارنګه بیا ورپسې په خپله (۷۲) شپږ اویایمه ماده کې د ځکې د اندازې په اړه په اجاره ورکول کېږي داسې صراحت لري: (((۱) هغه دولتي بکرې او بایر ځمکې چې د کرنیزو او غیر کرنیزو مقصدونو لپاره په اجاره ورکول کېږي، د هغو اندازه د ځمکې د نوعیت او د پام وړ پروژې د کمیت او کیفیت، وسایلو، ماشین الاتو او د اجاره اخیستونکي د پانګې د اندازې په پام کې نیولو سره په لاندې ډول ټاکل کېږي:

۱. د کرنې په مقصد انفرادي شخص ته تر پنځوسو (۵۰) جریبو پورې.

۲. د غیر کرنیزو مقصد لپاره خصوصي یا مختلطو شرکتونو ته تر پنځوسسو (۵۰۰) جریبو پورې.

۳- مالداري او کرنیزو شرکتونو ته تر زرو (۱۰۰۰) جریبو پورې.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی قراداد د مالیې وزیر په واسطه منظورېږي.

(۳) که چېرې د کرنیزو او غیر کرنیزو مقصدونو لپاره د بکرې یا بایر ځمکې مساحت له یو زر (۱۰۰۰) جریبو څخه زیات وي د حکومت په تصویب په اجاره ورکول کېږي. [1]

---

[1] عدلیې وزارت، رسمي جریده (۱۳۹۶). پرلپسې (۱۲۵٤) ګڼه، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون.

## د حق الاجارې اخیستل

د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په خپله یواتیایمه (۸۱) ماده کې د حق الاجارې د اخیستلو موضوع ته اشاره کړې ده، چې په دې اړه داسې صراحت لري:

(۱) هغه بکرې او بایر ځمکې چې د غیر زراعتي مقاصدو لپاره په اجاره ورکول کېږي، اجاره اخیستونکی مکلف دی، د هغو حق الاجاره هر کال د قرارداد د پیل له نېټې څخه په پېشکي توګه د دولت د وارداتو په حساب، بانک ته تحویل کړي.

(۲) د صالح الزراعه ځمکې اجاره اخیستونکی مکلف دی، چې حق الاجاره د قرارداد د عقد له نېټې څخه د دولت د وارداتو په حساب، بانک ته تحویل کړي.

(۳) د بکرو او بایرو ځمکو اجاره اخیستونکی مکلف دی، د قرارداد د عقد له نېټې څخه د حق الاجارې نیمایي (نیمه) او د اته اویایمې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې مودې له پای ته رسېدو وروسته ټوله حق الاجاره د دولت د وارداتو په حساب، بانک ته تحویل کړي.

## د حق الاجارې په اندازه کې زیاتوالی

د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په خپله دوه اتیا یمه ماده کې بیا د حق الاجارې په اندازه کې د زیاتوالي په اړه دارنګه صراحت لري: ((د مالیې وزارت کولای شي د ځمکې، پروژې، د سرمایې د اندازې او د ګټې اخیستنې د وړتیا او حاصل ورکونې د نوعیت او موقعیت په تناسب د دې قانون د څلور او یایمې مادې د حکم په پام کې نیولو سره د صالح الزراعه او بکرو او بایر ځمکو د حق الاجارې په اندازه کې له هرو پنځو کالو وروسته تر لسو فیصدو پورې زیاتوالی راولي.))

## د اجارې د قرارداد د فسخ حالتونه

---

[1] عدلیې وزارت، رسمي جریده (۱۳۹۶). پرلپسې (۱۲۵٤) ګڼه، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون.

د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په خپله (۸۳) ماده کې د اجارې د قرارداد د فسخه حالتونه ذکر کړي دي: (۱) د اجارې قرارداد د دوه اویایمې مادې د (۱) فقرې د (۹او ۱۰) اجزاوو له حکم سره سم قرارداد فسخ کېدای شي. (۲) د مالیې وزارت کولای شي د لاندې حالتونو په یوه کې د اجارې قرارداد فسخ کړي:

۱. د حکمي شخص د انحلال یا د اجاره اخیستونکي د ورشکستګۍ په صورت کې.

۲. د تقنیني سندونو سره سم د دولت په واسطه د اجاره اخیستونکي د فعالیت د درېدو په صورت کې.

۳. له معقول عذر پرته په قرارداد کې له درج شوو شرایطو او تعهداتو څخه د اجاره اخیستونکي د تخلف په صورت کې.

۴. د اجاره اخیستونکي د مړینې په صورت کې یا په هغه حالت کې چې اجاره اخیستونکی د قانون مطابق خپل حقوقي اهلیت له لاسه ورکړي.

۵. د هغو غیر مترقبه پېښو رامنځته کېدل په اجاره اخیستونکي د محل پرېښودو ته اړ کړي یا تر اجارې لاندې ځمکه غیر قابل استفاده کړي.

۶. نور هغه حالتونه چې د اجارې په قرارداد او په دغه قانون کې یې وړاندوینه شوې ده.

همدارنګه ورپسې په (۸۴) څلور اتیایمه ماده کې د دولتي ځمکو د حق الاجارې ټاکل موضوع کړې ده، چې وایي: ((د دولتي ځمکو حق الاجاره د ځمکې د نوعیت، موقعیت، د محل د پلوان شریکانو د ځمکې د حاصلاتو د اندازې او له هغې څخه د ګټې اخیستنې د مقصد په پام کې نیولو سره د مالیې وزارت په واسطه د ځمکې د اجاره ورکونې له طرزالعمل سره سم ټاکل کېږي. )) همدارنګه بیا په خپله (۸۷) ماده کې تر اجچارې لاندې ځمکې د ټولې یا یوې برخې اخیستلو موضوع ته اشاره شوې ده، چې دارنګه صراحت لري: ((که چېرې د اراشۍ اداره تر اجارې لاندې ځمکې ټولې یا یوې برخې ته اړتیا ولري، په دې هکله په لاندې ډول اجراات کېږي:

۱. په هغه صورت کې چې د تر اجارې لاندې ځمکې اخیستل د حاصل تر راټولولو وروسته وي، قرارداد فسخ او اجاره اخیستونکی مکلف دی، حق الاجاره ورکړي.

۲. په هغه صورت کې چې د تر اجارې لاندې ځمکې اخیستل د حاصل تر ټولولو دمخه وي او اجاره اخیستونکي په ځمکه کې مصارف کړي وي، د هغه لګښتونه د محل له عرف سره سم اجاره اخیستونکي ته ورکول کېږي او عقد فسخ کېږي.

۳. که چېرې ځکه غیر زراعتي وي د باقي پاتې مودې حق الاجاره د ورکړې وړ نه ده، په هغه صورت کې چې اجاره اخیستونکی د عقد له فسخ څخه زیانمن شي د هغه زیان د جبران وړ دی.

۳. په هغه صورت کې چې د ځمکې یوه برخه د حاصل تر راټولولو د مخه او بله برخه یې د حاصل راټولولو وروسته مسترده شي، د حق الاجارې اندازه د مستردې شوې ځمکې په تناسب ټاکل کېږي او د باقي پاتې ځمکې په هکله دواړو لورو د موافقې په صورت کې قرارداد باقي پاتې کېږي. (۱)

## د اجاره اخیستونکې مړینه او د اجارې ورکونې منع

د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په اته اتیایمه (۸۸) ماده کې د اجاره اخیستونکې د مړینه په اړه داسې صراحت لري: ((د اجارې عقد د اجاره اخیستونکي په مړینه پای ته نه رسېږي، مګر دا چې وارثان یې فسخ وغواړي.))
همدارنګه نوموړی قانون د اجاره ورکونې د منع په اړه په خپله نهه اتیایمه (۸۹) ماده کې داسې صراحت کړی دی: (( (۱) لاندې اشخاصو ته ځمکه په اجاره نه ورکول کېږي:

۱. د حقوقي اهلیت نه درلودونکی.

۲. د لازمې مالي ځواکمنتیا نه درلودونکی.

۳. ممنوع التصرف.

۴. ورشکسته یا منحل شرکتونه.

---

۱ عدلیې وزارت، رسمي جریده (۱۳۹۶). پرلپسې (۱۲۵٤) ګڼه، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون.

(۲) لاندې ساحې په اجاره نه ورکول کېږي:

۱. ساتل شوې ساحې.

۲. ترېين المللي پيمانونو لاندې ساحې.

۳. هغه ساحې چې تاريخي آبدات او کانونه په کې شتون ولري.

۴. ټولې هغه ساحې چې د دې قانون (د افغانستان د ځمکو الې چارو د تنظيم قانون) او نورو قوانينو په واسطه د هغو په اجاره ورکول ممنوع شوي وي.

(۳) ځمکه د لاندې فعاليتونو په منظور په اجاره نه ورکول کېږي:

۱. هغه فعاليتونه چې د خصوصي پانګې اچونې له قانون سره سم ممنوع شوي وي.

۲. هغه فعاليتونه چې قانوني مشروعيت نه لري.

## د اجارې په هکله د اختلافاتو حل

د افغانستان د ځمکوالې چارو د تنظيم قانون په خپله (۹۰) نويمه ماده کې د اجارې په هکله د اختلافاتو حل په اړه داسې صراحت لري: (۱) که چېرې د اجاره اخيستونکي او د ماليې وزارت ترمنځ د اجارې په هکله اختلاف رامنځته شي، دواړه لوري کولای شي هغه په پيل کې د دواړو لورو د تفاهم له لارې حل کړي. (۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی اختلاف د تفاهم له لارې حل نه شي موضوع د قانون د حکمونو مطابق حل او صل کېږي.

## دیارلسم مبحث: د ځمکې غصب

غصب لمنځه وړلو او تلف کولو ته وایي. (۱)

امام کاساني (۲) په البدائع الصنائع کې وایي: په اصل کې جنایت په دوه ډوله دی، یو جنایت پر ځارویو او جماداتو او بل جنایت پر انسان، نو پر ځارویو او جماداتو جنایت کول هم په دوه ډوله دی، چې یو غصب او بل تلف کول د هغه ځیز دی.

دا دواړه ډوله جنایت دې ته وایي چې یو کس پر یو ځیز په زور او جبر لاس کېږدي او د پردي پر مال تجاوز او زیاتی وکړي، (۳) چې پر دواړو مباحثو یعنې د مال د غصب پر احکامو به وروسته رڼا واچوو، لومړی دلته غصب د قانون له نظره ځیړو:

## لومړ ی مطلب: په قانون کې د غصب پېژندنه

د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په خپل یوولسم ځپرکي کې د ځمکې د غصب موضوع ته اشاره کړې ده، چې په نوموړي ځپرکي کې د غاصب تشخیص، د مغصوبه ځمکې استرداد، د مغصوبه ځمکو په پلورلو او استرداد پورې اړوندې چارې، د پړاوونو له تېرولو پرته د ځمکې نه لېږد او تبادله، د مغصوبه ځمکو په هکله د مرور زمان او ماقبل ته د قانون د رجعت نه رعایتول عنوانونه ذکر شوي دي، همدارنګه بیا وروسته په دولسم ځپرکي کې د جزایي حکمونه عمومي عنوان ذکر شوی دی، چې د ځمکې د غاصب مجازات، د ځکې د غصب د جرم مشدده حالتونه، د ځمکې په غصب کې د جرم تعدد ذکر شوي دي، چې په ترتیب سره به هره موضوع په لاندې توګه تر څېړنې لاندې ونیسم، لومړی لازمه ګڼم چې غصب وپېژنو:

---

۱ فتح القدیر: ۳۶۱/ ۷

۲ الکاساني: پوره نوم یې ابو بکر بن مسعود بن احمد الکاساني دی، چې ملک العلماء ورته ویل کېدلو. علاءالدین محمد بن احمد سمرقندي کله چې د التحفة په نوم کتاب ولیکلو، امام کاساني ؛ پدې کتاب د البدائع الصنائع فی ترتیب الشرائع په نوم شرح ولیکله، نو سمرقندي ده ته خپله لور فاطمه په نکاح ورکړه او د هغې مهر یې همدا کتاب وګرځاوو، لدې کتاب پرته نورې لیکنې هم لري لکه؛ السلطان المبین في أصول الدین، او په (۵۸۷هـ) کال کې د یکشنبې په ورځ د رجب په میاشت کې وفات شو. تاج التراجم، ۱/ ۳۲۷ .

(۳) بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع: ۲۳۳/ ۷.

د ځمکې غصب: د مدار اعتبار سندونو یا د قانون د حکم له لرلو پرته د دولتي، عامه، شخصي مرعي(عامه او خاصه) او وقفي ځمکو تصرف، تصاحب، ګټه اخیستنه، انتقال، رهن، اجاره یا په کرایه ورکول د ځمکې غصب پېژندل شوي چې مرتکب د اړوندو قوانینو له حکمونو سره سم مجازات کېږي. (1)

د غاصب تشخیص: د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په خپل یوولسم څپرکي (۹۱) ماده کې د غاصب د تشخیص لپاره ځینې موارد ذکر کړي دي، چې دلته ورڅخه یادونه کوم: (۱) د اراضۍ اداره غصب شوې ځمکې تشخیص او تثبتوي او غاصبین یې عدلي او قضایي مراجعو ته ورپېژني. (۲) هغه ځمکې چې د دولت او اشخاصو ترمنځ تر دعوې لاندې وي د اراضۍ اداره د محکمې تر وروستۍ فیصلې پورې له هغو څخه ثارنه کوي او د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون له حکمونو سره سم ورڅخه ګټه اخیستلی شي.))

د غصب شوې ځمکې (مغصوبه) د استرداد په اړه بیا دارنګه صراحت لري: ((که چېرې د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون له انفاذ څخه وروسته غاصب د دربیو میاشتو په ترڅ کې د مغصوبه ځمکې په استرداد اقدام ونه کړي او ځکه له غصب څخه دمخه حالت ولري، له غاصب څخه استرداد او د دولتي ځمکو د ثبت د اساس په دفتر کې ثبتېږي.))

همدارنګه یاد قانون د مغصوبه ځمکو په پلورلو او استرداد پورې اړوندې چارې په خپله (۹۳) ماده کې ذکر کوي: ((د هغو مغصوبه ځمکو په رسیده ګۍ او استرداد پورې اړوندې چارې چې وربانديې کور (سرپناه)، سوداګریز، کرنیز، مالداري، باغداري، تاسیسات او ښارګوټي جوړ شوي وي، په جلا مقرره کې تنظیمېږي.

د مغصوبه ځمکو په هکله د مرور زمان او ماقبل ته د قانون د رجعت نه رعایتول ذکر کوي: هغه دولتي ځمکې چې د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم قانون له انفاذ څخه

---

۱. د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون، لومړی څپرکی، (۳) ماده.

دمخه غصب شوې دي، د مرور زمان تابع نه دي، د اراضي اداره او وړاندې اداري مکلفې دي، د هغو د استرداد په برخه کې اقدام وکړي.

د افغانستان د ځمکو الي چارو د تنظيم قانون په خپل دولسم فصل (۹۲) ماده کې د ځمکې د غاصب مجازات ذکر کړي دي: (۱) د ځمکې د غصب مرتکب د ځمکې پر استرداد برسېره له لاندې مجازاتو څخه په يوه هم محکومېږي:

۱. په هغه صورت کې چې د غصب شوې ځمکې ارزښت تر درې سوه زره افغانيو پورې وي په قصير حبس.

۲. په هغه صورت کې چې د غصب شوې ځمکې ارزښت له دريو سوو زرو تر يو ميليون افغانيو پورې وي په متوسط حبس تر دوو کلونو پورې.

۳. په هغه صورت کې چې د غصب شوې ځمکې ارزښت له يوه ميليون څخه تر پنځو ميليونه افغانيو پورې وي، په متوسط حبس له دريو کلونو زيات.

۴. په هغه صورت کې چې د غصب شوې ځمکې ارزښت تر پنځه ميليونه افغانيو زيات وي، تر لسو کلونو پورې په طويل حبس.

(۲) د ځمکې د غصب د جرمونو محکومين د افغانستان د اسلامي جمهوريت د رياست مقام د عفو او تخفيف د فرمانونو له مزاياوو څخه نه شي برخمن کېداى شي.

(۳) د ځمکې د غصب د جرم مرتکب مکلف دى، د حکم د صادرېدو له نېټې څخه د دريو مياشتو په ترڅ کې، غصب شوې ځمکه تخليه کړي او د ځمکې د مالکيت د ادعا سندونه د هغې قانوني مالک ته وسپاري.

(۴) هغه شخص چې غصب شوې ځمکه يې خرڅه کړې وي مکلف دى د حکم د صادرېدو له نېټې څخه د دريو مياشتو په ترڅ کې پېېدونکي ته د غصب شوې ځمکې بيه ورکړي.

(۵) هغه شخص چې غصب شوې ځمکه يې په اجاره يا کرايه ورکړې وي، مکلف دى د حکم د صادرېدو له نېټې څخه د دريو مياشتو په ترڅ کې د اجارې يا کرايې څخه راپيدا شوى منفعت د ځمکې مالک ته ورکړي.

(۲) کـه چېـرې د غـصـب لـه املـه ځمکـه تخریـب یـا هغـې تـه زیـان ورسـېږي، مرتکـب مالک ته د وارد شوي زیان په جبران هم محکومېږي.

د وارد شوي زیان او د هغه مبلغ د تخنیکي ټیم په واسطه محاسبه کېږي.

(۷) د ځمکـې د غصـب د جـرم مرتکـب مکلـف دی ځمکـه مسـترده کـړي او د هغـه د ځمکې د مالکیت د ادعا سندونه باطل ګڼل کېږي. [۱]

د ځمکـوالۍ چـارو د تنظـیم قـانون د ځمکـې د غصـب د جـرم مشـدده حالتونـه ذکـر کـړي دي، پـه لانـدې توګـه صـراحت لـري: ((لـه لانـدې حـالتونو څخـه د یـوه د شـتون پـه صـورت کـې د ځمکـې د غصـب جـرم مشـدده ګڼـل کېـږي او مرتکـب پـه دې قـانون کـې د پشبیني شوو جزاګانو په اکثر احد محکومېږي:

۱. جـرم لـه زور، اجبـار، اکـراه، ارعـاب یـا تهدیـد څخـه پـه ګټـې اخیسـتنې صـورت موندلی وي.

۲. د اړونـد دولتـي ادارو لـه خـوا د شـفاهي یـا کتبـي اطـلاع او اخطـار سـره سـره د غصب شوې ځمکې د تصرف تداوم.

۳. د ځمکـې د غصـب لپـاره د یـوه یـا لـه یـوه څخـه زیـاتو اشخاصـو تـه دسـتور ورکـول، امر ورکول، تمویلول او یا وادارکول.

## دوهم مطلب: په اسلامي فقه کې د غصب پېژندنه

غصـب پـه لغـت کـې: (أخـذُ الشـيء ظلمـاً، أو قهـراً جهـاراً. وشـرعاً: لـه عنـد الفقهـاء فـي الجملة حقیقتان تختلفان). [۲]

پـه ظلـم، جبـر او قهـر ښـکاره یـو شـیز اخیسـتو تـه غصـب وایـي او پـه شـریعت کـې د فقهـاوو پـه نظـر پـه حقیقـت کـې دوه مختلـف شـیان دي او د احنـافو پـه نظـر هـم مختلـف تعریفونه لري.

---

۱. عدلیې وزارت، رسمي جریده (۱۳۹۶). پرلپسې (۱۲۵۴) ګڼه، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون. ۱۱۵مخ

۲ الفقه الإسلامي وأدلته للزحيلي (٦/ ٤٧٨٧)

احناف وايي: (هو أخذ مال متقوم محترم بغير إذن المالک، على وجه يزيل يده) ([1])

غصب يو متقوم يا قيمت لرونکی او ارزښت لرونکی مال د مالک له اجازې پرته اخیستو ته وایي، په داسې طریقې چې د مالک له لاسه ووځي.

په دې تعریف کې مال متقوم یا ارزښت لرونکی مال یاد کړی، نو دې سره شراب او خنزیر ووتل.

مالکیان د غصب داسې تعریف کړی دی (الغصبُ بأنه «أخذ مال قهراً تعدياً بلا حرابة) ([2])

غصب د یو چا مال په زور، جبر او زیاتی سره له جګړې پرته اخیستو ته وایي.

شوافع او حنابله یې داسې تعریف کوي: (الغصب بأنه: الاستيلاء على حق الغير (من مال أو اختصاص) عدواناً، أي على وجه التعدي أو القهر بغير حق. ([3])

غصب: دې ته وایي چې د بل چا پر حق (مال یا بل ځانګړی شیز) په ظلم واخلي یعنې په زور او زیاتي په ناحقه واخلي.

## د غصب حرمت:

د غصب حرمت په قران کریم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنت ثابت دی، الله تعالی فرمایي:

{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا} [النساء: ٢٩]

---

١ تكملة فتح القدير مع العناية: ٣٦١/ ٧ وما بعدها، الكتاب مع اللباب: ١٨٨/ ٢.

٢ الشرح الكبير للدردير: ٤٤٢/ ٣، ٤٥٩.

٣ مغني المحتاج: ٢٧٥/ ٢، كشاف القناع: ٨٣/ ٤، المغني: ٢٢٠/ ٥.

ای مؤمنانو ! په خپلو مینځو کښې یو د بل مالونه په ناروا توګه مه خورئ، مګر خورئ یې چې راکړه ورکړه ددوارو خواو په خوښۍ سره (په روا توګه) وي او خپل ځانونه مه وژنئ باور ولرئ چې الله پر تاسې مهربان دی.

بل ایت کې فرمايي: {وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ} [البقرة: ١٨٨]

او تاسې مه په خپلو مینځو کښې یو د بل مال په ناروا توګه خورئ او مه هغه حاکمانو ته په دې غرض وړاندې کړئ چې تاسې ته په قصدي توګه او ظلم سره د نورو خلکو د یو څه شتمنۍ د خوړلو فرصت په لاس درشي.

**د غصب حرمت د رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: (إِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ هَذَا فِي بَلَدِكُمْ هَذَا) ([1])

یقینا ستاسې وینې او مالونه داسې حرام دي لکه د نن ورځې د حرمت په شان او په دغه میاشت کې او په دغه ښار کې (څرنګه چې حرمت یې ثابت دی).

بل حدیث کې فرمايي: (من أخذ شبراً من الأرض ظلماً، فإنه يطّوقه يوم القيامة من سبع أرضين) ([2])

چا چې په ظلم یو لویشت ځمکه واخیسته نو د قیامت په ورځ به اووه واړه ځمکې یې په غاړه کې واچول شي.

---

١ صحیح مسلم (٦/ ٢٤٥)

٢ صحیح البخاري (١٠/ ٤٧١) باب ماجاء في سبع ارضين، نمير: (٢٩٥٩) (نيل الأوطار: ٣١٧/ ٥).

## څوارلسم مبحث: د ځمکې قباله

د دې مبحث په لومړي مطلب کې به د قبالې پېژندنه، په دويم مطلب کې به په قانون کې د قبالې پېژندنه وشي.

### لومړی مطلب: په قانون کې د قبالې پېژندنه

د ځمکوالۍ چارو د تنظيم قانون د دولسم فصل (۹۲) ماده کې په قانون کې د راغليو اصطلاحاتو پېژندنه شوې ده، چې قباله يې مورد ته په لاندې ډول راپېژندلې ده:
(( قباله: د اعتبار وړ سند دی چې شکل او محتوا يې د اراضۍ د ادارې له خوا ترتيب او د دې قانون (د ځمکوالۍ چارو د تنظيم قانون) له حکمونو سره سم ورکول کېږي. ))
همدارنګه بيا په درېيم څپرکي کې د ځمکو او مليکتونو د اعتبار وړ سندونو تر عنوان لاندې شرعي قباله داسې راپېژني: ((د ځمکې د ملکيت سند (شرعي قبال) چې د لاندې شرطونو لرونکي کي:

- د ځمکې له قانوني تصفيې وروسته سند، د اړوند محکمې له خوا څخه ترتيب او صادر شوی وي.
- د ماليې ورکونې په دفتر او د اراضۍ ادارې د املاکي اساس په دفترونو کې ثبت وي.

د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظيم قانون په خپله (۲۱) يوويشتمه ماده کې اشخاصو ته د قبالې ورکول تر عنوان لاندې داسې صراحت لري: (۱) اشخاص چې د دې قانون له انفاذ دمخه د هغه وخت له نافذه قوانينو سره يې له حکومت څخه ځمکه لاسته راوړې ده، د لاندې اجرااتو تابع دي:

۱. په هغه صورت کې چې په خپله شخص يا د هغه وارثان د ځمکې د بيې ټول قسطونه ورکړي وي، د اراضۍ ادارې له خوا د ملکيت سند (قباله) هغه ته ورکول کېږي. ([1])

---

۱. عدليې وزارت، رسمي جريده (۱۳۹۶). پرلپسې (۱۲۵٤) ګڼه، د ځمکوالۍ چارو د تنظيم قانون. ۱۱۵مخ

۲. په هغه صورت کې چې شخص یا د هغه وارثان د ځمکې د بیې د قسطونو یوه برخه ورکړې وي، پاتې بیه د ورځې په نرخ سره تثبیت او له ورکړې وروسته د اراضیو اداري له خوا د اړوندې ځمکې د ملکیت سند هغه ته ورکول کېږي.

۳. په هغه صورت کې چې شخص یا د هغه وارثان د ځمکې د بیې سطونه نه وي ورکړي، د ځمکې د بیه د ورځې په نرخ سره تثبیت او د بیې له ورکړې وروسته، د ملکیت سند (قبال) هغه ته ورکول کېږي.

(۲) که چېرې شخص یا د هغه وارثان د سختو چاپېریالیزو شرایطو له امله د ځای پرېښودلو ته اړ شوي وي، د مراجعې په صورت کې په داسې حال کې چې د ځمکې د پاسه دولتي تاسیسات جوړ شوي نه وي، د اړوندې قریې، ولسوالۍ او ولایت د اراضیو د کمېسیون په تائید د اراضیو اداري په تصدیق د ورځې په نرخ په پنځو قسطونو کې د ځمکې د بیې له تحویلۍ وروسته سند (قباله) هغه ته ورکول کېږي.))

یاد قانون بیا د قبالې د ورکړې په اړه په (۲۲) ماده کې داسې صراحت لري: (۱) که چېرې یوه شخص ته د دې قانون له حکمونو سره سم ځمکه وېشل شوې وي، په هغه صورت کې چې د ځمکې ټوله بیه یې نه وي ورکړي، د اراضیو اداري له خوا هغه ته صرف لنډ مهاله او د مودې د تمدید سند ورکول کېږي.

(۲) شخص د دې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حالت کې د ځمکې مالک نه پېژندل کېږي، د ځمکې د بیې له ورکړې وروسته د اراضیو اداره هغه ته قباله (د ملکیت دایمي سند) ورکوي.

همدا قانون په خپله دروېشتمه ماده کې د قبالې د مثنې ورکولو تر عنوان لاندې داسې صراحت لري: ((که چېرې له شخص څخه ددې قانون د یووشتمې مادې په (۱) فقره کې درج د ځمکې د ملکیت یا د ځمکې د وېش مؤقت سند ورک، حریق یا له منځه لاړ شي، د سوابقو په پام کې نیولو سره ورته د هغه مثنې ورکول کېږي)).[1]

---

۱. عدلیې وزارت، رسمي جریده (۱۳۹۶). پرلپسې (۱۲۵۴) ګڼه، د ځمکوالی چارو د تنظیم قانون. ۱۱۵مخ

پر قبالې د ملکیت د رسمي سندونو بدلول په اړه په (۲۴) ماده کې داسې ذکر کوي: (۱) د دې قانون په اتلسمه ماده کې درج شوي سندونه د اراضی اداري له خوا د ځمکې د مالکیت د حق له تثبیت وروسته په قباله بدلېږي.

(۲) د ځمکې ډول، موقعیت، کدستر د قطعې شمېره، کوردینات، حدود او نور مشخصات د هئیت له خوا تثبیت او په اړوند ستون کې درجېږي. )) ([1])

---

۱. عدلیې وزارت، رسمي جریده (۱۳۹۶). پرلپسې (۱۲۵۴) ګڼه، د ځمکوالی چارو د تنظیم قانون. ۱۱۵مخ

# درېیم فصل

# د افغانستان د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون او اسلامي فقې په د وقف د حکمونو څېړل

## لومړی مبحث: د اسلامي فقې په رڼا کې د وقفي ځمکو څېړنه

وقف پېژندنه.

په خیریه او نیکو کارونو کې د یو متصرف مال د منفعت بندول یا ایسارولو ته وقف وایي.همدارنګه وقفي ملکیتونه عبارت دي له: ځمکه، ودانۍ، جومات، کورونه، کتابتون، دیني مدارس، هدیرې، دوکانونه، سرایونه، حویلۍ، برخې، ټول معنوي حقوق او ملکیتونه او نور د منفعت وړ شیان چې په خیریه کارونو کې وقف شي.

۱. وقف خاص: د یو خاص څیز وقف کول یا د هغه منفعت وقف کول د خاصو خلکو یا خاصو کارونو لپاره وقف کول.

۲. وقف عام: د یو ملکیت یا د هغه منفعت په عامو خیریه کارونو کې وقف کول.

۳. کورنۍ ته وقف: د ملکیت یا منفعت د کورنۍ یوې غړي یا ټولو ته تر یو معلوم وخته پورې وقف کول.

۴. عمومي هدیره: د ځمکې یوه برخه د مړو تدفین لپاره د یو حقیقي شخص یا حکمي شخص له لخوا وقف کول. (۱)

۵. شاړه ځمکه: هغه ځمکه چې هیڅ کرکښت پرې شوی نه وي.

۶. هغه ځمکه چې له پنځو کالو راهیسې کښت شوی نه وي:

---

۱ فتح القدير: ٣٧/ ٥ - ٤٠، ٦٢

هغـه ځمکـه چـې لـه پنځـو کـالو راهيسـې پرلپسـې فصـل پـرې کـرل شـوی نـه وي او لـه سره د کرکښت وياڼي او لارې ورته جوړې شي.

## دوهم مبحث: په اسلامي فقه کې د وقف په اړه د فقهاوو نظريات:

د جمهــورو فقهــاء کرامــو پــه نظـر د وقـف څلـور ارکـان دي، د وقــف صــيغه، وقــف، موقوف عليه او موقوف.

او د احنافو په نظر يواځې صيغه د وقف رکن دی. ([1])

لومړی: د وقف صيغه:

هغــه لفـظ چـې د وقـف پـر اراده دلالـت کـوي، چـې دا الفـاظ بيـا پـه دوه ډولـه دي: صريح او کنايه.

صـريح لفـظ: ښـکاره او واضـح لفـظ لکـه څـوک ووايـي: (وقفـتُ، وحَبَسْـتُ، سَـبَلْتُ) مـا وقف کړ، ايسار او بند مې کړ، مباح مې کړ يا مې اجازه ورکړه ([2]).

کنايـه لفـظ: پـټ معنـی لرونکـی لفـظ لکـه څـوک ووايـي: دا مـې صـدقه کـړ، دا مـې ابـدي چاتـه ورکـړ. دې تـه ځکـه کنايـه وايـي چـې د وقـف او نـورو معناګـانو احتمـال پکـې وي، نـو چـا چـې دا سې الفـاظ وويـل او د وقـف نيت يـې پکـې وکـړ نـو وقـف صـحيح کيـږي. ([3])

دوهم: واقف يا وقف کوونکی:

واقــف د عــين څيــز بنــدوونکی يــا ايســاروونکی دی، مګـر پــه دې کـې شـرط دا دی چې کـوم څيـز وقـف کـوي بايـد د تصـرف وړ وي او عقـلا شـرعا صـلاحيت د وقـف ولـري او د واقف ځينې شرائط په لاندې ډول دي:

---

۱ مخکينی مرجع.

۲ أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (وفات: ٦٧٦هـ)، روضة الطالبين، محقق: عادل أحمد عبد الموجود - على محمد معوض، الناشر: دار الكتب العلمية، (٣٧٧\٤)

۳ رد المحتار على الدر المختار (٣٠١\٣)، احكام الأوقاف د زرقاء (ص: ٣٨)

**۱: عقل:** واقف باید د پوره عقل خاوند وي دلیوني وقف نه صحیح کیږي، ځکه د ده عقل لمنځه تللی وي، همدارنګه د کم عقل، ساده، ګډوډ، یا د ډیر عمر او مرض له امله اعصاب یې کار پرېښی وي د دوی ټولو وقف نه صحیح کیږي ځکه چې دا پوره صلاحیت او تصرف نه لري. ([1])

**۲: بلوغ:** د ماشوم وقف نه صحیح کیږي، که دا ماشوم ممیز وي یا غیر ممیز وي یعنې پوهه او ادراک کولی شي یا نشي کولی، ځکه بلوغ سره اکثریت د عقل بشپړتیا راځي.

**۳:** رشد: یعنې بلوغ او ازاد، چې انسان بشپړتیا ته رسیدلی وي، نو وقف کوونکی باید ازاد وي، د عقل،غفلت او سادګی له امله له (پیرپلور او نورو تصرفاتو ) بند کړی شوی نه وي.

**۴: اختیار:** وقف کوونکی باید پوره اختیار خاوند وي، زور، جبر او زیاتی پرې نه وي، ځکه د مجبوره کړای شوي کس وقف نه صحیح کیږي.

**۵:** حریت: وقف کوونکی باید ازاد وي د غلام وقف نه صحیح کیږي، ځکه غلام مالک نه وي او د بل چا مال نشي وقف کولی، همدارنګه غاصب هم مغصوب شوی مال نشي وقف کولی. ([2])

دریم: موقوف علیه

کوم ځیز چې چاته وقف کیږي له هغې نه ګټه اخلي، چې دا باید د اجر او ثواب جهت ولري، د ګناه او عذاب جهت ونه لري، لکه: مسکینانو ته یو ځیز وقف کول، یا جومات جوړول، نهر او پول جوړول. بل دا چې دغه وقف شوی ځیز باید موقت نه وي. ([3])

**څلورم: موقوف**

---

۱ بدائع الصنائع (٦\ ٢٩١)او شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة شهاب الدين الرملي (وفات: ١٠٠٤هـ)، چاپ کال: - ١٤٠٤هـ/١٩٨٤م، نهاية المحتاج، ناشر: دار الفكر، بيروت، (٥\ ٣٥٦)

۲ بدائع الصنائع (٢٩١\٦) كشاف القناع (١۴ ٢۴٠)

۳ الانصاف (١٣\٧)

کوم ځیز چې وقف کیږي په دې کې شرط دی چې باید د واقف په ملکیت کې وي، له همدې امله امانت کیښودل شوی ځیز یا د بل چا مال نشي وقف کولی.

فقهاء کرام په موقوف کې لاندې شرطونه لازم ګڼي:

أ: معلوم مال

لکه: حیوان، ځمکه، اسلحه، کتابونه او قران کریمونه او داسې نور شیان، چې په د وامداره توګه ترې نفع اخیستل کیدای شي.

ب: معلوم او محدود ځیز وقف کول:

د وقف شوي ځیز اندازه به تعینوي چې دومره مقدار ځمکه یا بل ځیز مې وقف کړ او د مجهول اندازې او مجهول ځیز وقف صحیح نه دی. (1)

## لومړی مطلب: د جومات لپاره په وقف شوې ځمکه کې د دیني مدرسې د جوړولو حکم:

په وقفي ځمکو کې د جومات ځمکه هم راځي، نو ځکه دلته د جومات اړوند مسائلو یاودنه اړین بولو.

د فقهاء کرامو له اقوالو څخه ځینې استنباط شوي مسائل ذکر کوو چې ځینې شرعي مجوزات ترې معلومیږي او د وقف شوي اشیاوو یا ځمکې بدلول پر بدل وقف شوي ځمکې باندې جواز ورکوي:

۱: کوم وقف شوی ځمکه چې پر بل موقوفې ځمکې بدلول غواړي نو باید هغه لومړی موقوف له استفادې څخه بهر وي.

۲: له هغه لومړني موقوفې ځمکې څخه نوره استفاده ناشونې وي.

۳: کوم وقف شوی ځمکه چې پر بل بدلیږي باید ورسره نږدې وي او که لرې وي، باید له لومړي موقوف څخه اعلی وي.

---

۱ مرجع سابق

۴: کله چې موقوفه ځمکه پر بل موقوف بدولو کې مصلحت ډېر وي، نو بیا یې بدلول جائز دی.

نو له پورته شرائطو څخه موږ وایو چې کله له مسجد څخه مدرسې ته د خلکو اړتیا ډېره وي، نو جومات په مدرسه بدلول جائز دی. [1]

**دوهم مطلب: د زوړ جومات په هدیره بدلولو حکم:**

موقوفه ځمکه ټول عام منافعو پورې اړوند دی، کوم خاص فرد یا ډلې پورې اړه نه لري، نو مشکل نه لري چې کله اړتیا وي نو د جومات یوه برخه یا ټول جومات په هدیره بدله شي، مګر د پورته شرائطو په نظر کې نیولو سره چې باید دغه جومات د خلکو له اړتیا یا ګټې اضافه وي، نور د استفادې وړ نه وي، په همدې اساس فقهاء کرام وایي که روغ جومات وي او ترخنګ یې لاره تنګه وي، نو د جومات یوه برخه په لاره کې ورکولی شي، له همدې امله امام محمد رحمه الله وایي: چې جومات او لاره دواړه د خلکو د مصلحت او ګټې اخیستو لپاره دی، نو په همدې قیاس پر هدیره او قبرستانی یې بدلول هم جائز دی. [2]

**دریم مطلب: د زوړ جومات د اسبابو د استعمالولو حکم:**

په وقف کې د نفعې دوام مقصد وي او په همدې سره اجر او ثواب ورکول کیږي، که چیرې (جومات یا موقوف) څیز خراب شي، نو څه به پرې کوي؟ فقهاوو په دې کې مختلف نظریات لري. [3]

احناف وایي: د جومات وقف کولو سره دا صفت ابدي وي، که له دې جومات نه استغنی هم راشي، بیا هم د جومات نوم ورپورې وي، که جومات ړنګ هم شي او د بل

---

۱ وقف درآئنه فقه وقانون ص (۲۲۲)دکتور محمد علی خطیب بغدادی، چاپ مرکز تحقیقات علوم اسلامی امام قتیبه بغلانی.

۲ مخکینی مرجع، ص ۲۳۳

۳ الفقه الإسلامي وأدلته للزحيلي (۱۰/ ۷۶۷۲)

جومات له امله دا جومات همدا اسې رنګ پاتې شي، د امام ابوحنیفه او امام ابویوسف رحمهما الله په نظر تر قیامته به دا جومات وي، معتمد، یا وارثانو ته هم نه نقلیږي، نه یه یې سامان له یو جومات نه بل جومات ته نقلیدا ای شي ([1])

د مسکینانو او غریبانو لپاره ځمکه یا کوهی وقف کول، که چیزې د بل نږدې کوهي یا جومات له امله له دې ځخه چا استفاده نه کوله، نو د امام ابویوسف رحمه الله دوهم قول دی چې په بل جومات کې یې استعمالولی شي، مګر فتوا پر مخکیني قول د شیخینو دی. ([2])

## دریيم مطلب: د هدیرې لپاره وقف شوې ځمکې په شنه ځای بدلول:

کومه ځمکه چې د قبرستان لپاره ابدي وقف شوی وي، نو هغه ځمکه په بل ځیز کې کارول جائز نه دی او کوم قبرستان کې چې مړي خښ شوی وي نو د هغو مړو احترام لازم دی.

(وَسُئِلَ هُوَ أَيْضًا عَنْ الْمَقْبَرَةِ فِي الْقُرَى إذَا انْدَرَسَتْ وَلَمْ يَبْقَ فِيهَا أَثَرُ الْمَوْتَى لَا الْعَظْمُ وَلَا غَيْرُهُ هَلْ يَجُوزُ زَرْعُهَا وَاسْتِغْلَالُهَا؟ قَالَ: لَا، وَلَهَا حُكْمُ الْمَقْبَرَةِ) ([3])

یو ځل پوښتنه وشوه د هغې مقبرې په اړه چې په کلي کې (له ډیرې مودې راهیسې وي) او هډوکي یې ختمې شوې او د مړو هیڅ اثر یې پاتې نه وي، نه هډوکي او نه بل ځیز، نو ایا د دې ځمکې کرل او ترې ګټه اخیستل جائز دی؟ امام سرخسي وویل: نه! د دې حکم د مقبرې دی.

---

١ الدر المختار ورد المحتار: ٣/٤٠٦- ٤٠٨، ٤١٩

٢ البدائع: ٢٢٠/٦.

٣ د نظام الدین البلخي په مشرۍ د هند یو شمیر العلماوو لیکلی دی، الفتاوی الهندیة، چاپ: دار الفکر، طبع: دوهم، چاپ کال: ١٣١٠ هـ (٢/ ٤٧٠)

## څلورم مطلب: د وقف شوي ځمکې د تبادلې حکم:

په اسلامي فقه کې د وقف شوي ځمکې د تبادلې په اړه راجحه خبره دا ده چې واقف د استبدال په شرط تصریح یا وضاحت کړې وي نو جائز دی چې عین موقوف بدل شي او که واقف له تبادلې او بدلون څخه منع کړې وي یا یې په دې اړه چوپتیا غوره کړې وي، په دې اړه قاعده دا ده چې واقف او متولي نشي کولی چې په موقوف کې بدلون یا تبادله وکړي، مګر قاضي په شرعي حدودو کې دوو حالتو کې استبدال د موقوف راوستی شي:

لومړی: کله چې موقوف هیڅ د ګټې وړ نه وي یا له هغه نه ګټه اخیستل کم شوی وي لکه: وقف شوی زراعتي ځمکه، یا داسې ځمکه چې خپل مصارف نشي پوره کولی، یا وقف شوی کور وران شوی وي او د هغه ابادولو لپاره وقفي پیسې نه وي او بل څوک یې په اجاره هم نه اخلي، چې په دې صورتونو کې قاضي ته جواز لري چې عین موقوفه په بل ځیز بدل کړي.

دوهم: کله چې د موقوف ځیز بدلول د وقف په خیر او مصلحت سره وي، اګر که په دې حالت کې موقوف د استفادې او ګټې وړ هم وي، لکه: د وقف بدیله ځمکه په داسې ځای کې وي چې له لومړي موقوف څخه یې حاصلات زیات وي، یا یې موقیعت له لومړي ځمکې نه غوره، اعلی او ښه وي، نو په دې حالت کې قاضي ته جائز دی چې عین موقوف د مصلحت لپاره بدل کړي. (1)

## پنځم مطلب: د وقف شوي ځمکې ملکیت د پلورلو حکم:

د موقوفې ځمکې خرڅول خو جائز نه دی، ځکه په وقف کې دوام منفعت او دوام اجر مقصد وي، مګر که چېرې دغه موقوفه ځمکه خرابیدو ته نږدې شي نو بیا به څه کوئ؟

نو فقهاء کرام په ځینو شرطونو سره د موقوف خرڅول جائز ګڼي:

احناف وایي: د وقف شوي ځمکې جومات صفت ابدي دی یعنې تل موقوف وي،

---

1 وقف در آئینه فقه وقانون ص ۲۲۳.

اګـر کـه خـراب شـي او خلـک بـل جومـات هـم جـوړ کـړي، د امـام ابو حنيفـه او ابو يوسـف رحمهمـا الله پـه نظـر بيـا هـم جومـات دی تـر قيامتـه پـورې او فتـوا هـم د دوی پـه قـول دی، مګـر کـه د جومـات د لرګيـو او ډيـوو د ضـايع کيـدو ويـره وه نـو بيـا دې خـرڅ کـړي او پيسـې دې پـر جومـات ولګـوي، يـا دې خپـل واقـف تـه ورکـړي يـا دې فقيرانـو تـه ورکـړي کلـه چـې وقـف صـحيح شـي نـو د هغـه خرڅـول جـائز نـه دی، نـه يـې بـل څـوک مالـک ګرځـي او نـه تقسـيمېږي، مګـر کـه دغـه وقـف د شـريکانو سـره يـو ځـای وي، نـو د امـام ابو يوسـف رحمـه الله پـه نظـر د شـريک لپـاره جـائز دی چـې خپلـه برخـه پکـې وغـواړي، نـو دلتـه ويشـل يـې صحيح دی، ځکه دا ويشل لازمي ده. (۱)

د امـام ابو حنيفـه رحمـه الله پـه نظـر پـه څلـورو شـيانو سـره لـه موقـوف څخـه ملکيـت ختموي:

۱: جومات ته يې ورکول.

۲: د قاضـي پـه فيصـلې سـره، ځکـه چـې کلـه چـې اخـتلاف راشـي نـو حکـم قاضـي تـه راجع کيږي.

۳: يـا چـې واقـف وفـات شـي کلـه چـې د دې وفـات پـورې معلـق کـړی وي، لکـه څـوک وايـي: کلـه زه مـړ شـوم نـو زمـا کـور وقـف دی، نـو دا هـم د وصـيت پـه څېـر دی، د مـړي لـه دريمې حصې مال نه ورکول کيږي.

۴: يـا پـه دې خبـرې چـې دا مـې پـه خپـل ژونـد کـې وقـف کـړی دی او زمـا لـه وفـات وروسـته ابـدي وقـف دی، دا د احنـافو پـه نظـر صـحيح دی، تـر څـو چـې ژونـدی وي هغـه صـدقه دی، نـو پـر خپلـه دغـه خبـره وفـاء کـول پـرې لازم دی او رجـوع هـم جـائز دی، کـه تـر مرګه رجوع ونه کړه نو وقف يې د مال په دريمه برخه کې نافذ دی. (۲)

---

۱ الدر المختار ورد المحتار: ٤٠٦/ ٣ - ٤٠٨، ٤١٩، فتح القدير: ٥٨/ ٥

۲ الدر المختار: ۳۹۵/ ۳ - ۳۹۹.

## شپږم مطلب: د وقف شوي ځمکې د ملکيت شخصي۔ استعمال لپاره د وقف تجهيزاتو کارولو حکم:

له جومات پرته د نورو وقفي اشياوو په اړه وايي:

(أما الرجوع في وقف غير المسجد: فقد أخذ القانون بمذهب أبي حنيفة في حياة الواقف، و بمذهب الصاحبين وباقي الأئمة بعد وفاة الواقف). [1]

د جومات له ځمکې پرته په نورو وقفي شيانو کې رجوع کولو د امام ابوحنيفه رحمه الله مذهب دا دی چې دا وقف د وقف کوونکي تر ژوند پورې تړاو لري، يعنې تر څو چې ژوندی وي دغه وقف شوی شيز له وقف څخه شيز کې رجوع کولی شي، صاحبين او امام شافعي، احمد بن حنبل او مالک رحمهم الله وايي: چې د واقف له وفات وروسته دغه وقفي شيز د له وقف څخه وځي. يعنې بيا يې په نورو کارونو کې استعمالولی شي.

د واقف په ژوند کې رجوع: د مصري قانون په (۱۱) يوولسمه ماده کې وايي: واقف ته جائز دی چې په خپل ټول وقف يا بعضو کې رجوع وکړي، څرنګه چې د وقف په مصارفو او شروطو کې بدلون راوستل ورته جائز دی او که چېرې واقف دا هم پر ځان حرام کړ يعنې چې هيڅ واک پکې زما نشته او بدلون پکې نه راولي، نو دا په دې دلالت کوي چې په وقف کې رجوع او تغير راوستل جائز دی او دا خبره يواځې امام ابوحنيفه رحمه الله کړې ده. او د واقف له وفات وروسته په اړه امام ابوحينفه رحمه الله هيڅ هم نه دي ويلي او نه نورو فقهاوو ويلي دي او په دې اړه د صاحبينو راجح نظر دا دی چې وقف يو لازمي تبرع ده او رجوع ترې جائز نه ده. (۲)

---

۱ أستاذ الشيخ فرج السنهوري، قانون الوقف: ص ۲۰۸ - ۲۱۳، ۲۱۷.

۲ الفقه الإسلامي وأدلته للزحيلي (۱۰/ ۷۶۲۱)

**لومړی جز : د جومات له سامانونو څخه د امام استفادې حکم:**

څرنګه چې د جومات ځمکې وقف شوی وي، نو کوم څیزونه چې په جومات کې وي هغه هم وقف وي، نو دلته د ځمکې موضوع سره وقف تړلې نو ځکه نور موقوف شیانو استفادې په اړه یو څه رڼا اچوو.

د جومات له اضافه سامانونو، پیسو یا نورو شیانو استفاده کول جائز دی، همدارنګه له دې نه د مؤذن او امام تنخواه هم ورکولی شي، څرنګه چې ابن عابدین شامي وايي:

(ثُمّ مَا هُوَ أَقْرَبُ لِعِمَارَتِهِ كَإِمَامِ مَسْجِدٍ وَمُدَرِّسِ مَدْرَسَةٍ يُعْطَوْنَ بِقَدْرِ كِفَايَتِهِمْ) ([1])

ژباړه: بیا چې کوم یو ورته نږدې وي په هغه کې دې ورکړي، لکه: ودانۍ، د جومات امام او د مدرسې استاذ ته، د دوی کفایت په اندازه به ورکوي.

**دوهم جز : د جومات د پاتې شیانو مصرف ښوونځي او غریبانو ته ورکولو حکم:**

د جومات اضافه عاید یا نور اسباب او سامان چې د جومات له ضروریاتو اضافه وي، نو ایا په نورو خیریه کارونو کې یې لګولی شي او کنه؟

په دې اړه فقهاء کرام وايي: چې د واقف شرط د شارع د خبرې په شان دی، چې له دې شرط څخه علماء کرام نور ډېر مسائل مطرح کړي دي او دا شروط یې مختلف دي، کله واقف دا شرط ولګوي چې دا شی په همدې جومات کې ولګوه بل څیز کې یې مه لګوئ، ځینې وخت شرط د عرف په حکم باندې وي، لکه یو واقف یو معین جومات ته وقف کړي او دا وضاحت ونه کړي چې په بل څیز کې یې مصرف شي که نه؟

په عموم کې د موقوف څیز عاید او آمدن که دومره زیات شي چې ترې اضافه کیږي فقهاء کرام په دې اړه دوه نظره لري.

ځینې علماء یې مطلق د موقوف څیز په بل څیز کې استعمالول ناجائز ګڼي.

---

[1] الدر المختار وحاشية ابن عابدين (رد المحتار) (٤/ ٣٦٧)

مګر عام علماء وايي چې امام او حاکم په هر يو ځيز کې يې مصلحت، ګټه او ثواب زيات وګوري هلته دې ولګوي، څرنګه چې ابن عابدين شامي وايي:

(جَازَ لِلحَاكِمِ أَنْ يَصْرِفَ مِنْ فَاضِلِ الوَقْفِ الآخَرِ عَلَيْهِ) ([1])

ژباړه: د حاکم لپاره جائز دی چې اضافه (پيسې يا شيان) په بل وقف شوي کې استعمال کړي.

مفتي کفايت الله دهلوي وايي: وقف د ناظر اختيار دی چې د وقف زيات آمدن د خير په هر چې مناسب ګڼي استعمالولی شي. ([2])

## دريم جز : د مسجد د معتمد لخوا د وقف ملکيت څخه ګټه اخيستلو حکم:

د جومات سامان(بوټې، ډيوې يا نور شيان) متولي يا د جومات معتمد نشي استعمالولی، په دې اړه فتاوى عالمګيري کې وايي: (مُتَوَلِّي الْمَسْجِدِ لَيْسَ لَهُ أَنْ يَحْمِلَ سِرَاجَ الْمَسْجِدِ إلَى بَيْتِهِ وَلَهُ أَنْ يَحْمِلَهُ مِنْ الْبَيْتِ إلَى الْمَسْجِدِ) ([3])

ژباړه: د جومات متولي يا معتمد ته جائز نه دی چې د جومات ډيوه کور ته يوسي، بايد له کور نه جومات ته يوسي.

## لومړی مطلب: د وقف د حکمونو څېړل د افغانستان د ځمکوالی د چارو د تنظيم د قانون په رڼا کې

د افغانستان د ځمکوالی چارود تنظيم قانون په (دولسم) څپرکي، اوولسمه ماده کې د وقفي ځمکو په اړه يادونې شوې ده، چې دلته يې ذکر کوو: (۱) هغه ځمکه چې وقف کېږي، د مالک يا واقف له ملکيت او تصرف څخه وځي او د موقف عليه په

---

۱ پورتنی مرجع (٤/ ٣٦٠)

۲ کفايت المفتي ج۲ ص ۲۷۸، مفتي کفايت الله دهلوي، چاپ: مکتبه اعزازيه پشاور.

۳ الفتاوى الهندية (٢/ ٤٦٢) د نظام الدين البلخي په مشرى د هند يو شمير العلماوو ليکلی دی، چاپ: دار الفکر، طبع: دوهم، چاپ کال: ۱۳۱۰ هـ

ملکیت کې نه داخلېږي(۲) وقف شوې ځمکه که په مر مقصد وقف شوې وي، ګټه یې په هماغه مقصد په مصرف رسېږي. (۳) د وقفي ځمکو پلورل، هبه، ترکه، تبادله، وصیت او د تملیک نور موارد جواز نه لري. (۴) په مرکز او ولایتونو کې د اوقاف اداره مکلفه ده د وقفي ځمکې په اړوندو دفترونو کې ثبت او له هغو څخه څارنه وکړي. (۵) په وقفي ځمکو پورې نورې اړوندې چارې په اړوند تقنیني سند کې تنظیږي.)

## دویم مطلب: د ځمکې ویش: د افغانستان د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم قانون او اسلامي فقې په اساس د ځمکې ویش:

۱: اقطاع: پرې کولو ته وایي او په اصطلاح کې د حاکم لخوا چاته شاړه ځمکه ورکولو ته وایي، په دې شرط چې دغه ځمکه هیڅ پورې اړه ونه لري، بلکې دولتي ځمکه وي. چې دا لفظ اکثره د ځمکې په اړه استعمالیږي. ([1])

کله چې امیر چاته کومه ځمکه ورکړي، نو دغه شخص د دې ځمکې مالک ګرځي، له دې وروسته یې خرڅولی هم شي، هبه کولی هم شي او بل چاته په میراث هم پرېښودی شي. ([2])

**۲: تحجیر:**

تحجیر کاڼي کېښودو ته وایي، یعنې چې د کومې شاړې ځمکې څلورو طرفونو ته کاڼي کېږدي او نښه یې کړي چې دا زما ځمکه ده، همدارنګه د ونو څانګې له خاورو سره کېښودل یا څانګې نیال کول، یا دغه ځمکه له خځلو، ونو او ازغیو پاک کړي، دا ټول د دې کس په واک کې راګرځي. ([3])

---

۱ نیل الأوطار: ۳۱۱/ ۵.

۲ الماوردي أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبیب البصري البغدادي، الشهیر بالماوردي (وفات: ٤٥٠هـ) الأحکام السلطانیة ناشر: دار الحدیث –القاهرة،: ص ۱۸۳

۳ الدر المختار وحاشیة ابن عابدین (رد المحتار) (٦/ ٤٣٣)

تحجیر هم د اقطاع په څېر دی چې څوک یوه ځمکه راژوندۍ کړي، نو دا ځمکه د هغه حق ګرځي، چې دغه موده یې د امام ابوحنیفه رحمه الله درې کاله دی، د عمر رضی الله عنه د قول له امله چې فرمایي: د متحجر لپاره له دریو کالو وروسته حق نشته.

## دویم مبحث: د ځمکې د ویش حکمونه د قانون او اسلامی فقې په رڼا کې:

د ځمکې ویش یا چاته چې امام او حاکم وغواړي ځمکه ورته جلا کړي، حکم یې دا دی چې د دې ځمکې ملکیت د تل لپاره د دغه شخص ګرځي، د دې ثبوت د نبی صلی الله علیه وسلم له عمل څخه هم نقل دی، چې زبیر رضی الله عنه ته یې د آس د یوې دمې په اندازه ځمکه ورکړې وه. (1)

## لومړی مطلب: د ځمکې ویش څه شی دی؟

د مستحقو کسانو ترمنځ د خپلو برخو ځمکه ورکولو ته ویش وایې، چې د ځمکې ویش مختلفې لاملونه لري، یابه دا ځمکه د حاکم لخوا ورکول کیږي، یا به شاړه ځمکه وي او څوک یې اباد کړي، نو دا ځمکه د هغه په برخه رسیږي، یا کومه ځمکه د مجاهدینو لخوا په غنیمت کې ونیول شي، چې دا هم د امیر او حاکم لخوا پر خلکو ویشل کیږي، ځکه غیر منقولي شیزونه هم د نورو غنیمتونو په څېر دی چې امیر به یې تقسیموي او یا به ځمکه په میراث چې چاته پاتې وي او د وارثانو ترمنځ به په معلومې اندازې سره ویشل کیږي. (2)

1 سنن أبی داود-ن (3/ 142) باب فی اقطاع الارضین، حدیث نمبر: (3074) شیخ البانی یې په تحقیق کې وایي: ضعیف الاسناد دی.

2 الفقه الإسلامي وأدلته للزحيلي (6/ 4595)الفصل الاول احکام الأراضي.

**دوهم مطلب: د افغانستان د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم او اسلامي فقهې په رڼا کې د ځمکې د ویشلو طریقې:**

**لومړی جز : افراز:**

افراز تقسیم او ویشلو ته وایي او د فقهاوو په نظر مختلف تعریفونه لري، احناف وایي: افراز یا تقسیم هغې شائع برخې ته وایي، چې په یو معین او مخصوص مکان کې وي، د مجلة الاحکام (۱۱۱۴) ماده کې داسې وایي: تقسیم یا افراز د شائع حصې تعین ته وایي، لکه: کښت، وزن یا پیمانه، چې د ځینو برخه له ځینو نورو څخه جلا کړي، چې د هر یو کس برخه په ټولو اجزاوو کې منتشر وي. ([1])

**دوهم جز : جلا کول:**

د برخې تقسیم یا ویش په دوه ډوله دی یو جبري او بل رضائي.

جبري ویش یا د ځمکې جلا کول هغه دی چې قاضي یې په خپله فیصله او قوت سره نافذوي، چې له دې نه یو شریک هم انکار نشي کولی.

رضایت سره د ځمکې ویش یا جلا کول دا دی چې ټول شریکان په خوښۍ او رضایت سره برخه ورکړي. ([2])

**دریم مبحث: د غصب حکمونه د قانون او اسلامی فقهې په رڼا کې:**

دا چې غصب په اسلامي شریعت او د افغانستان په قوانینو کې هم منعه ذکر شوی دی، نو د دې مبحث د لاښه پوهېدو لپاره په لومړي قدم کې به غصب د افغانستان د ځمکوالۍ چارو په تنظیم قانون کې او بیا به ورپسې په اسلامي شریعت کې د غصب احکام لوستونکوو ته وړاندې کړو، په لومړي قدم کې د غصب به غصب د قانون په رڼا کې تر څېړنې لاندې ونیسم.

---

[1] مجلة الاحکام العدلیة،المادة (١١١٤)

[2] الفقه الإسلامي وأدلته للزحیلي (٦/ ٤٧٣٧)

## لومړی مطلب: غصب د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم د قانون په رڼا کې

د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون د غصب داسې راپېژني: ((د مدار اعتبار سندونو یا قانون د حکم له لرلو پرته د دولتي، عامه، شخصي مرعي(عامه او خاصه) او وقفي ځمکو تصرف، تصاحب، ګټه اخیستنه، انتقال، رهن، اجاره یا په کرایه ورکول د ځمکې د ځمکې غصب پېژندل شوی، چې مرتکب د اړوندو قوانینو له حکمونو سره سم مجازات کېږي.)) ([1])

همدارنګه نوموړی قانون بیا په خپل دولسم څپرکي د جزایي حکمونو تر عنوان لاندې د ځمکې د غصب مجازات ذکر کړي دي، چې د لوستونکو د لا ښه پوهېدو لپاره به یې دلته پرې رڼا واچوو:

د ځمکې د غاصب مجازات، نوموړی قانون په خپله شپږ نوي یمه ماده (۹۲) ماده کې د ځمکې د غصب مجازات دارنګه ذکر کړي دي: (لومړۍ فقره: د ځمکې د غصب مرتکب د ځمکې د استرداد سربېره له لاندې مجازاتو څخه په یوه هم محکومېږي:

۱. په هغه صورت کې چې د غصب شوې ځمکې ارزښت تر درې سوه زره افغانیو پورې وي په قصیر حبس.

۲. په هغه صورت کې چې د غصب شوې ځمکې ارزښت له درېیو سوو زرو تر یو میلیون افغانیو پورې وي، په متوسط حبس تر دوو کلونو پورې.

۳. په هغه صورت کې چې د غصب شوې ځمکې ارزښت له یوه میلیون څخه تر پنځو میلیونه افغانیو پورې وي، په متوسط حبس له درېیو کلونو زیات.

۴. په هغه صورت کې چې د غصب شوې ځمکې ارزښت تر پنځه میلیونه افغانیو زیات وي، تر لسو کلونو پورې په طویل حبس.

---

۱. عدلي وزارت، رسمي جریده پرلپسې ()، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون، ۲۰ مخ

(۲) دویمه فقره: د ځمکې د غصب د جرمونو محکومین د افغانستان اسلامي جمهوریت د ریاست مقام د عفو او تخفیف د فرمانونو له مزایاوو څخه نه شي برخمن کېدای.

(۳) دریمه فقره: د ځمکې د غصب د جرم مرتکب مکلف دی، د حکم د صادرېدو له نېټې څخه د دریو میاشتو په ترځ کې، غصب شوې ځمکه تخلیه کړي او د ځمکې د مالکیت د ادعا سندونه د هغې قانوني مالک ته وسپاري.

(۴) څلورمه فقره: هغه شخص چې غصب شوې ځمکه یې خرڅه کړې وي مکلف دی د حکم د صادرېدو له نېټې څخه د دریو میاشتو په ترځ کې پېرېدونکي ته د غصب شوې ځمکې بیه ورکړي.

(۵) پنځمه فقره: هغه شخص چې غصب شوې ځکمه یې په اجاره یا کرایه ورکړې وي، مکلف دی د حکم د صادرېدو له نېټې څخه د دریو میاشتو په ترځ کې د اجارې یا کرایې څخه راپیدا شوی منفعت د ځمکې مالک ته ورکړي.

(۶) شپږمه فقره: که چېرې د غصب له امله ځمکه تخریب یا هغې ته زیان ورسېږي، مرتکب مال ته د وارد شوي زیان په جبران، هم محکومېږي.

د وارد شوي زیان او د هغه مبلغ د تخنیکي ټیم په واسطه محاسبه کېږي.

(۷) اوومه فقره: د ځمکې د غصب د جرم مرتکب مکلف دی ځمکه مسترده کړي او د هغه د ځمکې د مالکیت د ادعا سندونه باطل ګڼل کېږي.[۱]

همدارنګه نوموړي قانون بیا په خپله (۹۷) اووه نوي ماده کې د ځمکې د غصب د جرم مشدده حالت په لاندې ډول ذکر کړي دي:

((له لاندې حالتونو څخه د یوه د شتون په صورت کې د ځمکې د غصب جرم مشدده ګڼل کېږي او مرتکب په دې قانون کې د پیشبیني شوو جزاګانو په اکثر حد محکومېږي:

---

۱. د ځمکوالی چارو د تنظئم قانون ۱۱٤-۱۱۵مخونه

۱. جرم له زور، اجبار، اکراه، ارعاب یا تهدید څخه په ګټې اخیستنې صورت موندلی وي.

۲. د اړوند دولتي ادارو له خوا د شفاهي یا کتبي اطلاع او اخطار سره سره د غصب شوې ځمکې د تصرف تداوم.

۳. د ځمکې د غصب لپاره د یوه یا له یوه څخه زیاتو اشخاصو ته د ستور ورکولو، امر کول، تمویلول او یا واداره کول.))[1]

**دویم مطلب: د ځمکې په غصب کې د جرم تعدد:**

د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په خپله اته نوي (۹۸) ماده کې د ځمکې په غصب کې د جرم تعدد لاندې حالتونه ذکر کړي دي، چې لیکي: د ځمکې د غصب د جرم مرتکب په لاندې حالتونو کې د مرتکب شوو جرمونو د جزاګانو د هر یوه په اکثر حد محکومېږي، په دې شرط له شلو کلونو څخه تجاوز ونه کړي:

۱. د رشوت د ورکولو او یا د فریب او د سندونو د تزویر په صورت کې.

۲. له قدرت، نفوذ او یا رسمي مقام څخه د ناوړه ګټې اخیستنې په صورت کې.[2]

همدارنګه د اسلامي امارت د بیا واکمنېدو سره سم د ۱۴۴۴هـ ق کال د ربیع الثاني د میاشتې په لسمه نېټه پرله پسې نمبر (۱۴۲۴) ګڼه د ځمکې د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد مقرره خپره کړې ده، چې نوموړې مقرره څلور فصلونه لري، په لومړي څپرکي کې یې عمومي احکام ذکر شوي دي، چې پنځه مادي لري، په دویم څپرکی یې غصب شویو ځمکو ته رسیده ګي او دریېم څپرکی یې غصب شوي ځمکو په اړه اجراات او څلورم څپرکی کې یې نهایي احکام دي.

د نوموړې مقررې د لومړي څپرکي په دریېمه ماده کې یو لړ اصطلاحات ذکرشوي دي، چې لومړۍ اصطلاح د ځمکې غصب دی، نوموړې مقرره د ځمکې

---

۱. د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون ۱۱۶مخ

۲. پورته ذکر شوی ماخذ، ۱۱۷مخ

غصب داسې راپېژني: ((د مالک یا د هغه چا له اجازې څخه پرته چې د اجازې خاوند وي، د څمکو تصاحب او تصرف دی.)).([1])

## دریم مطلب : د اسلامي فقهې په رڼا کې غصب

امام کاساني وايي: جنایت په دوه ډوله دی: یو جنایت پر ځارویو او جماداتو، بل جنایت پر انسان، نو پر ځارویو او جماداتو جنایت په دوه ډوله دی: یو غصب او بل اتلاف.

نو غصب پر یو څیز په ظلم، زیاتی او جبر سره لاس کېښودل او اخیستل یې، چې د بل چا حق پکې تلف شي او د هغه پر ملکیت تجاوز وشي، مګر شرط پکې دا دی چې مال باید ښکاره واخیستل شي، ځکه په پټه د چا مال اخیستل غلا ده او د هغه جدا حکم دی او مال باید متقوم یا محترم مال وي، نو د شرابو او خنزیر په زوره اخیستل ترې جلا شو او د مالک له اجازې پرته اخیستل شوی وي([2])

## څلورم مطلب: د اسلامي فقهې په رڼا کې د دولتي څمکو غصبول

څمکې که عامې وي یا دولتي د ټولو غصبول جرم دی، چې په دې اړه لومړی د قران کریم د ایتونو په رڼا کې بحث کوو، ورپسې نبوي احادیث رانقلوي، همدارنګه د فقهاء کرامو اجماع او د قیاس دلائل وړاندې کوو.

### لومړی جز : د څمکو غصب د قرآني آیتونو په رڼا کې

د غصب حرمت په اړه قران کریم کې الله تعالی فرمايي:

---

۱. عدلیې وزارت، رسمي جریده (۱۴۲۴). کال: ۱۴۴۴هـ ق. د څمکې د غصب د مخنیوي او غصب شویو څمکو د استرداد مقرره. دریمه ماده.

۲ کشاف القناع: ۸۳/ ٤.

{يَـا أَيُّهَـا الَّـذِينَ آمَنُـوا لَا تَـأْكُلُوا أَمْـوَالَكُمْ بَيْـنَكُمْ بِالْبَاطِـلِ إِلَّا أَنْ تَكُـونَ تِجَـارَةً عَـنْ تَـرَاضٍ مِـنْكُمْ} [النساء: ۲۹]

ای مؤمنانو خپلو منځونو کې خپل مالونو په باطله طريقه مه خورئ، مګر که په رضايت سره ستاسې تجارت وي.

بل ايت کې فرمايي: {ولا تأكلوا أموالكم بينكم بالباطل، وتدلوا بها إلى الحكام، لتأكلوا فريقاً من أموال الناس بالإثم، وأنتم تعلمون} [البقرة:۱۸۸].

تاسې خپل مالونو خپلو منځو کې په باطله طريقه مه خورئ، چې حاکمانو ته يې وړاندې کوئ، چې يوه ډله يې خلکو له مالونو څخه په ګناه سره وخوري او تاسې ښه پوهيږئ.

## دوهم جز : د ځمکو غصب د نبوي احاديثو په رڼا کې

رسول الله صلى الله عليه وسلم د غصب په اړه فرمايي:

«إن دماءكم وأموالكم حرام عليكم كحرمة يومكم هذا، في شهركم هذا، في بلدكم هذا» ([1])

يقينا ستاسې وينې او ستاسې مالونه پر تاسې داسې حرام دی لکه نن ورځ چې حرام دی، په دغه مياشت کې او په دې ښار کې.

## دريم جز : د ځمکو غصبول د اجماع په رڼا کې

د ځمکې غصبول د ټول امت په اجماع سره حرام دی، بلکې له کبيره ګناهونو څخه ګڼل کيږي، اګر که مغصوب څيز د غلا نصاب ته ونه رسيږي. ([2])

نو په دې کې د عامو خلکو ځمکه يا حکومتي ځمکه هر يو داخل دی.

---

۱ صحيح مسلم (٦/ ٢٤٥)

۲ الفقه الإسلامي وأدلته للزحيلي (٦/ ٤٧٨٧)

**شلورم جز : د قیاس په رڼا کې د دولتي ځمکو غصبول**

کوم ثیز چې په قران کریم، نبوي سنت او اجماع سره حرام ثابت شي، هغه به قیاس کې هم حرام وي او په داسې کې ثیز کې بیا قیاس ته اړتیا نه وي.

**شلورم مبحث: مجازات او جزایي حکمونه د قانون او اسلامی فقهې په رڼا کې:**

د ځمکې د غصب په اړه په قرآن کریم، نبوي سنت او اسلامي فقه کې مجازات ذکر شوي دي همدارنګه د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون هم د ځمکې چارو پورې اړوند مجازات او جزایي حکمونه ذکر کړي دي، په لومړي سر کې به د قانون په رڼا کې د ځمکې پورې اړوند مجازات او جزایي حکمونه تر شېړنې لاندې ونیسم او بیا به ورپسې په اسلام کې د ځمکې اړوند جرمونو مجازات او جزایي حکمونه وشېړم.

**لومړی مطلب:مجازات او جزایي حکمونه د قانون په رڼا کې:**

د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په خپل دولسم شپرکي کې د جزایي حکمونو عنوان لاندې په ځمکې پورې اړوند ټول مجازات ذکر کړي دي.

**الف: د ځمکې د غاصب مجازات:**

د ځمکې د غصب مرتکب د ځمکې پر استرداد سربېره له لاندې مجازاتو څخه په یوه هم محکومېږي:

۱. په هغه صورت کې چې د غصب شوې ځمکې ارزښت تر درې سوه زره افغانیو پورې وي په قصیر حبس.

۲. په هغه صورت کې چې د غصب شوې حمکې ارزښت له درې سوو رو تر یو میلیون افغانیو پورې وي په متوسط حبس تر دوو کلونو پورې.

**۳**. په هغه صورت کې چې د غصب شوې ځمکې ارزښت له یوه میلیون څخه تر پنځوس میلیونه افغانیو پورې وي، په متوسط حبله دریېو کلونو پورې.

**۴**. په هغه صورت کې چې د غصب شوې ځمکې ارزښت تر پنځه میلیونه افغانیو زیات وي، تر لسو کلونو پورې په طویل حبس.

همدارنګه په خپله دویمه فقره کې بیا دارنګه حکم کوي: ((د ځمکې د غصب د جرمونو محکومین د افغانستان اسلامي جمهوریت د ریاست مقام د عفو او تخفیف د فرمانونو له مزایاوو څخه نه شي برخمن کېدای.)).

د ځمکې د غصب د جرم مرتکب مکلف دی د حکم د صادرېدو له نېټې څخه د دریېو میاشتو په ترڅ کې، غصب شوې ځمکه تخلیفه کړي او د ځمکې د مالکیت د ادعا سندونه د هغې قانوني مالک ته وسپاري.

**۴**. هغه شخص چې غصب شوې ځمکه یې خرڅه کړې وي مکلف دی د حکم د صادرېدو له نېټې څخه د دریېو میاشتو په ترڅ کې، پېرېدونکي ته د غصب شوې ځمکې بیه ورکړي.

**۵**. هغه شخص چې غصب شوې ځمکه یې په اجاره یا کرایه ورکړې وي، مکلف دی د حکم د صادرېدو له نېټې څخه د دریېو میاشتو په ترڅ کې د اجارې یا کرایې څخه راپیدا شوې منفعت د ځمکې مالک ته ورکړي.

**۶**. که چېرې د غصب له امله ځمکه تخریب یا هغې ته زیان ورسېږي، مرتکب مالک ته د وارد شوي زیان په جبران هم محکومېږي.

د وارد شوي زیان او د هغه مبلغ د تخنیکي ټیم په واسطه محاسبه کېږي.

**۷**. د ځمکې د غصب د جرم مرتکب مکلف دی ځمکه مسترده کړي او د هغه د ځمکې د مالکیت د ادعا سندونه باطل ګڼل کېږي. (۱)

---

۱ عدلیې وزارت، رسمي جریده (۱۴۲۴). کال: ۱۴۴۴هـ.ق. د ځمکې د غصب د مخنیوي او غصب شویو ځمکو د استرداد مقرره. دریېمه ماده.

**ب: د ځمکې د غصب د جرم مشدده حالتونه**

له لاندې حالتونو څخه د يوه د شتون په صورت کې د ځمکې د غصب جرم مشدده ګڼل کېږي او مرتکب يې د ځمکوالي چارو د تنظيم په قانون کې د پيشبيني شوو جزاګانو په اکثر حد محکومېږي:

۱. جرم له زور، اجبار، اکراه، ارعاب يا تهديد څخه په ګټې اخيستنې صورت موندلی وي.

۲. د اړوند دولتي ادارو له خوا د شفاهي يا کتبي اطلاع او اخطار سره سره د غصب شوې ځمکې د تصرف تداوم.

۳. د ځمکې د غصب لپاره د يوه يا يوه څخه زياتو اشخاصو ته دستور ورکول، امر کول، تمويلول او يا وادار کول.

**ج: د ځمکې په غصب کې د جرم تعدد**

د ځمکې د غصب د جرم مرتکب په لاندې حالتونو کې د مرتکب شوو جرمونو د جزاګانو د هر يوه په اکثر حد محکومېږي، په دې شرط چې له شلو کلونو څخه تجاوز ونه کړي:

۱. د رشوت د ورکولو او يا د فريب او د سندونو د تزوير په صورت کې.

۲. له قدرت، نفوذ او يا رسمي مقام څخه د ناوړه ګټې اخيستنې په صورت کې.

همدارنګه د ځمکوالۍ چارو د تنظيم قانون په خپله نهه نوي (۹۹) ماده کې د تصفيې محل ته د زميندار نه حاضرېدل په اړه دارنګه مجازات ذکر کړي دي: ((که چېرې زميندار، ورثه او د هغه قايم مقام له خبرتيا وروسته له شرعي عذر پرته په محل کې د تصفيې هئيت د کار تر پای ته رسېدو پورې د زمينداری ساحې د تصفيې په غرض حاضر نه شي، تر پنځوس زرو (۵۰۰۰۰) افغانيو پورې په نقدي مجازاتو محکومېږي.

په ځمکې پورې د اړوندو تاسیساتو او محلقاتو عمدي ویجاړول یا تخریب په اړه د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون په سلمه ماده کې داسې حکم کړی دی: ((هغه شخص چې په دولتي، عامه، شخصي، عامه مرعي او خاصه مرعي ځمکو په قطعو پورې اړوند د اوبو لګولو سیستم، تجهیزات او نور مرافق عمداً ویجاړ کړي، د واردې شوې خسارې پر جبران سربېره، د واردې شوې خسارې معادل په نقدي جزاء هم محکومېږي.))

که چېرته د ځمکې له تحولاتو او انتقالاتو څخه خبر ورنه کړل شوي نو موږ ی قانون د داسې حالت لپاره مجازات په خپله یو سلو یوه یمه ماده کې ذکر کړي دي: ((هغه زمیندار چې د کانونو او تاریخي آبداتو د پیدا کېدو په شمول عمداً د ځمکې له تحولاتو او انتقالاتو څخه د اراضۍ اداري ته د لسو (۱۰) کاري ورځو په موده کې په واقعي ډول معلومات ورنه کړي، له شپږ زرو څخه تر دېرش زرو افغانیو پورې په نقدي جزاء محکومېږي.

که چېرې مستحق یا د هغه د کورنۍ غړي د ځمکې له وېش څخه تر یوه کاله پورې د ځمکې په کښت او کار او آبادولو لاس پورې نه کړي یا له مؤجه عذر پرته د ځمکې درې قسطه پرله پسې ورنه کړي ځمکه ورڅخه مستردېږي او که چېرې د وېشل شوې ځمکې قسطونه په ټاکلي وخت ورنه کړي د هغې د ټاکلې مودې تر تېرېدو وروسته د قسطونو پر ورکړې سربېره د پنځه فیصدو معادل مبلغ جریمې پر ورکړې هم مکلف دی. که چېرې د ځمکې مستحق د ملکیت د سند له اجراء د مخه، وېشل شوې ځمکه انتقال یا یې وپلوري د ځمکې پر استرداد سربېره، دولت د خسارې پر جبران مکلف دی.

که چېرې ثابته شي چې شخص د واقعیت پر خلاف خپل ځان مستحق معرفي کړی، وېشل شوې ځمکه له هغه څخه مستردېږي، د هغه تحویل شوي قسطونه د ورکړې وړ دي، همدارنګه که چېرې یو شخص د ځمکو یا ملکیتونو د سندونو د تزویر

مرتکب شي، د اراضی اداره هغه د عدلي تعقیب لپاره عدلي او قضايي مراجعو ته ورپېژني. ([1])

## دوهم مطلب: مجازات او جزايي حکمونه د اسلامي فقهې په رڼا کې

چې څوک له غصب او د هغه له ګناه خبر وي، نو دا ګناه ده او عمدا قصدا پر ګناه ځان اخته کول دي، چې غاصب ته باید په وهل او زندان زجر ورکړ شي، تر څو د خلکو ترمنځ اصلاح راشي او بل څوک دا سې اقدام ونه کړي.

او که چا داسې ګومان کولو چې دا ځمکه زما ده او اخیستی یې نو پر دې هیڅ ګناه نشته او نه زجر ورته شته ځکه خطاء شوی دی او خطاء معاف دی، ځکه قران کريم ایت کې راځي:

{ربنا لا تؤاخذنا إن نسينا أو أخطأنا} ([2])

ای زما ربه! موږ په هغو کارونو مه نیسه چې له موږ هیر وي یا خطاء شوي یوو.

حدیث کې فرمايي: چې زما له امت څخه خطاء او هیره معاف شوی دی. ([3])

## دریم مطلب: د غصب شوي څیز مجازات او جزايي حکمونه

کله چې غصب ثابت شي او د هغه په لاس کې اوس کې هم موجود وي، نو لومړی باید مغصوب څیز خپل مالک ته واپس شي، که چې د غاصب او مغصوب منه ترمنځ فاصله ډیره وي نو باید هماغه ځای ته یې ورسوي.

او که چېرې مغصوب څیز د غاصب په لاس کې هلاک شوی وي، نو په دې وخت کې پرې تاوان ورکول لازم دی، احناف وايي: یوازې د منقولي شیانو تاوان پرې شته د غیر منقولي نشته او عام فقهاء وايي: چې منقولي او غیر منقولي تاوان به ورکوي،

---

١. د عدلیې وزارت، د ځمکوالی چارو د تنظیم قانون

٢ [البقرة: ٢٨٦]

٣ السنن الکبری للبیهقي (٧/ ٣٥٦) شیخ الباني په صحیح الجامع الصغیر وزیادته (١/ ٦٥٩) کې ورته صحیح ویلی دی.

مګر چې د غـه هلاکـت د غاصـب لخـوا شـوی وي او کـه اسـماني آفـت لـه املـه هـلاک شـوی وي نو تاوان پرې نشته.

کـه د غـه مغصـوب شیـز مثـل ولـري، نـو هـم مثلـه شیـز بـه ورکـوي او کـه مثـل ونـه لـري نـو د هغه قیمت به ورکوي، د تاوان اخیستو په اړه الله تعالی فرمايي:

{فمن اعتدى عليكم، فاعتدوا عليه بمثل ما اعتدى عليكم} ([1])

چا چې پـر تاسـې تیـری وکـړ نـو تاسـې هـم (د تیـري بدلـه) واخلـئ، څرنګـه چې پرتاسـې تيري يکړی.

هـم مثلـه شـیان پـه څلـور ډولـه دي: وزنـي، انـدازه ئـي، عـددي او ځینـې ګـز او متـر کیدونکي شیان. ([2])

---

[1] [البقرة:١٩٤]

٢ الفقه الإسلامي وأدلته للزحيلي (٦/ ٤٨٠٢)

## پایله

له پورته لیکنې او رسالې څخه زه لاندې نتایجو ته ورسیدم:

د ځمکوالۍ د چارو د تنظیم د قانون د احکامو او اسلامي فقې په رڼا کې د قانون احکام روښانه شو.

په افغانستان کې د قانون ګذارۍ په برخه کې د اسلامي شریعت اهمیت څرګند شو او په دې اړه له ډیرو احکامو خبر شوو.

د اسلامي فقهې هغه ستر منزلت روښانه شو، چې د علومو لپاره ډیر احکام پکې شتون لري.

مقنینینو ته د تقنین په برخه کې د دې جرئت ورکړ شو، چې د قانون جوړونې په هره برخه کې د اسلامي فقهې د اصولو او قواعدو رعایت وکړي.

د ځمکې د مالک ملکیت، حقوق، په قانون او فقه کې یې تصرف او واک، د ځمکې په ویش کې د ورثوو حقوق، د کرنیزو او غیر کرنیزو ځمکو پېژندنه، احکام او مسائل ذکر شو.

د بزګر، اجاره کوونکي، په قانون او فقه کې د دوی حقوق، احکام او اړوند نور موضوعات هم وڅیړل شو.

په وقف شوي ځمکه جومات، مدرسه، یا نورو ابادیو جوړولو حکم، یا د وقف شوي ځمکې خرڅول او پیسې په نورو خیریه کارونو کې لګول، یا د جومات اضافه شیان په نورو کارونو کې لګولو حکمونه مو ولوستل.

ځمکو ته قانوني لاسرسی ښودل شوی پرمختللې ده خو له اداري فساد سره د مبارزې او د پړاوونو د طی کولو لنډوالي او ساده والي ته په دې برخه کې جدي پاملرنې ته اړتیا شته.

د ځمکې د ملي پالیسۍ په تصویب سره د هېواد د ځمکوالۍ د نظام لپاره چې د ځمکوالۍ د نظام ټول ګټور اړخونه یې څېړلي دي، د یوه هر اړخیز او برخلیک

ترڅو نوموړی سند په رښتیا سره په عملي ډول سرته ورسیږي. تاکونکي سند په توګه په تیوري کې او یو څه په عملي ساحه کې هم ترلاسه شوې ده.

## مناقشه

- زما د رسالې موضوع د افغانستان د ځمکوالی چارو د تنظیم قانون حکمونه د اسلامي فقې په رڼا کې ده، نو پورته عنوان ته په کتو زما په څېړنه کې دوه اړخونه چې یو قانون او بل اسلامي فقه ده، نو د دې موضوع مناقشه په لاندې ډول وړاندې کوم:
-
- د افغانستان د ځمکوالی چارو د تنظیم قانون په خپل لومړي څپرکي دریمه ماده کې د ځمکو وېش ذکړی دی، چې په نوموړي قانون ځمکې په څوارلس (۱۴) ډولونو وېشل شوي چې عبارت دي له: کرنیزه ځمکه، صالح الزراعه ځمکه، نیمه کرنیزه ځمکه، غیر کرنیزه، بکره ځمکه، بایره ځمکه، وقفي ځمکه، مشاع ځمکه، دولتي ځمکه، شخصي ځمکه، عامه ځمکه، مرعي ځمکه، عامه مرعي ځمکه او خاصه مرعي ځمکه، دلته لازمه ګڼم چې د ځمکې پورته ذکر شوی هر ډول په تفصیل سره تشریح کړم:
- خو د اسلامي فقې په رڼا کې ځمکه بیا په پنځه ډوله ویشل شوی دی: د اجارې ځمکه، عشري او خراجي ځمکه، میت لخوا متروکه ځمکه او شاړه یا احیاء موات یا بې وارثه ځمکه.
- همدارنګه قانون موږ ځمکه عقار ځمکه داسې پېژني:
- عقار له: ((له ځمکې، ودانۍ، ساختمانونو او د هغوی محلقات او مرافقات څخه عبارت دي.))
- غیر کرنیزه ځمکه
- قانون غیر کرنیزه ځمکه داسې راپېژندلې ده: (( بکره (موات) او بایره هغه ځمکه ده چې تر کرنیزې ګټې اخیستنې لاندې نه وي) او له هغې ځمکې څخه ده په عادي شرایطو کې تر پنځو پرله پسې کلونو پورې تر کرنې لاندې نیول شوې نه وي او د اوبو لګولو د نوي سیستم له اصلاح یا احداث وروسته تر کرنې لاندې ونیولای شي.
- مګر په اسلامي فقه کې غیر کرنیزه ځمکه داسې تعریفوي:
- هغه ځمکه ده چې د چا په ملکیت کې نه وي او څوک ترې له هیڅ اړخه ګټه نه اخلي او بل دا چې له ښار نه باید بهر وي.

- چې کومه شاړه ځمکه کې د چا په ملکیت کې داخل وي یا په ښار کې دننه وي، یا بهر وي مګر د چا لخوا ترې چاپیره د لرګیو، ډبرو یا څرځای احاطه کړی وي، نو دا شاړه ځمکه نه وي.
- د قانون له مخې د شاړې ځمکې پر تعریف یو څه نیوکې کیږي، چې کیدای شي ډیرې ځمکې وي چې تر پنځو یا له دې زیاتو کلونو د کرنیزې ګټې اخیستنې لاندې نه وي، بیا هم د چا په ملکیت کې داخل وي، یا چا ترې د تیږې او لرګي تاو کړی وي یا همداسې څړ ځای وي، یا دا چې دغه ځمکه ښار سره نږدې نه وي، نو دا ټول د خلکو ملکیت کې داخل دي، نو دلته د فقې تعریف ډېر بشپړ او جامع دی، ځکه چې د دې په تعریف کې وایي: چې د چا لخوا ډبرې یا لرګي ترې چاپیره شوی وي، یا نور شرایط پکې وي، چې پورته ذکر شو، بیا به دا ځمکه غیر کرنیزه حسابیږي.
- د بزګری یا کرکښت لپاره ځمکه ورکول د اسلامي فقهې اکثرو فقهاوو په نظر جائر نه دی، دوی وایي: دا فاسده بیعه ده، ځکه تر اوسه ثمر او نتیجه یې معلومه نه ده او اندازه ټاکل شوی وي.
- مګر بیا هم ځینې احناف او شوافع علماء کرامو مزارعت ته جواز ورکړی، د دوی دلیل دا دی چې دا یو ډول شراکت او مضاربت دی او شراکت په اسلام کې جائز دی، پل دا چې نن سبا د خلکو اړتیا هم زیاته ده.
- او په قانون کې د ځمکې په کرکښت ورکول مطلق جواز لري.
- د قانون له مخې د ځمکې غصب: د مدار اعتبار سندونو یا د قانون د حکم له لرلو پرته د دولتي، عامه، شخصي مرعي(عامه او خاصه) او وقفي ځمکو تصرف، تصاحب، ګټه اخیستنه، انتقال، رهن، اجاره یا په کرایه ورکول د ځمکې غصب پېژندل شوي چې مرتکب د اړوندو قوانینو له حکمونو سره سم مجازات کیږي.
- په اسلامي فقه کې غصب داسې تعریف کړی، یو متقوم یا قیمت لرونکی او ارزښت لرونکی مال د مالک له اجازې پرته اخیستو ته وایي، په داسې طریقې چې د مالک له لاسه ووځي.
- په دې تعریف کې مال متقوم یا ارزښت لرونکی مال یاد کړی، نو دې سره شراب او خنزیر ووتل او په قانون کې غصب عام یاد شوی دی، که هغه ارزښت لرونکی وي یا نه وي، که خنزیر وي یا شراب وي چې چا غصب کړ نو له هغه سره به قانوني چلند کیږي.
-

# وړاندیزونه

د افغانستان د ځمکوالۍ چارو د تنظیم قانون حکمونه د اسلامي فقهې په رڼا کې د دغه تېزس (تحقیق) په پای کې لاندې ټکي پېشنهادوم:

۱. علمي تحقیق د ژوند په ټولو چارو کې ضروري ده او په دې برخه کې باید لا نور تحقیق او څېړنې وشي.

۲. د ځمکوالۍ چارو پورې اړوند موضوعات اکثره په کلیوالو سیمو کې ډېر رامنځته کېږي، کلیوالو سیمو وګړو لپاره دې د پوهاوي ورکشاپونه د قانون او اسلامي شریعت په رڼا کې دایر شي.

۳. حکومت باید د ځمکو پورې اړوند شخړو د حل لپاره یو اسان او لنډ پروسیجر وړاندې کړي، چې ترڅو په کم وخت سره یوه شخړه حل کړی شي.

۴. دا چې د ځمکو پر سر ډېرې شخړې په میراث او په دې پورې نورو اړوندو موضوعاتو رامنځته کېږي، باید زموږ د جومات ملا امامان د جمعې او اخترونو په لمونځو په تقریرونو کې د میراث په اړه د ممبر د لارې عامه پوهاوی ترسره کړي، د اسلامي شریعت احکام خلکو ته بیان کړي.

۵. همدارنګه حکومت باید د ځمکوالۍ چارو په تنظیم قانون نوې کتنه وکړي، هغه موضوعات د اسلامي شریعت سره په ټکر کې دي باید ترې حذف شي او نور هغه موضوعات چې د دې ټولنې اړتیا لیدل کېږي باید په کې ځای پرځای شي.

ألف: د نوي عصر ځوانانو ته باید په پښتو ژبه د قانونپوهنې معلومات وړاندې کړای شي، ترڅو د تخلف او قانون ماتونې مخنیوی وشي.

ج: له علماوو څخه هیله ده چې معتبر او معتمد کتابونه پښتو ژبې ته وژباړي، ترڅو د مطالعې خاوندان معلومات ترلاسه کړي، ځکه دا پر موږ د خپلو ولسونو صمیمه حق هم دی.

د: د محصلانو څخه هیله کوم چې د خپلو لیکنو په تر سره کولو کې د پوره دقت

ځکه کار واخلي او خپلي ليکني د الله جل جلاله د رضا تر لاسه کولو او ټولني ته د خدمت کولو په موخه وکړي.

ذ: د افغانستان عدليې وزارت بايد غصب مخنيوي لپاره اشد مجازات وټاکي او د غاصبينو په وړاندې لازم اقدامات وکړي او د مغصوبينو حقوق دې پر وخت ور وسپاري، کومې دوسيې چې د غصب اړوندې په قضاتو سره ثبت دي بايد جدي پاملرنه وکړي، تر څو په راتلونکي کې نور خلک ترې عبرت واخلي او له دې کړنې ځانونه وساتي.

همدارنګه د ځمکولې چارو په قانون کې نوې کتنې وکړي او ځينې د اشد مجازاتو مادې پکې اضافه کړي.

د هيواد د قانون ګذارۍ څخه د تقنين په برخه کې په کلکه دفاع وکړي او متخلفينو په وړاندې دې عاجل اقدامات ترسره کړي.

د سلام پوهنتون د رهبري څخه هيله لرم چې محصلانو ته د تيزس ليکلو سهولتونه ايجاد کړي.

ر: همدارنګه د استادانو څخه هيله کوم چې د محصلانو سره پوره همکاري وکړي او د لازمو اصلاحاتو لارښوونه ورته وکړي.

پر اسلامي نظام د غصب شوو ځمکو بېرته راګرځول لازم دي، ځکه چې لا هم دا يوه اساسي او لويه ستونزه ګڼل کېږي، چې اوس د اسلامي امارت د بيا واکمنېدو وروسته د امير المؤمنين له خوا د ځمکو د غصب مخنيوي او غصب شويو ځمکو د استرداد مقرره د ۱۴۰۱هـ ق کال د لړم د مياشتې په (۱۴) مه نېټه خپره شوې ده، بېلابېلې دولتي ځمکې د غاصبينو څخه بېرته راګرځول شوي دي.

# د قراني ايتونو فهرست

| ګڼه | آيت برخه | سورت | ايت نمبر | مخکنه |
|---|---|---|---|---|
| ١. | {يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اَنْفِقُوْا مِنْ طَيِّبٰتِ مَا كَسَبْتُمْ} | البقرة | ٢٦٧ | ٥١ |
| ٢. | {وَلاَ تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ} | البقرة | ١٨٨ | ٧٧ |
| ٣. | {فمن اعتدى عليكم، فاعتدوا عليه بمثل ما اعتدى عليكم} | البقرة | ١٩٤ | ١١۶ |
| ٤. | {لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتّٰى تُنْفِقُوْا مِمَّا تُحِبُّوْنَ} | آل عمران | ٩٢ | ٥٨ |
| ٥. | {وَ لَا تُؤْتُوا السُّفَهَآءَ اَمْوَالَكُمُ الَّتِیْ جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ قِیٰمًا وَّ ارْزُقُوْهُمْ} | النساء | ٥ | ۴٣ |
| ٦. | {كُلُوْا مِنْ رِّزْقِ رَبِّكُمْ وَ اشْكُرُوْا لَهٗ ؕ بَلْدَةٌ طَیِّبَةٌ وَّ رَبٌّ} | السبا | ١٥ | ۴٣ |
| ٧. | {یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْۤا اَمْوَالَكُمْ بَیْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ} | النساء | ٢٩ | ۴۴ |
| ٨. | {يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ} | النساء | ١١ | ۴٩ |
| ٩. | {يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ إِنِ امْرُؤٌ هَلَكَ} | النساء | ١٧٦ | ٥٠ |
| ١٠. | {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ} | النساء | ٢٩ | ٩٨ |
| ١١. | {وَّ اٰتُوْهُمْ مِّنْ مَّالِ اللّٰهِ الَّذِیْۤ اٰتٰىكُمْ ؕ} | النور | ٣٣ | ٣٥ |
| ١٢. | [قَالَ لَوْ شِئْتَ لَتَّخَذْتَ عَلَيْهِ اَجْرًا] | كهف | ٧٧ | ٨١ |
| ١٣. | {وَ الَّذِیْنَ فِیْۤ اَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُوْمٌ ۪ۙ لِّلسَّآىِٕلِ وَ الْمَحْرُوْمِ ۪ۙ} | المعارج | ٢۴ | ٣٥ |

# د نبوي احاديثو فهرست



| گڼه | حدیث برخه | کتاب | حکم | |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | «فيما سقت السماء والعيون، أو كان عَثَرياً العشر» | البخاري | صحيح | ۲۶ |
| ۲ | من احيا ارضاً ميتةً فهی له | البخاری | الصحيح | ۳۶ |
| ۳ | (من اعمر ارضاً ليست لاحدٍ فهو احقُ) | البخاري | صحيح | ۳۶ |
| ٤ | (من سبق الى ما لم يسبقه اليه فهو مسلمُ فهو له). | السنن الكبرى للبيهقي | صحيح | ۳۶ |
| ٥ | (أَلْحِقُوا الْفَرَائِضَ بِأَهْلِهَا فَمَا بَقِيَ فَهُوَ لِأَوْلَى رَجُلٍ) | البخاري | صحيح | ۴۴ |
| ٦ | «من أحيا أرضاً ميتة فهي له» | البخاري | صحيح | ۴۶ |
| ۷ | «إن شئت حبَّست أصلها، وتصدقت بها» | البخاري | صحيح | ۵۰ |
| ۸ | «إذا مات ابن آدم، انقطع عمله إلا من ثلاث: صدقة» | مسلم | صحيح | ۵۲ |
| ۹ | «وأما خالد، فإنكم تظلمون خالداً، فإنه احتبس أدرعه وأعتده في سبيل الله» | البخاري | صحيح | ۵۲ |
| ۱۰ | ( إِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ كَحُرْمَةِ) | مسلم | صحيح | ۷۸ |
| ۱۱ | (من أخذ شبراً من الأرض ظلماً، فإنه يطّوقه يوم القيامة من سبع أرضين) | البخاري | صحيح | ۷۸ |

# مأخذونه


١) القران الكريم.

٢) ابن أمير الحاج: محمد بن محمد الحنبلي، چاپ كال: ١٤١٩هـ/١٩٩٩م، التقرير والتحبير، وتحقيق: عبد الله محمود محمد عمر، ناشر: دار الكتب العلمية – بيروت، طبع: لومړی.

٣) ابن رشد الحفيد: أبو الوليد محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد بن رشد القرطبي الشهير (وفات: **٥٩٥**هـ)، بداية المجتهد ونهاية المقتصد تاريخ نشر: **١٤٢٥**هـ - **٢٠٠٤** م، ناشر: دار الحديث – القاهرة.

٤) أبو القاسم، محمد بن أحمد بن محمد بن عبد الله، ابن جزي الكلبي الغرناطي (وفات: **٧٤١**هـ) القوانين الفقهية.

٥) ألباني: ناصر الدين محمد ، تحقيق: زهير الشاويش طبع: دوهم، چاپ كال: **١٤٠٥** هـ - **١٩٨٥** م إرواء الغليل، چاپ: المكتب الاسلامي بيروت.

٦) البجيرمي: سليمان بن محمد بن عمر المصري الشافعي (وفات: ١٢٢١هـ)، تاريخ نشر: **١٤١٥**هـ - **١٩٩٥**م، تحفة الحبيب على شرح الخطيب = حاشية البجيرمي على الخطيب ناشر: دار الفكر.

٧) البخاري: علاء الدين عبد العزيز بن أحمد كشف الأسرار تحقيق عبد الله محمود محمد عمر. ناشر دار الكتب العلمية، چاپ كال: **١٤١٨**هـ - **١٩٩٧**م.

٨) البخاري: محمد بن إسماعيل أبو عبد الله الجعفي، صحيح البخاري، محقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، بيروت، دار طوق النجاة، لومړی چاپ. دار الكتب العلمية.

٩) البلخي، نظام الدين په مشرۍ د هند يو شمير العلماوو ليكلى دى، الفتاوى الهندية، چاپ: دار الفكر، طبع: دوهم، چاپ كال: ١٣١٠هـ.

١٠) البهوتي: منصور بن يونس بن إدريس ، وفات (١٠٥١هـ) طبع كال: ١٤٠٢هـ، كشاف القناع، تحقيق: هلال مصيلحي ا مصطفى هلال، ناشر: دار الفكر – بيروت.
١١) حقوقي اصطلاحاتو قاموس. كابل پوهنتون. چاپ كال ١٣٨٧ هـ ش
١٢) خطيب بغدادى: دكتور محمد على ، وقف درآئنه فقه وقانون، چاپ مركز تحقيقات علوم اسلامى امام قتيبه بغلانى.
١٣) د افغانستان اسلامي امارت، عدليې وزارت. (١٤٢١هـ ق) پرلپسې گڼه (٧٩٥). د افغانستان اسلامي امارت د ځمكوالۍ چارو د تنظيم قانون.
١۴) د افغانستان اسلامي جمهوريت، عدليې وزارت. (١٣٨٧هـ ش) پرلپسې گڼه فوق العاده گڼه (٩٥٨). د ځمكوالۍ د چارو د تنظيم قانون.
١۵) د ملكيت حق. (ب ت). ترتيب: چكي دفتر، حقوقو څانگه، عدالت پروژه.
١٦) الدر المختار، لابن عابدين حاشية رد المحتار علي الدر المختار، لابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي. بيروت: دار الفكر.
١٧) دكتر سيد احمد على هاشمى و دكتر ابراهيم تقى زاده .حقوق اموال ومالكيت.
١٨) دهلوي: كفايت المفتي، فتاوى مفتي كفايت الله ، چاپ: مكتبه اعزازيه پشاور.
١٩) الرحيبانى: مصطفى بن سعد بن عبده السيوطي شهرة، مولدا ثم الدمشقي الحنبلي (وفات: ١٢۴٣هـ) چاپ كال: ١۴١۵هـ - ١٩٩۴م، غاية المنتهى، ناشر: المكتب الإسلامي، طبع: دوهم.
٢٠) الرملي: شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة شهاب الدين (وفات: ١٠٠۴هـ)، چاپ كال: -١۴٠۴هـ/١٩٨۴م، نهاية المحتاج، ناشر: دار الفكر، بيروت.
٢١) الزحيلي: أ.د. وَهْبَة، أستاذ ورئيس قسم الفقه الإسلاميّ وأصوله، بجامعة دمشق، الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلّتُهُ الشّامل للأدلّة الشّرعيّة والآراء المذهبيّة وأهمّ النّظريّات

الفقهيّة وتحقيق الأحاديث النّبويّة وتخريجها ، ناشر : دار الفكر - سوريّة – دمشق ، طبع: دار الفكر ، چاپ ځای: دمشق.
۲۲ ) السرخسي شمس الدين أبو بكر محمد بن أبي سهل، المبسوط، تحقيق: خليل محي الدين الميس، ناشر: دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت، لبنان.
۲۳ ) الشربيني: شمس الدين، محمد بن أحمد الخطيب الشافعي (وفات: ۹۷۷هـ)، چاپ کال: ۱۴۱۵هـ-۱۹۹۴م، مغني المحتاج، ناشر: دار الكتب العلمية، طبع: لومړی.
۲۴ ) عبد الغني بن طالب بن حمادة بن إبراهيم الغنيمي الدمشقي الميداني الحنفي (وفات: ۱۲۹۸هـ) اللباب شرح مختصر الكتاب، تحقيق وحواشي: محمد محيي الدين عبد الحميد ، ناشر: المكتبة العلمية، بيروت –لبنان.
۲۵ ) عدليې وزارت، رسمي جريده (۱۳۹۲). پرلپسې (۱۲۵۴) ګڼه، د ځمکوالۍ چارو د تنظيم قانون.
۲۲ ) العسقلاني: أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل الشافعي، الفتح الباري شرح البخاري، ناشر: دار المعرفة - بيروت، ۱۳۷۹، رقم وأبواب وأحاديث: محمد فؤاد عبد الباقي، تخريج: محب الدين الخطيب، تعليق: عبد العزيز بن عبد الله بن باز.
۲۷ ) فخر الدين عثمان بن علي الزيلعي الحنفي. تبيين الحقائق، ناشر دار الكتب الإسلامي، چاپ کال: ۱۳۱۳هـ ، چاپ ځای: القاهرة مصر.
۲۸ ) القادري: شيخ القران ډاکټر محمد طاهر. اسلام کا تصور ملکيت. ص۷۰. منهاج القران پرنټرز لاهور. د چاپ کال ۲۰۰۸ م
۲۹ ) قانت: دکتور فخر الدين، ګهيځ خپرندويه ټولنه، د ميراث علم.
۳۰ ) الكاساني: علاء الدين ابي بكر بن مسعود ، البدائع الصنائع في ترتيب الشرائع. ناشر : دار الكتب العلمية.
۳۱ ) كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي المعروف بابن الهمام (وفات: ۸۲۱هـ) فتح القدير، چاپ: دار الفكر.

٣٢ ) كاتوزيان: دكتور ناصر. اموال ومالكيت.
٣٣ ) الماوردي أبو الحسن علي بن محمد بن محمد بن حبيب البصري البغدادي، الشهير بالماوردي (وفات: ٤٥٠هـ) الأحكام السلطانية ناشر: دار الحديث – القاهرة.
٣٤ ) مجلة الاحكام العدليه د فقهي مسايلو د قواعدو مجموعه.لومړى ټوك ١٣٨١ ه ش.
٣٥ ) المرغيناني: علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني ، أبو الحسن برهان الدين (وفات: ٥٩٣هـ) محقق: طلال يوسف ناشر: دار احياء التراث العربي - بيروت – لبنان الهداية في شرح بداية المبتدي.
٣٦ ) المقدسي: عبد الرحمن بن محمد بن أحمد بن قدامة الجماعيلي الحنبلي، أبو الفرج، شمس الدين (وفات: ٦٨٢هـ) ، الشرح الكبير ، ناشر: دار الكتاب العربي للنشر والتوزيع، تحقيق: محمد رشيد رضا صاحب المنار.
٣٧ ) المهذب في فقه الإمام الشافعي، إبراهيم بن علي بن يوسف الشيرازي أبو إسحاق، چاپ: بيروت.
٣٨ ) ندوى: استاد راشد حسين. فقه ميسر .مترجمان استاد عبد الروف مخلص او سيد جمال الدين هروى.
٣٩ ) نظام الدين عبد الله، حقوق عينى. انتشارات سعيد. چاپ سوم ١٣٩٠ ه ش.
٤٠ ) النووي: أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف (وفات: ٦٧٦هـ) ، روضة الطالبين، محقق: عادل أحمد عبد الموجود - على محمد معوض، الناشر: دار الكتب العلمية.
٤١ ) وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية – الكويت، طبع كال: ( ١٤٠٤ - ١٤٢٧ هـ ) ، الموسوعة الفقهية الكويتية.

## Abstract

Just as Allah almighty has created a group of human beings and has sent his massengers to themto live a good life, to show show them ways to do good deeds and to forbid bad deeds, and some such issues. which regulates the various apects of human life, has left the authority and authority to human beings so that they can think and create laws for the betterment of thire lives that are not against islamic jurisprudence, so the landlord of Afghanistan the law on the organisation of affairs is considered one of the important laws that we need to study and detail in order to indentify the law on the organisation of the affairs of the landlord, the history of the law on the organisation of the affairs of the landlord, the organisation of the affairs of the landlord. The comparison of the law with Islamic jurisprudence and many other topics related to the law on the organisation of landlord affairs should be examined in the light of islamic jurisprudence. in the law that mentions the defination of property is mentioned, the word `Aqar` is not mentioned in them. in the dwfination of Islamic jurisprudence, it is mentioned that benefit and interest are included in the real estate itself, but in this sentence , only the owner of the real estate. can dispose islamic jurisprudence and law are the same. the issues of changes in the absence of property is not clear in the civil law of Afghanistan , there is no such issues in the civil law of Afghanistan , and all the jurists, whether sunni or shia, Have discussed this issues a lot, but the civil law of Afghanistan this topic is not a solution to thus issues there is a gap in the civil liability law that needs to be fixed. key term lease, lease , law, jurisprudence, property, owner, common land and usurpation.

Islamic Emarat of Afghanistan

Ministry of Higher Education

DM of Academic Affairs

Salam University

Faculty of Sharia and law

Master Program

in feqha and law

# The provisions of the law of Afghanistan land management in the light of Islamic jurisprudence

by: Abdul Hadi

Ticher: wazir Muhammad (saidee)

A master s thesis

year ٢٠٢٤

Salam University
Faculty of Shreya and Law
Department of Jurisprudence and Law

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Higher Education
Private Universities presidency

# The Prevision of the law of Afghanistan Land Management in the light of Islamic Jurisprudence

A master's thesis

Student: Abdul Hadi

Advisor: Wazir Mohammad "Saidee"

Year:..........2024